د خوشال خان خټک د زوکړې د څلورسومې کالیزې په ویاړ

پښتو غږ پوهنه او ویپوهنه

(فونولوژي ــ مور فولوژي)

لیکوال

پوهنوال محمد صابر خویشکی

۱۳۸۰ ل ــ ۲۰۰۱ م کال

پښتو غږ پوهنه او ویېپوهنه

(فونولوژي ـ مور فولوژي)

PROPERTY OF ACKU 9780

لیکوال

پوهنوال محمد صابر خویشکی

۱۳۸۰ ل ـ ۲۰۰۱ م ال

بسم الله الرحمن الرحيم

ځانګړني

دکتاب نوم : پښتو غږ پوهنه او ويېپوهنه

ليکوال : پوهنوال محمد صابر خويشکی

خپرندوی : دافغانستان کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

دخپرونو لړ : (۳۲)

چاپچاری : عبدالغني هاشمي

کمپوز : کاوون کمپيوټر/ جلال اباد افغانستان

کمپوزر : عبدالهادي شېرين

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال : ۱۳۸۰ل ـ ۲۰۰۱ م کال

دخپرندویې ټولنې یادښت

دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې له ګڼو فرهنګي هدفونو څخه یو هدف دادی چې په پښتو ژبه یوشمېر داسې کتابونه چاپ کړي چې د هېواد په تعلیمي او تحصلي نصاب کې شامل وي.

ددې کار ګټه داده چې یوخوبه زده کوونکوته درسي کتاب ورسېږي اوله پرله پسې نوټ اخیستنې به بېغمه شي او بل به زموږ ژبه علمي او تدریسي ارزښت پیداکړي.

دښاغلي پوهنوال محمدصابر خویشکي داعلمي اثر (پښتوغږ پوهنه او ویپوهنه) زموږ دهمدې لړۍ یواثر دی چې دکابل پوهنتون په تحصیلي نصاب کې شامل دی. موږ په داسې حال کې چې ښاغلي پوهنوال استاد محمد صابر خویشکي ته ددې اثر دچاپ له امله مبارکي وایو، هیله لروچې زموږ په ژبه ګڼ شمېر علمي اثار ولیکل شي او خپروندویې ټولنې او فرهنګپال افغانان یې دچاپ کار شونی کړي.

په درنښت

دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

دموضوعاتو نيو ليك

موضوع	مخ
سرخبري	الف،ب
سريزه	ج
لومړى څپركى	
ژبه او گرامر	۱
ژبه څه راز پديده گڼل كېږي؟	۱
پښتو ژبه	۳
گرامر	۵
د موضوعاتو لنډيز او پوښتنې	۷
دويم څپركى	
پښتو فونولوژي	۱۰
فونيم څه ته وايي؟	۱۱
فو نيم او گرافيم	۱۱
پښتو فونيمونه او د هغه ډولونه	۱۱
خپلواك يا واول غږونه	۱۱
بېواك يا كانسوننټ غږونه	۱۳
نيم واك يا سيمي واول غږونه	۱۵
غبرگغږونه Diphthoings	۱۵
دموضوعاتو لنډيز او پوښتنې	۱۷
دريم څپركى	
پښتو مورفولوژي	۱۹
مورفيم څه ته وايي ؟	۱۹

موضوع	مخ
دمورفيم جوړښت	۱۹
مورفيم او څپه	۲۰
مورفيم او کليمه	۲۱
د موضوعاتو لنډيز او پوښتنې	۲۱

څلورم څپرکی

دمورفيوم ډولونه	۲۳
نا خپلواك (مقيد مورفيمونه)	۲۳
سربلونه (پيشينه ها) او ستربلونه (پسينه ها)	۲۵
ادات	۲۶
ارتباطی ادات	۲۶
تشبيهي ادات	۲۷
د عطف ادات	۲۷
اضافت	۲۷
تاړي (وندونه)	۲۷
مختاړي (پېشوند)	۲۷
روستاړي (پسوند)	۲۸
دموضوعاتو لنډيز او پوښتنې	۳۱

پنځم څپرکی

خپلواك (نامقيد مورفيمونه)	۳۴
نوم	۳۴
دنوم ګرداني اړخونه	۳۴
جنس	۳۴
عدد	۳۹
حالت	۴۵

موضوع	مخ
فاعلي حالت	۵۰
بې واسطه مفعولي حالت	۵۲
بالواسطه مفعولي حالت	۵۲
اضافي حالت	۵۴
ندايي حالت	۵۵
دنوم څلورګوني ډلې (اسم ـ ضمير ـ صفت ـ عدد)	۵۷
داسم ډولونه	۵۷
ذات اسم	۵۷
معنى اسم	۵۷
خاص اسم	۵۷
عام اسم	۵۷
جنس اسم	۵۷
جمع اسم	۵۸
صوت اسم	۵۸
صفت او د هغه ډولونه	۵۸
عادي صفت	۵۸
مقايسي (پرتليز) صفت	۵۸
د صفت او موصوف ګرداني مطابقت	۵۸
عدد	۶۰
دعدد او معدود ګرداني مطابقت	۶۰
ضمير	۶۱
ضمير او دهغه ډولونه	۶۱
شخصي ضميرونه	۶۱
ملكي ضميرونه	۶۲
اشاري ضميرونه	۶۳

موضوع	مخ
استفهامي ضميرونه	۶۴
پلوي (سمتي) قيدي ضميرونه	۶۵
مبهم ضميرونه	۶۵
اشتراکي ضميرونه	۶۶
دموضوعاتو لنډيز او پوښتنې	۶۷
شپږم څپرکی	
قيد	۶۹
دقيد ډولونه	۶۹
اصلي قيدونه (نه ګرانېدونکي)	۶۹
دزمان قيد	۶۹
دمکان قيد	۶۹
دحالت قيد	۷۰
ګرانېدونکي قيدونه	۷۰
له لازمي فعل سره	۷۰
له متعدي فعل سره	۷۰
دموضوعاتو لنډيز او پوښتنې	۷۲
اووم څپرکی	
فعل	۷۴
د فعل ګرداني اړخونه	۷۴
شخص	۷۴
عدد	۷۵
جنس	۷۶
دفعل وجه	۷۷
دفعل صيغه	۷۸

موضوع	مخ
لازمي او متعدي فعلونه	۷۸
دفعل اصل (ريښه)	۸۳
دپښتو فعلونو ډلبندي د هغوي د اصل پر اساس	۸۴
لومړی ډله فعلونه چې په تېره او ناتېره زمانه کې يوه ريښه لري	۸۴
دويمه ډله فعلونه چې ريښه يې په تېره او ناتېره زمانه کې خپله بڼه اړوي	۸۴
دريمه ډله فعلونه (ترکيبي) چې له (نوم صفت + کېدل + کول) ۱۰۱ څخه رغېدنه موندلې ده	
دفعل زمانه	۱۱۳
ماضي فعل او د هغه ډولونه	۱۱۳
مطلقه ماضی	۱۱۳
استمراری ماضي	۱۱۴
نږدې ماضي	۱۱۵
لرې ماضي	۱۱۵
احتمالي يا (التزامي ماضي)	۱۱۶
حال فعل	۱۱۶
مستقبل فعل	۱۱۷
امر فعل	۱۱۸
دموضوعاتو لنډيز او پوښتني	۱۱۹
نتيجه او وړانديزونه (پېشنهادونه)	۱۲۲
اخځليك (ما خذ)	۱۲۶

لومړنۍ خبرې

پښتو څانګې استادانو د ۱۳۷۵ کال د غبرګولي د میاشتې د ۱۵ نېټې په غونډه کې ماته دنده وسپارله چې د پوهنوالۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره د (پښتو فونولوژي - مورفولوژي) تر سرلیک لاندې د نورو څانګو له پاره یو درسي کتاب ولیکم، نوموړې موضوع د ژبو او ادبیاتو پوهنځي دعلمي شورا د (۷۵/۳/۱۵) نېټې په غونډه کې هم تائید او تصویب شوه.

مادغه موضوع په اوو څپرکو کې ولیکله،څرنګه چې درنو لوستونکو ته څرګنده ده پښتو ژبه د آریایي ژبو په ستره کورنۍ پورې یوه اړونده ژبه ده چې د تاریخ په اوږدو کې یې د ګرامري اړخ له پلوه له زاړه پېر څخه تر اوسه پورې ډېر لږ ساده والی موندلی او خپله زړه جوله یې لږ و ډېر خوندي ساتلې ده. د پښتو ژبې هغو زده کوونکوته چې مورنۍ ژبه یې پښتو ده او په پښتو خبرې کوي څرګنده ستونزه نه لیدل کېږي که موږ دري ژبې زده کوونکي په نظر کې ونیسو ، دپښتو ژبې د زده کړې په برخه کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږي. خو ما د هغو تېرو درسي تجربو په رڼا کې چې په نورو څانګو کې د پښتو ژبې د تدریس په برخه کې لرلې د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې د شاګردانو ستونزې راته ښې څرګندېږي ، خوله نېکه مرغه چې د څانګې درنو استادانو ماته دنده راوسپارله چې د پورته ستونزو دحل له پاره یو درسي کتاب د پورتني سرلیک لاندې ولیکم. دادی ګرانو لوستونکو ته دغه لیکنه مخکې ږدم او ددې لیکنې د لاښه کره والي لپاره ددوی مشورو او لارښوونو ته سترګې په لار یم.

خو له هر څه نه مخکې د ډېر محترم پوهاند صاحب یمین څخه د زړه له کومې مننه کوم چې له ما څخه یې خپلې عالمانه لارښوونې نه دي سپمولي او

په ډېره سره سینه یې زما لیکنه لوستلې او بشپړه کړې ده. همدارنګه د ښوونې او روزنې پوهنځي د محترم استاد پوهاند صاحب حکیم، د دري څانګې محترم استاد پوهاند صاحب قویم او له محترم استاد پوهنوال جلال الدین خان څخه د زړه له کومې مننه کوم چې خپلې عالمانه لارښوونې یې را څخه نه دي سپمولې.

په درنښت
پوهندوی محمد صابر خویشکی

سریزه:

دژبې ګرامر د ژبې د جوړښت علمي تشریح ده چې د ژبپوهنې یوه څانګه بلل کېږي.

که څه هم ژبپوهنه یوه نوې پوهه او دشلمې پېړۍ له نوښتونو څخه ګڼل کېږي. خو د ژبپوهنې دا برخه یعنې د ژبې ګرامر پخوانی او اوږد تاریخ لري.

په عمومي توګه ګرامر لیکنې بېلا بېلې مرحلې تېرې کړې دي او ددغو مراحلو په اوږدو کې د بېلا بېلو میتودونو او طرز العملونو له امله د ګرامر زیات ډولونه منځ ته راغلي دي.

چې په عمومي توګه په لاندې ډول دي.

کلاسیک او دودیز ګرامرونه – پرتلیز او تاریخي ګرامرونه – ساختماني تشریحي او ګزارشي ګرامرونه.[۱]

دپښتو ژبې د ګرامرونو په لیکنه کې پخواني دودیز او مروج میتود دا و چې هر یوه ګرامر لیکونکی بـه د خپل ذوق او سیلقې پـه اساس او یـا د نورو ژبو د ګرامرونو څخه په تقلید د کلیمې ډولونه، د کلیمو اشتقاق د هغوی ډلبندي او لږ څه ډېر به د هغوی په تصریف غږېدل.

ددې کار څخه ددوی موخه او هدف دا و چې یو لـړ اصـول او قواعـد لـږ ستونکوته وړاندې کړي تر څوددغو قواعدو په رڼا کې دوی پخپلو خبرو او لیکنو کې له تېروتنو څخه وساتل شي دا کار په خپل وخت او دهغه زمان د مطالعاتو په رڼا کې دقدر وړ دی او ددوی دغو لیکنو او څېړنو موږ ته ډېر مواد د راتلونکو څېړنو له پاره پرې ایښي دي. کـه چېرې موږ د پښتو ژبې په لیکلو شوو ګرامرونو باندې نظر واچوو د تاریخي سیر او د هغه وخت او مهال د غوښتنو سره سم د پښتو ژبې په ګرامر لیکنه کې د لاندې میتودونو څخه

---

(۱) محمد حسین یمین دستور زبان دری . کابل: دژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱ مخ

کار اخیستل شوی دی.

۱- د عربي پوهانو دمیتودونو پر بنا گرامر لیکنه.

داخو یوه څرگنده او جوته خبره ده چې د اسلام د سپیڅلي دین له خپرېدو سره سم د اسلامي نړۍ د فرهنگ او څېړنو لړۍ د نړۍ د زیاتره هیوادونو او په ځانگړي توگه هغه هیوادونم چې د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شوي وو په چټکتیا سره پرمخ روانه وه.
همدارنگه زموږ پوهانو او څېړونکو د اسلام د سپیڅلي دین له خپرېدو وروسته د هر علوم او د ژبني فتوان د عربي پوهانو په پیروۍ لیکلي دي او حتی د هغوی په وده او تکامل کې ستره ونده هم اخستې ده نو بنا پردې زموږ گرامر لیکونکو هم د گرامر د څېړنې او لیکنې په برخه کې د عربي ژبې له صرف او نحوې څخه پیروي کړې ده او دغه لیکونکو د عربي صرف او نحوې کتابونه د خپلو څېړنو او مطالعاتو اساس گرځولي دي. خو یوه خبره چې باید له یاده ونه باسو هغه داده چې پښتو ژبه د هندوارو پايي ژبو د سترې کورنۍ یوه ژبه ده او ددغې ژبې جوړښتي نظام د عربي ژبې ساختماني څخه چې د سامي ژبو په سترې کورنۍ پورې اړه لري توپیر لري.

۲- د غربي پوهانو د میتود پر بنسټ گرامر لیکنه:

په معاصره دوره کې کله چې پښتانه څېړونکي او پوهان د غربي تمدن او فرهنگ سره اشنا شول او په ځانگړې توگه هغو مستشرقینو چې د پښتو ژبې او ادبیاتو سره بلدتیا پیدا کړه او د پښتو ژبې او گرامر په برخه کې یې څېړنې وکړې نو د پښتو ژبې په گرامر لیکنه کې دغه میتود رواج وموند.
په اروپا کې لومړنی قوم چې په گرامر لیکنه یې پیل کړی دی هغه یونانیان دي. دغو پوهانو د انساني ژبې په مبتدا، او د تفکر او خبرې کولو

پراړیکو باندې فلسفي بحثونه کړي دي او د فلالوژۍ اوسنی اصطلاح هم چې د (ژبې په علم) باندې اطلاق کېږي دوی وضع کړې ده.(۱) د روم د تمدن په دوره کې رومي پوهانو د لاتیني ژبې د ګرامر په لیکنه کې د یونانیانو څخه پیروی کړې ده. رومیانو عقیده درلوده چې ددغو قاعدوي ګرامرونو په لیکلو سره به یې عیبه وینا او لیکنه خلکو ته زده کوي. په منځنۍ پېړۍ کې نورو اروپایي پوهانو هم په ګرامر لیکنه کې ددغه میتود څخه کار اخیستلی دی.

ارسطو د افلاطون پر خلاف عقیده درلوده چې ژبه یوه فطري پدیده نه بلکې یوه ټولنیزه او اتفاقي پدیده ده. ارسطو لومړنی سړی چې د کلیمو تصنیف او ډلبندي یې منځ ته راوړې ده او دکلام او وینا توکونه یې په درو برخو (نوم -فعل او حرف) باندې ویشلي دي. رومي ګرامر لیکونکو هم د ژبې د قواعدو او تشریح په برخه کې د یوناني ګرامر لیکونکو له اصولو او میتودونو څخه پیروي کړې ده، دغه رنګه ګرامر لیکنه په څپلوار سره عربي ګرامر لیکونکو هم رواج کړه لکه چې وینو د عربي ژبې څېړونکو او پوهانو د خپلې ژبې د جوړښت اجزاوې په همدغه (نوم فعل او حرف) وېشلي دي.

۳-دژبپوهنې داساساتو پر بنا ګرامر لیکنه:

دغه میتود د معاصرې ژبپوهنې د نوو نظریاتو او کشفیاتو پر بنا منځ ته راغلی دی. او د شلمې پېړۍ له پیل څخه وروسته په غربي هیوادونو کې رواج وموند او د وخت په تېرېدو سره د علمي اکتشافاتو او څېړنو په رڼا کې په معاصره ژبپوهنه کې عمومیت پیدا کړ.

ددغه میتود پیروان عقیده لري چې ((هره ژبه د ځانګړي ساختماني او دستوري نظام لرونکې ده)) او دوی عقیده لري چې ((هره ژبه باید بالذات او دبلې ژبې د جوړښت په نظر کې نیولو څخه پرته مطالعه او تشریح شي)) او

---

(۱) محمد رحیم الهام، روش جدید در تحقیق دستور زبان دری، کابل: پوهنځی ادبیات مطبعه دولتي ۱۳۴۹، ۴- مخ

داهم باید له یاده ونه باسو چې پرتلیز (مقایسي) ګرامر هغه وخت پیل شو چې پوهانو ته د قبل المیلاد د څلورمې پېړۍ په حدودو کې د پاڼیني ګرامر لاس ته ورغی. په اتلسمه پېړۍ کې په اروپا کې پوهانو او څېړونکو د سانسکریت ژبه زده کړه. سانسکریت ژبې سره داروپائیانو بلدتیا په ګرامر لیکنه کې نوی باب پرانیست. ځکه پوهانو ته دا جوته شو چې د سانسکریت او پخوانی یوناني او لاتیني ژبوتر منځ ګرامري او هم لغوي جوړښتونه ښکاره مشابهتونه او ورته والی لري نو ددغو مشابهتونو او د نوو څېړنو په نتیجه کې پرتلیزې څېړنې پیل شوې همدا ډول د ژبې پرتلیزې مطالعې سره جوخت د ژبې تاریخي مطالعه هم رواج شوه یو ډله پوهانو په دغه وخت کې د ژبو په تاریخي مطالعه پیل وکړ. ددغو مطالعاتو په نتیجه کې د ژبې درې ګونې (کلاسیک ، منځنی او معاصر) دورې تشخیص شوې.

د ژبې مطالعه د علمي پېړۍ په پیل کې یوې نوې مرحلې ته راوګرځېده چې ځینې پوهان دې نتیجې ته ورسېدل چې د ژبې مطالعه له دوو بېلا بېلو اړخونو څخه کېدای شي ، یوه د تاریخي اړخ له پلوه او بله د تشریحي اړخ له پلوه.

ځکه ژبه یوه داسې پدیده ده چې د تاریخ په اوږدو کې تغییر کوي او همدغه تغییرات چې په یو ټاکلي وخت او زمان کې کوي د ټاکلو قوانینو او ضوابطو په داخل کې عمل کوي

هرکله چې د ژبې د اوښتني (تغییر) قوانین له یوې مرحلې څخه و بلې مرحلې ته مطالعه شي د تاریخي ژبپوهنې په نامه یادېږي او له بله پلوه که چېرې د ژبې قوانین په ټاکلې زماني مرحله کې مطالعه او وڅېړل شي د تشریحي ژبپوهنې په نامه یادېږي او د ژبې ګرامر د تشریحي پوهنې له مباحثو څخه ګڼل کېږي یعنې د ژبې ګرامر یو تشریحي علم دی نه هدایتي او قاعدوي.

له پورتنیو لنډو څرګندونو څخه دا نتیجه لاس ته راځي چې د پښتو ژبې ګرامرونه کوم چې تر اوسه پورې لیکل شوي دي ددغو پورتنیو میتودونو څخه

اغېزمن ښکاري.

ځینې ددغو ګرامرونو څخه د عربي ژبې د ګرامرونو په تقلید او پیروی لیکل شوي دي چې البته د خپل وخت د څېړنو او مطالعاتو پر بنا د قدر وړ دي. خو ځینې نور داسې ګرامرونه هم شته چې د نوې ژبپوهنې د اصولو او معیارونو مطابق لیکل شوي دي،

خو کومه لیکنه چې اوس ګرانو لوستونکو مخې ته پرته ده. په دې لیکنه کې هڅه شوې ده داسې یو درسي کتاب ترتیب او وړاندې کړی شي چې ددری ژبې ورونو مشکل د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې څه نا څه رفع شي.

د ډېر وکلونو راهیسې چې د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې د تدریس دنده په غاړه لرم او په ځانګړي توګه هغه وخت چې ما د پښتو ژبې تدریس په نورو ځانګو کې په غاړه درلود د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې د زده کوونکو مشکل راته څرګندېده او په دې فکر کې وم چې دغه مشکل به څنګه په نسبي توګه حل کړم خو کله چې د ځانګې درنو استادانو فیصله وکړه او ما ته یې دنده راوسپارله چې زه به دوی ته د پښتو ګرامر (فونولوژي –مورفولوژي) تر سرلیك لاندې یو درسي کتاب ولیکم نو ما دخپلو کلو کلو د تدریس د تجربو څخه په ګټې اخستلو سره دغه کتاب ولیکه.

درنو لوستونکو ته څرګنده ده چې پښتو ژبه یوه ځان ساتې او محافظه کاره ژبه ده. په دې معنی چې دې ژبې خپله لرغونتیا او ځانګړیتوب ډېر تر اوسه پورې څه ناڅه ساتلې دی او دري ژبې د تاریخ په اوږدو کې د کلتورونو د امتزاج په لړ کې دغه ځانکرتیاوې له لاسه ورکړې دي او تغیرات یې منلي دي چې د بېلګې په توګه د جنس مسأله ده . د جنس له پلوه د فعل مطابقت له فاعل او مفعول سره د عدد او معدود مطابقت ،د صفت او موصوف مطابقت همدارنګه له فاعل او مفعول سره د قید مطابقت ، داسې مسایل دي چې دری ژبې د پښتو ژبې د زده کړې په وخت کې له ستونزو سره مخامخ کېږي. له بله پلوه د نوم اوړنې بڼې د دوی د اصلي او غیراصلي حالتونه هغه مسایل دي چې په دغه لیکنه کې د کره مثالونو په ورکولو سره تشخیص او څېړل

شوي دي.

د فعلو نو په برخه کې هم په کافي اندازه کار شوی دی . ما په دغه کتاب کې کم او زیات درې/ درې نیم سوه فعلونه راغونډ کړي دي او د هغوی د مورفولوژیکي ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره مې ډلبندي کړي دي او په مثالونو کې مې ښودلي دي.

چې البته دغه کار دري ژبې ته د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې مرسته کوي.

ښه به دا وي چې د کتاب د ټولو محتویاتو لوستني ته ګران لوستونکي راوبولم او ددوی راتلوونکي قضاوت ته سترګې په لار یم.

PROPERTY OF ACKU 9780

لومړی څپرکی

ژبه او ګرامر

۱- ژبه څه راز پدیده ګڼل کېږي؟

ژبه په واقیعت کې یوه ټولنیزه ، اکتسابي او ثقافي پدیده ده ، نه عضوي ، فطري او طبیعي . ددغې موضوع د ښه روښانتیا له پاره چې ژبه یوه طبیعي او فطري پدیده نه ، بلکې یوه ټولنیزه پدیده ده ، یو مثال راوړو: د ماشوم په لاره تګ یو طبیعي واقعیت دی ، د لارې تګ په عملیه کې انساني ټولنیز عادتونه ، دودونه یعنې ثقافت کوم نقش نه لري ، ځکه د ماشوم په وجود کې ځینې ځانګړي عناصر او مغلق عوامل په انفرادي توګه وجود لري چې د بیولوژي د علم له نظره د حیاتي توارث په نامه یادېږي، د همدغو عواملو له امله د ماشوم په بدن کې یو سلسله عصبي او عضلي فعالیتونه صورت نیسي او ددې سبب ګرځي چې ماشوم د ګرځېدو استعداد پیدا کړي. که څه هم دوینا اوخبرې کولو استعداد په انساني ورګړوکې جبلي دی ولی دغه استعداد په فطري او طبیعي توګه وده نه کوي.

البته د خبرې کولو استعداد په شرایطو پورې اړه لري چې یوازې او یوازې د انساني ټولنې پواسطه رامنځ ته کېدای شي. که چېرې یو انسان د ټولنې څخه لرې کړو په لاره تګ زده کوي خو د خبرې کولو زده کړه د ټولنې څخه بهر امکان نه لري . همدارنګه که چېرې یو نوی زېږېدلی ماشوم د خپل زېږنځای څخه یو پردي زېږنځای ته یوسو ، د خپل زېږنځای د خلکو په شان تګ کوي خو خبرې کول یې توپیر لري یعنې د هماغه خلکو ژبه زده کوي چې د هغو سره

ژوند کوي.

نو په پای کې ویلای شو چې ژبه د نښو د مجموعې په (توګه) ښه یوازې انسان پخپله ټولنه کې زده کوي چې د هغوی په مرسته خپل فکرونه، غوښتنې، خیالات او احساسات خپلو همځولو ته څرګندوي او په دې توګه د پوهولو او راپوهولو وسیله ګرځي.

په عمومي توګه د ټولنې دا فرادو تر منځ د مفاهمې هر ډول وسیله او اړیکې ژبه بلل کېږي [1] که دغه اړیکې په اشاروي توګه دي که د نښو او نورو لارو په صورت خو ژبه په خاص مفهوم سره د یو لړ اختیاري ویزو او اوریزو سمبولونو (علایمو) یوه مجموعه ده چې هر یو سیمبول یې زموږ د یو ذهني انځور نماینده ګي کوي. دا انځورونه د انساني چاپېریال او مهال ځیزونه او ځانګړتیاوې، پېښې او کړه وړه را اخلي او په دې توګه ژبه د انسانانو تر منځ د پوهولو یوه اله او وسیله ګرځي. [2] یا په بل عبارت ژبه د غږیزو او اوریزو نښو یوداسې کسبي او اتفاقي سیستم دی چې د یوې ژبې وګړي یې یوله بله د پوهولو له پاره پر ژبه راوړي او یو بل ته اوروي. په دې ځای کې له سیستم څخه مطلب دادی چې هره ژبه ځانته نظام او مشخص قواعد لري. صوتي (غږیز) په دې معنی چې د هرې ژبې اصلي او اساسي صورت وینا او خبرې کول دي. اکتسابي په دې معنی چې ژبه فطري یا طبیعي پدیده نه ده بلکې هغه کسب او زده کېږي. هغه هم په ټولنه کې. نښې او سیمبولونه په هره ژبه کې غږیز دي هغه په دې معنی چې د مفاهمې د و سایلو نور ډولونه لکه اشاره یې ژبه او د سیمبولونو ژبه د ژبې د علمي تشریح له پلوه او په خاص مفهوم سره ژبه نه بلل کېږي. [3]

۱-محمد حسین د ستور زبان دری کابل. کابل پوهنتون، ۱۳۶۵، ۲ مخ

۲-مجاور احمد زیار پښتو پښویه. کابل کابل پوهنتون، د لوړو زده کړو چاپخونه، ۱۳۶۲ و ۱۲۰ مخ

۳- محمد حسین دستور زبان دري کابل: کابل پوهنتون ۱۳۶۵، ۳

په ټولو ژبو کې دوینا واحد جمله ده او داد ژبې جوړوونکي عناصر دي چې عبارت دي له : جملې، کلیمې ، مورفیم، او فونیم څخه .

۱-۲ پښتو ژبه :

دا وسني افغانستان په خاوره کې دننه او د هغه په ګاونډیو نږدې سیمو کې ارکیا لوژیکي پلټنو او څېړنو او د هغو نتیجو څېړونکو ته دا ښودله چې افغانستان د لرغوني آریایي قومونو ځانګو او ټاټوبی وبولي.
تاریخي یو لړ موثق او څرګند آثار ددې شاهدي ورکوي چې د آریایي قبایلو لومړی ټاټوبی بلخ او د هندوکش دواړه خواوې دي او له دغه ځایه لومړی هندي اریایي قبایلو د ختیځ او ایراني اریایي قبایلو وریسې لویدیځ خواته مهاجرت وکړ او له دغه ځایه اریایي قبایل په څلورو ګروپو: هندي، ایراني، مرکزي یا باختري او دا ردي وویشل شول. څرنګه چې هندي اریائیانو نسبت ایراني قبایلو ته څو پېړۍ پخوا (تقریباً دوه زره قبل المیلاد) مهاجرت وکړ او ایراني قبایلو څو پېړۍ نور هم په باختر کې پاتې شول ځکه نو د باختري ژبو خپلوي دهندي ژبو په نسبت د ایراني (پیرسیکو/ میدیکو) ژبو سره زیاته ده. له دغه ځایه دو اړه ګروپونه کله کله د آریایي او درې واړه د هندو آریایي په نامه هم یادېږي.[*]
د آریایي ژبو وېش د تاریخ د زده کړې له پلوه له هغې مرحلې پیل کېږي چې هندوآریایي ټولنې سره بېلېږي . د میلاد څخه تقریباً دوه زره کاله پخوا د آریائیان (باختریان –پارسیان) د هندي آریایي ټولنې څخه جلا کېږي.[**]

مخ.
[*]دوست شینواری د افغانستان ژبې او توکمونه : کابل پښتو ټولنه دولتي مطبعه ۱۳۵۴ ، ۶ مخ
[**] همدغه اثر ۱۲ مخ.

د اریایي ژبو څانګې:

معاصره ژبپوهنه د تاریخي مقایسوي ژبپوهنې په حکم اریایي مړې او ژوندۍ ژبې او لهجې په دوو لویو لویو څانګو وېشي چې هره یوه یې بیا دوه دوه ښاخونه لري.

لومړی باختري الف. جنوبي باختري لکه ساکي ، پښتو ، او رمړي او پامیري ژبې.

ب. شمالي باختري لکه سوغدي ، یغنوبي ، خوارزمي ، الیاني ، اوسیتي.

دویم : ایراني ، الف، خبولي : لکه زړه پارسي منځنۍ پارسبي، نوې پارسي، تاتي، بختیاري ، کومزاري.

ب: شمالي (میدی) : کوردي ، بلوچي ، تالیشي،غلیاني (*)

باید وویل شي چې ددې ژبو دایو ډول وېشنه ده، خو پوهانو دا وېشنه په ډول ډول کړې ده پښتونن د نړۍ د نړدې هغو پنځو سو معتبرو ژبو په کتار کې ولاړه ده چې بډای ادبیات لري او د بشري ژیاتو وګړو د لیك او لوست ژبې دي لکه چې د ایراني ګروپ د ژبو په لړ کې یوازې دری دلیك او لوست ژبه ده په باختري ګروپ کې یوازې پښتو د لیك او لوست ژبه ده.

پښتو د توکم په باب پخوانۍ نظریه داوه چې پښتانه ګونډې د سامي توکم (بني اسرائیل) څخه دي چې دا نظریه د ګورګانیانو له درباره نشأت کوي . ددغې نظریې لومړی څرك په (مخزن افغاني) کې راغلی دی نعمت الله هروي جهانګیر پاچا د دربار واقعه لیکونکی چې غالباً (۱۰۲۰ هـ ق ۱۶۱۲)

(*)دوست محمد دوست د افغانستان ژبې او توکمونه کابل: پښتو ټولنه ، دولتي مطبه، ۱۳۵۴ کال. ۱۳۰ - ۱۳۰ مخونه

کې ليکلی دی ليدل کېږي . همدغه نظريه بيا دا فضل خان ختك په تاريخ ، مرصع د حافظ رحمت خان (خلاصه النساب) خورشيد جهان دقاضي عطا الله د پښتو تاريخ سرويليام جونز او راورټي او نورو هم تعقيب کړې ده . دغه نظريه چې پښتانه سامي نژاده دي تفصيل يې د پښتنو د تاريخ په بېلو بېلوآثارو او کتابونو کې راغلی دی د موجوده پوهنې او دتاريخي مقايسو ژبپوهنې له نظره دغه نظريات له افساني څخه زيات ارزښت نه لري . بشر چې د تاريخي واقعاتو او پېښو د هر تياره اړخونه د فني وسايلو په مرسته روښانه کړي دي . د نولسمې پېړۍ له پيله دا نظريه ورته پيداشوې ده چې پښتانه دبشري لويو کورنيو په ولکه کې دهندي اروپايي او په هغه کې اريايي باختري توکم دي دا نظريه د پښتو نخوا د لرغونو تاريخي اسنادو او دنورو ژبو سره دپښتو د پرتليز ې څېړنې په رڼا کې ثابته شوې ده.

۳-۱ ګرامر: Grammer

اوسنی ګرامر د تشريحي ژبپوهنې ستره څانګه ده چې ديوې ژبې يا دهغې ژبې د معياري بڼې د زده کړې د اسانتيا لپاره لوستل کېږي . د ګرامر اصطلاح د لاتيني او يوناني ژبې ګراماتيکي Grammatike له ريښې څخه راوتلې ده ، په انګريزي ژبه کې ګرامر Grammer اوپه روسي ژبه کې ګراماتيکه دی.

ګرامر د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ژبې مورفولوژيك (صرفي) اونحوي (سينتکس) جوړښت او ساختمان تر څېړنې لاندې نيسي يعنې د يوې ژبې د لغاتو د تغير شکلونه ، د هغوی ترکيب ، د جملو جوړښت او څرنګوالی مطالعه اوتشريح کوي . په ګرامري څېړنو کې ژبه د قوانينو تابع نه ګرځوله کېږي، بلکې ګرامر د ژبې قواعد څرنګه چې د هغې اصلي ويوونکي او غږېدونکي استعمالوي راباسي او تشريح کوي يې. په لنډه توګه ويلی شو چې ګرامر د يوې ژبې د رغاونې او ساختمان سيستم ترکتنې لاندې نيسي هره ژبه

ځانته ګرامري قوانين او لارې چارې لري نو ځکه د ژبې د ګرامرپه ليکنه کې خپله د هماغې ژبې قواعد او اساسات غوره ګڼل کېږي . ګرامر دژبې علمي او منظمه مطالعه ده.

دعلمي مطالعې څخه مطلب د يو منطقي طرزالعمل له تطبيق څخه عبارت دی. علمي څېړنه او مطالعه نه يوازې په طبيعي علومو پورې اړه پيدا کوي بلکې په ټولو علومو او حتی په ورځني موضوعاتو هم ارتباط پيدا کوي نو په دې توګه معاصر ګرامر ليکونکي د داسې ګرامر په طرحه لاس پورې کړی چې هغه د ژبې د عملي يوه بشپړه منطقي تشريح ده د ژبې ګرامرونه د بېلابېلو ميتودونو او تيوريو له مخې زيات ډولونه لري چې په عمده توګه په درې کټګوريو وېشل کېږي.

١- کلاسيك او دوديز ګرامرونه.

٢- پرتليزه تاريخي ګرامرونه.

٣- تشريحي او ساختماني ګرامرونه.(*)

معاصر ګرامر ليکونکي هڅه کوي چې ژبه په هغه ډول تشريح کړي څنګه چې ده. دوی د علمي څېړنو اومطالعاتو له مخې د يوې ژبې د قواعدو تطبيق پربله ژبه باندې سم نه بولي . ځکه هره ژبه ځانته بېل بېل خصوصيات او ځانګړتياوې لري او نشو کولی د يوې ژبې اساسات پربله ژبه باندې سل په سل تطبيق کړو. د ژبې د ګرامر د سمې او ښې څېړنې او مطالعې لپاره لازمه ده چې د هغې ځانګې په سمه توګه تشخيص کړو، لکه څنګه چې يوه ژبه د جملو او فقرو له ترکيب څخه او جمله د عباراتو ،کليمو او مورفيمونو له ترکيب او ترتيب او همدارنګه کليمې او مورفيمونه د انساني غږونو له ترکيب او ترتيب څخه منځ ته راځي . نو د يوې ژبې همدغه غږونه ، کليمې، مورفيمونه ، عبارات او جملې د خاصو او ځانګړو قوانينو او قواعدو لرونکي دي چې د يوې ژبې ساختماني نظام جوړوي . نو په دې توګه هر کله چې مونږ وغواړو د يوې ژبې جوړښت تشريح کړو نو په حقيقت کې د ژبې غږيز

(*)محمدحسين يمن دستور زبان دری کابل : کابل پوهنتون ١٣٦۵ م ١٠ مخ

جوړښت ، د کليمو او مورفيمونو جوړښت او دجملې جوړښت مطالعه کوو، نو په دې توګه د ژبې مطالعه په لاندې څانګو وېشل کېږي.

۱- فونو لوژي يا غږيز ساختماني نظام .
۲- مورفولوژي يا صرفي ساختماني نظام.
۳- سنيټکس يا نحوي ساختماني نظام.
۴- مورفو فونيمکس يا د فونيم د بدلون نظام.
۵- سيما نتکس يا ديوې ژبې د معنوي خواوو مطالعه.

۴-۱ د موضوعاتو لنډيز او پوښتنې:

۱- ژبه په واقعيت کې يوه ټولنيزه ،اکتسابي اوثقافي پديده ده، نه عضوي، فطري او طبيعي . د ژبې د پيدايښت تاريخ د بشر د پيدايښت او د ټولنو او ډلو د جوړېدو سره اړه لري.

۲- په عمومي توګه د ټولنې د افرادو تر منځ هر ډول وسيله اواړيکې ژبه بلل کېږي. که دغه اړيکې په اشاروي توګه وي او که د ښنبو او نورو علايمو او لارو په صورت . خو ژبه په خاص مفهوم سره د يو لړ اختياري وييزو او اوريزو سيمبولونو مجموعه ده چې هر يو سيمبول يې زموږد ذهني انځور نماينده ګي کوي، دا انځورونه د انساني چاپېريال اومهال څېزونه او ځانګړتياوې پېښې او کړه وړه را اخلي او په دې توګه ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو او لاپوهولو يوه اله او وسيله ګرځي.

۳- د اوسني افغانستان په خاوره کې دننه او دهغه په ګاونډيو نږدې سيمو کې څېړنو او پلټنو دا ښودلې چې افغانستان د لرغونو اريايي قومونو ځانګواو ټاټوبی وبولي.

۴- معاصره ژبپوهنه د تاريخي مقايسوي ژبپوهنې د يوې نظريې په حکم اريايي مړې او ژوندۍ ژبې او لهجې په دوولويو څانګو وېشي چې هره يوه يې بيا دوه دوه ښاخونه لري.

لومړی باختري : الف: جنوبي باختري لکه ساکي ، پښتو ، اورمړي او پاميري ژبې.

ب : باختري شمالي : سوغدي ، يغنوبي، خوارزمي ، الياني ، اوسيتي،

دويم : ايراني : الف : جنوبي لکه زړه فارسي، منځنۍ فارسي، نوې فارسي، تاتي، بختياري ، کومژاري.

ب: شمالي (ميدي) کوردي ، بلوچي،تاليشي، غلياني ،

۵- دغه نظريه چې پښتانه سامي نژاده دي ، تفصيل يې د پښتنو د تاريخ په بېلو اثارو او کتابونو کې راغلی دی . دموجوده پوهنې اوتاريخي مقايسوي ژبپوهنې له نظره دغه نظريات له افسانې زيات ارزښت نلري.

۶- ګرامر د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ژبې . مورفولوژيکي او نحوي جوړښت او ساختمان تر څېړنې لاندې نيسي. يعنې د يوې ژبې د لغاتو د تغير شکلونه ، د هغوی ترکيب ، دجملوجوړښت او څرنګوالی مطالعه او تشريح کوي.

۷- په ګرامري څېړنوکې ژبه د قوانينو تابع نه ګرځوله کېږي بلکې ګرامر د ژبې قواعد څرنګه چې دهغه اصلي ويوونکي او غږېدونکي استعمالوي راباسي او تشريح کوي يې.

۸- هره ژبه ځانته ګرامري قوانين او لارې چارې لري ، نوځکه د ژبې د ګرامر په ليکنه کې خپله د هماغې ژبې قواعد او اساسات غوره ګڼل کېږي.

۹-د ژبې ګرامرونه د بېلابېلو ميتودونو او تيوريو له مخې زيات ډولونه لري چې په عمده توګه په درې کټګوريو وېشل کېږي.

الف : کلاسيك اودوديز ګرامرونه.

ب: پرتليز تاريخي ګرامرونه.

ج: تشريحي اوساختماني ګرامرونه.

۱۰ دژبې د ګرامر د سمې او ښې څېړنې او مطالعې لپاره لازمه ده چې د هغه څانګې په سمه توګه تشخيص کړو لکه څنګه چې يوه ژبه د جملو او فقرو

له ترکیب څخه اوجمله د عباراتو ،کلیمو او مورفیمونو له ترکیب او ترتیب څخه اوهمدارنګه کلیمې مورفیمونه د انساني غږونو له ترکیب او ترتیب څخه منځ ته راځي ، نو د یوې ژبې همدغه ږغونه ، کلیمې ، مورفیمونه ،عبارات او جملې د خاصو اوځانګړو قوانینو او قواعدو لرونکي دي چې د یوې ژبې ساختماني نظام جوړوي.

۱۱نو په دې توګه د ژبې مطالعه په لاندې ځانګو وېشل کېږي.

۱ فونولوژي یا غږیز ساختماني نظام.

۲ مورفولوژي یا صرفي ساختماني نظام.

۳ سنیتېکس یانحوي ساختماني نظام.

۴ مورفو –فونیمکس یا د فونیم د بدلون نظام.

۵ سیما نتکس یاد یوې ژبې د معنوي خواوو مطالعه.

پوښتنې:

۱ ژبه څنګه یوه پدیده ده؟

۲ ژبه تعریف کړئ؟

۳- ایا ژبه یوه طبیعي اوفطري پدیده ده که اجتماعي او اکتسابي ؟ د مثال سره یې واضح کړئ.

۴-د اریائیانو لومړنی مرکز کوم ځای دی؟

۵-د اریایي ژبو ځانګې په لنډه توګه تشریح کړئ؟

۶-د پښتو د توکم په باب نظریات چې پښتانه د سامي اقوامو له جملې څخه دي د تاریخي مقایسوي ژبپوهنې له نظره دغه نظریات علمي دي او که نه؟

۶-ګرامر د ژبې د کومو برخو څخه بحث کوي ؟

۸- اوسنی ګرامر ژبپوهنې په کومه ځانګه پورې اړه لري.

۹- ایا داسمه ده چې ژبه د قوانینو تابع وګرځول شي ؟ که د هغې ژبې دویو ونکو او غږوېدونکو د وینا تابع شي؟

۱۰ - د ژبې ګرامرونه د بېلابېلو میتودونو او تیوریو له مخې. په کومو ډولو وېشل کېږي؟ په لنډه توګه یې ووایاست.

دويم څپرکی

پښتو فونو لوژي

فونولوژي د ګرامر د مقدمې په توګه هغه برخه ده چې يوازې ارزښتناکه غږونه (فونيمونه) تر څېړنې لاندې نيسي. دا خو څرګنده خبره ده چې هر انسان کولی شي بې شمېر زيات غږونه تر خولې وباسي او همدارنګه اواز وروسته له يو څه تمرين څخه په ډېر اسانۍ ادا کړي او هره ژبه کې محدود شمېر اوازونه استعمال کړي. که چېرې د يوې خاصې ژبې اوازونه د هغوی رابطې او خصوصيات چې د هغې ژبې د اوازونو او غږونو سيستم منځ ته راولي تر څېړنې او بحث لاندې ونيول شي، دغه څېړنې او بحث په فونولوژي يا فونيمکس پورې اړه پيدا کوي.

د ژبپوهنې دغه برخه يوه نوې او تازه موضوع ده چې د شلمې پېړۍ په پيل کې په دغه برخه کې نوي علمي څېړنې او مطالعات وشول. ځکه پخوا داسې فکر کېده چې توري (حروف) د ژبې يا دنيا بنسټ دي خو اوس دا ثابته شوه چې ژبه د انساني غږونو څخه ترکيب او جوړه شوې ده. همدغه انساني غږونه چې د يوې ژبې جوړونکي عناصر تشکيلوي، فونيم (اوازي واحد) بلل کېږي که څه هم دغه غږيز واحد په يوازې توګه بې معنی دی خو د کليمې په منځ کې خپل ما نيز نقش افاده کوي.[1]

---

(1) محمد حسين يمين دستور زبان دري کابل: کابل پوهنتون ۱۳۶۵، ۱۵مخ.

۱-۲ فونیم څه ته وايي ؟

فونیم یا اواز (واج –واک) د ژبې تر ټولو کوچنی غږیز عنصر دی چې په خپله کومه معنی نه لري بلکې په ما نیزو کلیمو کې ما نیز توپیر پیښوي.

د بېلګې په توګه / ت/ په پښتو کې یو اواز دی چې یو لغت لکه / تور / له بل لغت / پور / څخه توپیر کړی دی [۱]

۲/۲ فونیم او ګرافیم:

ګرافیم د فونیم (اواز) لیکلي شوې بڼې ته وايي ، یا په بل عبارت هغه د لیدو وړ رسم دی چې د یوه اواز ښکارندویي کوي.

الفبا دهغو ټولو تورو یوې ډلې ته وايي چې د یوې ژبې د ټولو اوازونو انځورونه کوي یا په بل عبارت دیوې ژبې د اوازونو رسم یا شکل افاده کوي چې په لیك کې ترې کار اخیستل کېږي. د ژبې د مطالعاتو په ساحه کې د / توري / د کلیمې پر ځای اوس اوس زیات د ګرافیم علمي اصطلاح استعمالوي.

۲-۳ پښتو فونيمونه او دهغوی ډولونه:

پښتو ژبه له ۳۶ غږونو (اوازونو) څخه جوړه ده چې په لاندې ډول دي:

۲-۳-۱ خپلواك (واول vawel غږونه :

هغه غږونو (اوازونو) ته ويل کېږي چې د تلفظ کولو په وخت کې صوتي غړي په تماس کې نه وي او دهوا په جريان کې کوم بنديزنه پېښېږي او د تلفظ په وخت کې ژبه ، شونډې او نور صوتي غړي د بېلا بېلو حرکتونو له امله بېل بېل شکلونه غوره کوي.

---

(1)مجاور احمد زيار ، پښتو پښويه . کابل : کابل پوهنتون د لوړو زده کړو چابخونه ۱۳۶۲ ، ۱۴ مخ.

همدارنګه د پښتو په الفايي سيستم کې د څرګند واو / ū / او اوږد واو /o / لپاره هم يو ډول ګرافيم / و / کارول شوی دی چې البته د ژبې د زده کړې په برخه کې له ستونزو څخه خالي نه ده . خوله نېکه مرغه د / ā / = آ ، څرګنده / ي = i / اواوږده / ې = e) په برخه کې دغه ستونزه حل شوې ده او نښې ورته وضع شوي دي.

۲-۳-۲ بېواك (كانسونت Consonant) اوازونه :

هغو اوازونو ته ويل كېږي چې د تلفظ كولو په وخت كې د غړيزو غړو د تماس له امله د هوا په جريان كې بنديز (انسداد) پېښېږي يا په بل عبارت هغو اوازونه ويل كېږي چې له خولې څخه دراوتو پروخت د سا هواله بنديز سره مخامخېږي.

پښتو مروجه الفبا	لاتين يا فونيميكه الفبا	مثالونه
۱-ب /	/ b/	لكه بڼ، بڼوال، باران
۲- پ/	/ p/	لكه پند ، پوپل، توپ
۳- ت /	/ ṭ /	تور –تالو/ توت
۴- ټ/	/t/	ټول- پلټل-مټ
۵- ج /	/j/	جوړ/ ناجوړ/ تاج
۶- ځ /	/ǰ/	ځمكه/نانځكه –وړځ
۷ -چ /	/ č/	چار/ مچ/ پچه
۸-څ/	/c /	څادر/څڅوبی پايڅه
۹ -خ /	/ x /	خواره –يخ/ اخ
۱۰-د /	/ d/	دود/ درد –پند
۱۱- ډ /	/ ḍ/	ډكر/ ډاډ/ هډ
۱۲ -ر/	/ r/	رامبېل/ تېر/ اوبه
۱۳ -ړ/	/ ṛ /	ړنګ/تړل/ويجاړ
۱۴ -ز/	/ / z	زړه –تازه/ راز

۱۵ / ژ /	/ ž /	ژوند- لژند-روژه
۱۶- / ږ /	/ ẓ /	ږمنځ –ږلی-کوږ
۱۷ / س/	/ s /	سل- لس- اس
۱۸- / ش/	/ š /	شل- لشل- شپه
۱۹- ښ/	/ ṣ /	ښه- واښه- چنګاښ
۲۰ / غ /	/ ğ /	غر –تغر- باغ
۲۱- / ك /	/k /	کور- کرکیله- تاك
۲۲- ګ/	/ g /	ګیله –بګی –پانګ
۲۳ / ل /	/ l /	لاری –لار- ځنګل
۲۴ / م/	/M /	موږ- بامل- بام
۲۵ / ن /	/N/	نن- پرون –اسان
۲۶/ ڼ /	/ Ṇ /	بانه –کوڼ- پڼه
۲۷- / هـ /	H //	هلك- بهاند- مهال

په پورته (۲۷) بېواك اوازونو كې اته د پښتو خاص اوازونه دي چې په لاندې يوه جمله كې داسې خلاصه كېداى شي (كاڼه د ډنګرمښه ، غوښه ټوله ځلور ځايه كړه) څلور اوازونه (ب-چ-ژ-ګ) ددري ژبې خاص غږونه دي چې پښتو او دري ژبې تر منځ په ګډه كارول كېږي او په عربي ژبې كې نشته.

همدارنګه د پښتو ژبې په مروجه الفبا كې لس نور غږونه هم شته چې دغه غږونه په مستعار ډول په عربي كليمو كې استعمالېږي خو پښتو كليمو كې دغه اوازونه نه راځي ، ځكه د غه لس اوازونه په عربي ژبه كې دخاصو عربي غږونو په نامه يادېږي.

دغه اوازونه په هغو كليمو كې چې پښتوژبې ته له عربي ژبې څخه راغلي دي اوس په پښتو كې مستعملې دي .[1]

/ث /	/C/	لكه ثابت	–وارث-وراثث- باعث
/ذ/	/ƒ/	لكه ذلت	–مذكور- ماخذ

۱- زرغونه زېور ، پښتو ګرامر : كابل كابل پوهنتون ، ۱۳۶۰ ، ۹ مخ

/ح/	/H/	لکه حوض- حاضر -حضور
/ص/	/s/	لکه صبر -بصر- صبور
/ض/	/z/	لکه ضرر-مضروب- غامض
/ط/	/t/	لکه طالب- باطل -ناطق
/ظ/	/z̄/	لکه ظالم -مظلوم -ناظم
/ع/	/ʕ/	لکه عادت -طاعت- معلم
/ف/	/F/	لکه فرمان- کافر- نافع
/ق/	/g/	لکه قاموس- ناقوس- توافق

۲-۳-۳- نیم واك اوازونه یا Semi vowel

هغو اوازونو ته ویل کېږي چې د خپلواکو او بېو اکو اوازونو تر منځ منځګړیتوب کوي یا په بله وینا هم د واول او هم د کانسوننت په ډول اداکېږي. که د ځپې زړی (هسته) وګرځي د خپلواك بڼه اخلي او که دځپې زړی ونه ګرځي نو د بېواك په بڼه څرګندېږي ، دغه اوازونه په لاندې ډول دي:

و / w/لکه ور / War / ولور / walwar /

ی / y / لکه یور / yo۲/ یو /yaw/.

د / w / نیم واك د ځپو په پیل او منځ راځي او په پای کې یوازې د غبرګ غږ په توګه راځي لکه لو = / law / پلو = / palaw / کنډو / kandaw/

/ی = y / نیم واك اواز دی دغه غږ هم د / w / په څېر د ځپو په پیل اومنځ کې راځي او د کلیمو په پای کې یوازې د غبرګغږ په توګه ڼاتلای شي . د کلیمو په پای لکه سړی /saṛay / کړکۍ / kərkəy / ډوډۍ / dodəy /

۲-۳-۴ غبرګغږونه:

الف: واکه مرکب diphthongs د یفتانګونه :

ب : بې‌واك مرکب Clusters کلسترونه:

د يفتانګونه د خپلو اکو او ښواکو اوازونو له يو ځای کېدو څخه منځ ته راځي يا په بله وينا هر پښتو غبرګغږ دوه فونيمي عناصره لري ، لومړی عنصريې يو خپلواك فونيم او دويم عنصر يې يو نيم واك فونيم دی.

پښتو غبرګغږونه دوه دي : ۱- و = /w/- ی /ی y = / د / و = w /

غبرګغږونه په لاندې ډول دي:

/ew/ لکه په لېو / lew / کې

/ aw/ لکه په لو /law/ او کندو kandaw / کې

/ āw / لکه په پړاو /paṛāw/ او جړاو /ǰaṛāw/ کې

/ əw/ لکه په کتو / katəw / کې

د/ی = y / غبرګغږونه په لاندې ډول دي:

د / ay/ ايوان / aywān/ ميره / mayrə/ سړی /Saṛay / .

/ āy لکه آينه / āyna/ ځايګنی / ǰāygenay ځای / ǰāy / .

/ əy/ لکه نری naṛəy ډوډۍ ḍoḍəy کړکۍ / kərkəy / .

/ uy/ لکه خوی xuy بوی / buy / دوی / duy/.

/ oy/ لکه زوی /zoy/ سوي [1] soy.

ښواك مرکب /Clusters/ کلسترونه:

البته پاتې دې نه وي چې ځينې نور غبرګ غږونه شته چې د دوو ښواکو اوازونو يو ځای کېدو څخه منځ ته راځي . داسې غبرګغږونو ته ښواکه مرکب يا کلستر /Cluster/ وايي دا ډول غبرګغږونه هم د کليمو په سراو هم د کليمو په پای کې راځي ، لکه لمر /Lmar/ شپه /šp̌a/ سپی /spay/ همدارنګه ژوند /Žwand/ شخوند.

/Šxwand/ پند / pand/.

[1] مجاور احمد زيار . پښتو پښويه. کابل پوهنتون . دلوړو زدکړو چاپخونه. ۱۳٦۲ – ۸۰ مخ.

۵-۳-۲-د موضوعاتو لنډيز او پوښتني:

۱- فونولوژي د ژبپوهنې هغه برخه ده چې يوازې ارزښتناك غږونه (فونيمونه) تر څېړني لاندې نيسي.

۲- اواز (واج-واك) دژبې ترټولو کوچنی غږيز عنصر دی چې پخپله کومه مانا نه لري بلکې په مانيزو کليمو کې ما نيز تو پير پېښوي د بېلګې په توګه /ك/ په پښتو کې يو اواز چې يو لغت لګم/کور/ له بل لغت /ګور/ څخه توپير کړی دی لکه چې رحمن بابا وايي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو – کوراو ګور پښبور درې واړه يو دي.

۳- ګرافيم /Graphem/ د فونيم ليکلې شوې بڼې ته وايي يا په بل عبارت هغه دليدو وړ انځور دی چې د يو اواز ښکارندويي کوي.

۴- پښتو ژبه له ۳۶ غږونو څخه جوړه شوې ده چې په لاندې ډول دي.
خپلواك ، بېواك او نيم واك.

الف: خپلواك غږونه: هغه غږونوته وايي چې د تلفظ کولو په وخت کې صوتي غړي په تماس کې نه وي او د هوا په جريان کې بندښت نه پېښېږي.

ب: بېواك غږونه: هغو غږونو ته ويل کېږي چې د تلفظ کولو په وخت کې د هوا په جريان کې بندښت راځي او صوتي غړي په تماس کې وي.

ج: نيم واك غږونه Semi Vowel: هغو غږونو ته ويل کېږي چې د بېواکو او خپلواکو اوازونو تر منځ منځګړيتوب کوي يا په بل عبارت هم د واول او هم د کانسوننت په ډول ادا کېږي.

د: غبرګغږونه: چې د خپلواکو او بېواکو اوازونو له يو ځاى کېدو څخه منځ ته راځي يا په بله وينا هر پښتو غبرګغږ دوه فونيمي عناصر لري.

يو يې خپلواك او دويم يې نيم واك غږ دی.

پوښتنې :

۱ فونو لوژي تعريف کړئ؟
۲ فونيم څنګه راپېژندلی شئ؟
۳ ګرافيم څه ته وايي؟
۴ پښتو ژبه له څو غږونو څخه جوړه شوې ده؟
۵ پښتو خپلواك غږونه څو دي؟
۶ بېواك غږونه تعريف کړئ؟
۷ په پښتو کې نيم واك غږونه څو دي؟
۸ د کليمې په سر او په پای کې نيم واك غږونه په مثالونو کې وښاياست؟
۹ غبرګغږونه تعريف کړئ؟

دریم څپرکی

پښتو مورفولوژي

صرف د ګرامر هغه برخه ده چې په هغه کې د یوې ژبې ټاکلي مورفیمونه د هغوی جوړښت ،ترکیب ګردان او د هغوي ډولونه تر څېړنې او بحث لاندې نیول کېږي.

۱-۳- مورفیم څه ته وایي ؟

مورفیم هغه کوچنی ژبنی ماتیز واحد دی که تجزیه شي خپله معنی له لاسه ورکوي او د هغه له تجزیه کېدو څخه بې معنی اوازونه لاس ته راځي ، مورفیم یو نه تجزیه کېدونکی مانا لرونکی واحد دی.

۲-۳- د مورفیم جوړښت :

څرنګه چې فون /phone/ د فونالوژي یا فونیمکس اساسي واحد تشکیلوي همدا رنګه /Morph/ مورف د مورفالوژي اساسي واحد دی ، د مورفیم کلیمه د مورف یعنی د شکل او بنې په معنی او /eme/ یو روستاړی

(پسوند) دی چې د متمایز واحد په معنی دی [1] . یعنی مورفیم هغه کوچنی ژبنی مانیز واحد دی که تجزیه شي خپله معنی له لاسه ورکوي او د هغه له تجزیه کېدو څخه بې مانا اوازونه لاس ته راځي نو په دې توګه مورفیم یو نه تجزیه کېدونکی لفظي مانا لرونکی واحد دی .

۳-۳- مورفیم او څپه :

څپه د هجا یا سېلاب په معنی ده کله که موږ د مورفیم څخه بحث کوو نو د څپې موضوع حتماً رامنځ ته کېږي ځکه څپه د مورفیم یو جز دی.

څپه هغه ژبنی واحد دی چې یا یوه خپلواك وي او یا له یو خپلواك او یوه یا څو بېواکو څخه جوړ وي او په یو ځايي ډول له خولې څخه راوځي لکه د /آبا/ کلیمه چې دوه څپې لري چې لومړی /آ/ یو ه څپه ده چې یو خپلواك غږ دی او دویم /با/ بله څپه ده چې له یوه بېواك /ب/ او یوه خپلواك /آ/ څخه جوړه شوې ده او په ګډه سره دواړه یو مورفیم تشکیلوي.او که چېرې تجزیه شي بې مانا اوازونه لاس ته راځي . له بله پلوه خپلواك اواز د څپې په جوړښت کې اساسي رول لري په دې معنی چې پر ته له خپلواك اواز څخه هېڅ څپه تشکیلېدای نشي یعنی خپلواك اوازد څپې زړی یعنی هسته تشکیلوي . څپه په دوه ډوله ده:

وازه او تړلې څپه :

وازه څپه : هغې څپې ته وایي چې له یو خپلواك اواز څخه جوړه وي او یا په یو خپلواك اواز پای ته رسېدلې وي لکه ابا- ته ،زه ،بیا.

تړلې څپه : هغې څپې ته وایي چې په یوه بېواك اواز پای ته رسېدلې وي لکه :

مور – خور – پور – یور – غبرګ- خپل.

---

[1] محمد حسین یمین . دستور زبان دری کابل : کابل پوهنتون ۱۳۶۵ . ٦٦ مخ

۳-۴ مورفیم او کلیمه :

کلیمه یو رواني واحد دی[۱] چې غالباً بېل ویل کېږي او لیکل کېږي او لغوي معنی لري. کله تل خپلواك او مستقل مفاهیم لېږدوي. خو مورفیم یو لفظي واحد دی چې لغوي او ګرامري معنی لري. مورفیم هم کله بېل او کله دیوې کلیمې د جز په توګه راتلای شي مورفیم یوګرامري نه تجزیه کېدونکی واحد دی، همدارنګه هرې کلیمې ته مورفیم نشو ویلی او هر مورفیم ته کلیمه یوازې بسیطې کلیمې خپلواك مورفیمونه بلل کېدای شي. د بېلګې په توګه کتابچه یوه کلیمه ده چې له دوو مورفیمونو /کتاب/ او /چه/ څخه جوړه شوې ده. نو کتابچه یو معنی لرونکی واحد دی چې د تجزیې وړ دی یعنی /کتاب/ یو مستقل مورفیم او /چه/ یو تصغیري روستاړی دی چې یو ناخپلواك مورفیم دی. نو په دې توګه کتابچه یوه کلیمه ده چې له دوو مورفیمونو څخه /کتاب/ یو خپلواك مورفیم او /چه/ یو نا خپلواك مورفیم دی جوړه شوې ده.

۳-۵ د موضوعاتو لنډیز او پوښتنې:

۱ مورفولوژي یا صرف د ګرامر هغه برخه ده چې په هغه کې د یوې ژبې ټاکلي مورفیمونه د هغوی جوړښت ،ترکیب، بدلون او دهغوی ډولونه تر څېړنې او کتنې لاندې نیول کېږي.

۲ څرنګه چې غږ یا فون د فونالوژي یا فونیمکس اساسي واحد دی یا اساسي واحد تشکیلوي ،همدارنګه مورف د مورفالوژي اساسي واحد دی.

۳ کله که موږ د مورفیم څخه بحث کو و د ځینې موضوع حتماً رامنځ ته

---

[۱] منصور . اختیار مبعي شناسي . تهران : منوچهر ۱۳۴۸ . ۶۰ مخ.

کېږي. ځکه څپه د مورفیم یو جز دی . څپه هغه ژبنی واحد دی چې یا یو خپلواك وي اویاله یوه خپلواك او یوه یا څو بېواکو څخه جوړه وي او په یو ځایي ډول له خولې څخه راوځي لکه / ابا/ چې دوه څپې لري / ا/ او/ با/ لومړۍ څپه یې یو واول او دویمه څپه یې له یوه کانسوننټ او یوه واول څخه جوړه ده. بې له خپلواك غږ څخه هډو څپه نه جوړېږي.

۴ کلمه لغوي معنی لري او تل مستقل مفاهیم لېږدوي خو مورفیم لفظي واحد دی چې لغوي او ګرامري معنی لري . مورفیم یو ګرامري نه تجزیه کېدونکی واحد دی.

پوښتنې:

١ مورفالوژي تعریف کړئ؟

٢ د مورفالوژۍ اساسي واحد څه شی دی؟

٣ څپه یا سېلاب څه ته وایي؟

۴ وازه او تړلې څپه په مثالونو کې وښیاست؟

۵ مورفیم تعریف کړئ؟

۶ مورفیم او کلیمه څه توپیرلري؟

٧ مورفیم او څپه څه توپیر لري؟

٨ لاندې متن په فونیمیکه الفبا ولیکئ او څپې یې بېلې کړئ.

نبوي سیرت د ډېرو داسې ځانګړتیاوو او ممیزاتو لرونکی دی چې لوستنه یې د انسان دپاره روحي . عقلي او تاریخي ګټه رسوي او د ټولنیزې اصلاح غوښتونکي د سیرت د زده کړې پر ضرورت قانع کوي. تر څو خلکو ته اسلامي شریعت په داسې طریقه او اسلوب سره ورسوي چې همدغه سیرت یې د پریشانۍ او راز راز کړاوونو سره دمقابلې له پاره لوی مرستندوی وي او په همدې وسیله به اسلامي داعیان د خلکو زړونو ته لارمومي

PROPERTY OF ACKU 9780

څلورم څپرکی

د مورفیم ډولونه

څرنګه چې مخکې وویل شول، مورفیم د ژبې تر ټولو کوچنی مانیز عنصردی چې د څو اوازونو له یو ځای کېدو څخه جوړېږي او له تجزیه کېدو څخه یې بې مانا ساده اوازونه یا په بله وینا بې مانا عناصر لاس ته راځي.

مورفیم په دوو ډولو وېشل کېږي:

خپلواک ،غیرمقید یا ازاد مورفیمونه ، ناخپلواک ، مقید یا تړلي مورفیمونه.دادی په دې څپرکي کې نا خپلواک ، مقید مورفیمونه څېړل کېږي.

۱-۴- نا خپلواک ،مقید مورفیمونه: Bound Forms

دیوې ژبې په عبارت او وینا کې هغه وړې ټوټې او برخې چې په ځانګړي او مستقل ډول د استعمال وړ نه وي یعنې که په ځانګړي اوخپلواک ډول استعمال شي نو هیڅکله هم معنی نه ورکوي . ناخپلواک مورفیمونه بلل کېږي لکه د / کتابونه/ کلیمه چې له دوو مورفیمونو څخه جوړه شوې ده / کتاب/ یو خپلواک مورفیم او / ونه/ د جمعې روستاړی دی چې یو ناخپلواک مورفیم دی که چېرې د کتاب له کلیمې څخه لرې کړای شي په خپلواکه توګه کومه معنی نه رسوي . او هغه وخت معنی ښندي چې د کتاب د کلیمې سره راشي.

د مطلب د ښه څرګندتيا لپاره د مورفيمونو ډولونه په لاندې ډول وړاندې کېږي.

د مورفيم ډولونه

تړلي مورفيمونه

ساختماني نښې	۱	سربلونه او وستربلونه
	۲	د ربط نښې
	۳	د عطف نښې
	۴	د غږونو (اصوات) نښې
تاړي (وندونه)	۱	صرفي مختاړي
	۲	کليمه جوړوونکي مختاړي
	۳	صرفي روستاړي
	۴	کلمه جوړوونکي روستاړي

ازاد مورفيمونه

نومېزې ډلې	۱	نوم
	۲	صفت
	۳	ضمير
	۴	عدد
قيدونه	۱	دڅرنګوالي قيد
	۲	د زمان قيد
	۳	دمکان قيد
	۴	د مقدار قيد
	۵	د تاکيد قيد
فعلي ډلې	۱	فعل او دهغه ريښه •
	۲	دفعل وګړي(اشخاص)
	۳	دفعل وجه
	۴	لازمي اومتعدي فعل
	۵	مثبت اومنفي فعل
	۶	د فعل زمان

۱-۱-۴- سربلونه او وستر بلونه:

دا هغه نه ګردانېدونکي مقيد مورفیمونه دي چې په خپلواکه توګه کومه معنی نه ښندي بلکې د خپلواکو غیرمقیدو مور فیمونو سره یو ځای یوه معنی اومفهوم رسوي.

سربلونه (پېشینه ها) : Prepositions

سربلونه هغه ادات دي چې تریو نوم د مخه راځي او په جمله کې د هغه حالت او دریځ ځرګندوي لکه / په/ د : په کور کې/ له / : له ښونځي څخه ، / تر/ تر کوره پورې / په / تاپورې.

اوستر بلونه(پسینه ها) Post positions

په یوه جمله یا فقره کې تر نوم وروسته راځي.

دا دي په لاندې توګه د سر بلونو او اوستر بلونو استعمال په جمله کې ښودل کېږي.

سربل	اوستربل	مثال
په	کې	زه په کوټه کې یم
په	سره	په زیار او زحمت سره بریٰ حاصلېږي
په	پورې	په چا پورې نه خاندم
په	پسې	په تا پسې نه ځم
پر	باندې	زه پر څوکۍ باندې ناست یم
پر	سربېره	پر دې کار سربېره نورکارونه هم شته
د	لپاره	د خبرو لپاره وخت نلرم
د	غوندې	د مزدور غوندې یې وګڼه
د	کره	د احمد کره نه ځم (کورته)
تر	لاندې	تر مېز لاندې پروت دی
تر	پورې	تر ښونځي پورې ځم

تر	وروسته	تر غرمې وروسته راځم
تر	څخه (ه)	تر ځوزه (څخه) ګل ښه دی
تر	ډباندې	تر کور دباندې ووځه
تر	پرته	تر ځلمي پرته ښه سړی نشته
له	سره	له ځلمي سره ځم
له	څخه (ه)	له احمد څخه مې کتاب واخیست
له	وروسته	له غرمې وروسته کورته ځم
له	راهیسې	له پرون راهیسې کار لرم
له	پرته	له احمد پرته محمود هم راغلی و
بې	څخه	بې اوبو څخه ژوند نشته.
و	ته	وتاته مې ووې

۲-۱-۴- اداتِ یا Particles:

ادات د نه ګردانېدونکو مورفیمونو یوه مهمه برخه ده او په لاندې ډول دي:

۳-۱-۴- ارتباطي ادات Conjunctions:

دغه ادات د څومره والي ، څرنګوالي یا ورته والي له مخې دوه جملې سره نښلوي او دوه، دوه سره یو ځای کېږي چې له زیاترو سره/چې / هم ملګري کېږي. او په ګډه د دوو توېو یا فقرو اړیکې سره ټینګوي لکه څومره او هومره په لاندې عبارت کې:

څومره ډېګ هرمره ټېپر ، لکه څنګه چې، هسې ،که څه هم ، بیا هم . څومره چې ، هماغومره چې ، چېرې ، هلته ، (چېرې دې ښه هلته دې شپه) داسې همداسې ، همداراز، هغسې، همدارنګه ، هماغسې ، څو ، مګر، همدومره ، په همدې ډول په همدبراز،

یادونه: پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار ارتباطي ادات چې پورته ذکر یې وشو د ازاد و مورفیمونو په ډله کې شمېري[1].

---

[1] مجاور احمد زیار : پښتو پښو یه کابل پوهنتون . دلورو زده کړو چاپخونه ۱۳۶۲ ل- ۱۹۸۴ ع.

۴-۱-۴- تشبیهي ادات:

په عنعنوي ګرامرونو او ادبي فنونو کې د (حرف تشبه) په نامه یاد شوي دي تشبیهي ادات هغو اداتو ته ویل کېږي چې د دوویا زیاتو څیزنو او پدیدو ورته والی او مشابهت ښیي لکه ګوندې ، په څېر، په رنګ ، په شان، په دود ، په توګه، په ډول، په راز او داسې نور.

۴-۱-۵- د عطف ادات:

چې کلیمې او جملې سره یو ځای کوي لکه (او- که – یا – سره) په دې بېلګه کې ، باغ وای د ګلونوپکې ناست وای زه ا وتبه . (که او یا) هم مانیز عطف ادات دي لکه (ښه که بد) (ښه یا بد)

۴-۱-٦- د اضافت ادات:

هغو اداتوته ویل کېږي چې څېزونه لوپدیدې سره اړوند وي او ملکیت ښیي . پښتو یوازې یو اضافت توری لري چې / د/ دی . لکه:

د زرمینې قلم، د احمد کتاب ، دلیلې پېزوان، د شپانه رمه او داسې نور.

۴-۲- تاړي (وندونه): Affixes

هغه تړلي او مقید مورفیمونه دي چې د ازاد و مورفیمونو سره یوځای والي او پیوستون له کبله د هغه معنی او مفهوم څرګندېدای شي چې ددغه تاړي په یو ځای کېدو سره کلیمه نوی مفهوم او مانا پیدا کوي او یومشتق منځ ته راوړي په لاندې ډول دي

۴-۲-۱- مختاړی (پېشوند): Prefix

هغه تاړي ته ویل کېږي چې د کلیمې په سر پورې نښلي او دنورو تاړو غوندې له نوي شکل اومانا سره یو نوی مشتق رامنځ ته کوي په لاندې ډول دي

الف: دنفي او نهي په صورت: چې د دغو مختاړو په نښلولو سره منفي صفات مجرد فعل امر نفي جوړېږي لکه :

مه (نهي) مه کښېنه . مه پاڅه ، مه ګوره ، مه کوه. مه خوره ، مه کښېنئ. نه (نفي) نه ګوري، نه ويني ، نه پاڅېږي ، نه خوري، نه ځي.

ب: د مطلقيت مختاړی :

په پښتو ژبه کې / و = wə / د مطلقيت مختاړی دی کله چې د ځينو فعلونو په سر کې راشي مطلقه ماضي تري جوړېږي ، لکه ماو- خندل ، ما وليکل ، ماو-ژړل ، ماو – نخل، ماو – لمبل ، ما واغوست ، ما وتړه.

ج: کليمه جوړوونکي مختاړي:

چې د دغو مختاړو په نښلولو سره يوه نوې معنی او مشتق رامنځ ته کېږي.

بې: لکه بې فکره، بې عقله ، بې خونده ، بې لارې، بې ژبې ، بې غيرته.

نا: لکه نافکره ، ناجوړه ، نابلده ، ناکاره ، ناخوښه، ناکسه.

هم: ددغو مختاړو په نښلولو سره ذاتي صفات جوړېږي او يو رنګي افاده کوي. لکه هم خياله ، هم فکره ، هم غاړی.

(کم- بد- يو- نيم) د مختاړو په نښلولو سره صفات جوړېږي لکه کم فکره ، کم همته، بد کاره ، بدعمله ، يو وزری ، يولاسي، نيم کوره ، نيم کښه .[۱]

ددغو مختاړو (خوا- شا- سر- خر) له يو ځای کېدو څخه صفتونه نومونه لاسته راځي لکه خوابدی ، خواخوږی ، شاخوږی ، سرکښي، سر پاندي ، خرغوږ، خروله.

ددغو مختاړو (پرې، کښې، پورې، را ، در ، ور ، ننه، جار ، بيا ، تېر)د /وتل/ فعل پورې په نښلولوسره په نوي شکل او معنی فعلونه جوړېدلای شي لکه پرې + وتل، تېر+تلل ، جار+وتل. کښې+وتل. پورې+وتل .بيا+موندل، را+تلل، در + تلل . ور+ تلل .

۳-۲-۴- روستاړي Suffixes :

هغه تاړي يا وندونه دي چې د مربوط مورفيم يا کليمې په پای پورې

---

[۱] صديق الله رښتين . پښتو ګرامر : کابل وزارت تعليم و تربيه . مطبعه معارف. ۱۳۷۰ . ۱۳۴ مخ

نښلول کېږي او يو نوى مشتق رامنځ ته کوي. داسې چې شکل او معنى يې له هغه بنسټيز مورفيم يا کليمې څخه توپيرولري لکه / نی/ چې له کور څخه کورنى جوړوي.

اوپه دوه ډوله دي:

۱- صرفي روستاړي:

الف: فاعلي روستاړي:د اوس مهال د فعل له ريښې سره:

په پښتو ژبه کې دغه روستاړي پنځه دي.

۱	ام / əm /	و /u/
۲	ې /e/	ئ /əy/
۳	ي / i /	ي /i/

د تېر مهال لازمي فعل سره

د لومړي او دويم شخص له پاره کټ مټ همدغه (ام-و-ې-ئ) روستاړي دي خو ددريم شخص په مورد کې په لاندې ډول دي:

/ə/ ياصفر دريم شخص مفرد مذکر احمد لاړ يا لاړه /ə/

/ə// له / دريم شخص مفرد مونث ملالى لاړله يا لاړه /a/

/əl/ /ال/ دريم شخص جمع مذکر احمد او محمود لاړل /əl/

/le/ / لې/ دريم شخص جمع مونث توريېکۍ اوملالۍ لاړلې /le/

د متعدي فعل سره: په اوس مهال کې همدغه پنځه روستاړي (ام- و – ې –ئ او ي) دي.

ب : مفعولي روستاړي:

د متعدي فعل سره په تېرمهال کې :

څرنګه چې متعدي فعل په تېر مهال کې د جملې له مفعول سره مطابقت ښيي نو که چېرې مفعول مفرد مذکر وي ، روستاړى، /ə/(زورکي) په بڼه او که مفعول مفرد مونث وي نو روستاړى د /a/ (له) په بڼه څرګندېږي . همدارنګه که مفعول جمع مذکر وي د /əl/ په بڼه که مفعول جمع مونث وي،

روستاړي د /le/ (لې) په بڼه ظاهرېږي.

که چېري مفعول په تېر مهال کې لومړی، دویم او دریم شخص وي نو روستاړي په لاندې ډول ظاهرېږي.

احمد زه ووهلم / ام — احمد موږ ووهلو /و/

احمد ته ووهلې / ې — احمد تاسې ووهلئ /ئ/

احمد دی ووهه / ə — احمد دوی (جمع مذکر) ووهلو /əl/

احمد دا ووهله / a — احمد دوی (جمع مونث) ووهلې /le/

نو په پورته ډول وینوچې د لومړی او دریم شخص (مفرد او جمع له پاره) هماغه د:

ام /əm/ — و /u/

ې /e/ — ئ /əv/

روستاړي راغلي دي خو د دریم شخص له پاره د مفرد مذکر مفعول له پاره /ə/ د مفرد مونث مفعول له پاره /ه/ د جمع مذکر لپاره /ل/ او د جمع مونث له پاره د /لې/ په بڼه ظاهر شوي دي.

۲-کلیمه جوړوونکي روستاړي (اشتقاقي)

په پښتو ژبه کې اشتقاقي روستاړي ډېر زیات دي، خو دلته د نمونې په توګه د یو څو یادونه کېږي.

الف: د نسبت روستاړي:

چې یو نوم، قام، ځای، زمان، جنس او نورو ته نسبت ورکوي او په لاندې ډول دي:

وال: لکه: کامه وال، باندہ وال، خبروال، پکتیاوال، ښارنوال.

خېل: لکه سلیمان خېل، اتمان خېل، ایوب خېل، بابکر خېل.

زی: لکه: سدوزی، وتوزی، محمدزی، اسحق زی، اڅکزی.

نی: لکه: اوسنی، پرونی، ننني، مازدیګرنی، خندنی

ین: لکه : وریښمین ، خاورین،لورین،وربشین ، پرتمین.

ییز: لکه : چره ییز ، ګوله ییز.

ب: تصغیري روستاړي:

ګوټی : لکه کتاب ګوټی ، هلك ګوټی، غریب ګوټی.

ټی : کوچنی ، کوچ نوټی.

ك /اك/ تورك ، ځویك.

ګی : عتګی ،تورګی.

ج: د مکان او زمان روستاړي :لکه

ځی لکه : لوست ځی ، پوهنځی، ښوونځی.

غالی لکه : اور غالی ، پنډغالی ، لوبغالی.

تون لکه : مېږه تون ، وړکتون ، زېږنتون ، پوهنتون .

د: د صوت روستاړي:

هار : لکه درزهار ، چغهار ، ټکهار

کی : لکه : پشکی :

هـ: فعلي روستاړي :

چې د هغه په نښلولو سره فاعلي صفات جوړېږی لکه :

ګر: خټګر،بزګر، کرګر، زرګر.

ندوی:ساتندوی ، پوهندوی ، ګټندوی .

ګړی:ژرنده ګړی ـ منځګړی .

کښ: زیارکښ، سرکښ .

ونکی : وهونکی، تلوونکی .

۳-۴- د موضوعاتو لنډیز او پوښتنې:

۱-مورفیمونه په دوه ډوله دي ، خپلواك اوناخپلواك.

خپلواك مورفیمونه چې په وینا کې په ازاده او مستقله توګه معنی ښندي نا خپلواك مورفیمونه چې په خپلواکه توګه کومه معنی نلری تر څو په یوې

کليمې پورې ونه تړل شي لکه کتابونه چې له دوو مورفيمونو څخه جوړ دي .کتاب يو خپلواک مورفيم او د / ونه / روستاړی ناخپلواک مورفيم دی.

۲- سربلونه او وستر بلونه: سربلونه چې تريونوم دمخه راځي او اوستربلونه چې ترنوم وروسته راځي لکه په لاندې مثال کې : احمد په کور کې دی. په پورته جمله کې /په/ يو سربل دی چې تر نوم د مخه راغلی دی او /کې / اوستربل دی .

۳-ادات : دنه گردانېدونکو مورفيمونو يوه غوزه برخه ده او لاندې ډولونه لري. ارتباطي تشبيهي ،عطف او اضافت.

۴-تاړي هغه مقيد مورفيمونه دي چې د ازادو مورفيمونو سره د يو ځای والي په صورت کې خپله معنی ښندي. په لاندې ډول دي:

مختاړي : چې د کليمې په سر پورې نښلي له نوي شکل او مانا سره يو نوی مشتق رامنځ ته کوي لکه مه کوه ، نه کوي ، نه ځي .

روستاړي : هغه تاړي يا وندونه دي چې د کليمې په پای پورې نښلي چې ځيني يې صرفي دي او ځيني يې اشتقاقي .

لکه وځم ، ځو په کليمو کې (ام- و) صرفي روستاړي دي . او د کامه وال پکتاوال ، او سليمانخېل ، سدوزی محمدزی په کليمو کې (وال خېل زی) اشتقاقي روستاړي دي.

پوښتنې:

۱ مورفيم په څوډوله دی؟

۲ ناخپلواك (مقيد) مورفيمونه کومو مورفيمونو ته وايي؟

۳ سربلونه او اوستر بلونه تعريف کړئ او مثالونه يې وښياست.

۴ ارتباطي ادات ، تشيهي ،عطف اواضافت په مثالونو کې واضح کړئ.

۵ تاړي تعریف کړئ.

۶ دنفي اونهي مختاړي په مثال کې وښیاست.

۷ کلمه جوړوونکي مختاړي کوم دي؟

۸ روستاړی تعریف کړئ؟

۹ صرفي روستاړي دمثالونو سره وښیاست؟

۱۰ کلمه جوړوونکي روستاړي(اشتقاقي) کوم دي؟

۱۱ د نسبت د روستاړي څو مثالونه ووایاست.

۱۲ د تصغیر روستاړي کوم دي؟

۱۳ دصوت روستاړي کوم دي؟

پنځم څپرکی

نا مقید مورفیمونه

صرف د مورفیمونو د ډولونو له مخې په دوو ځانګو وېشل کېږي ، یود نه ګردانېدونکي مورفیمونو ځانګه چې مخکې یې بحث تېر شو اوبله د ګردانېدونکو مورفیمو ځانګه چې په دوو لویو برخو وېشل کېږي .دنوم صرف او د فعل صرف.

۱-۵- نوم: هغه کلیمه ده چې یې د زماني له ارتباط څخه د راز راز ځیزونو اوپدیدو ځرګندونه کوي لکه مړی ،تېږه ، لرګی ، ښایست ، روغ، زه ، ته ،دی ،یو ،دوه او داسې نور.

۲-۵- د نوم ګرداني اړخونه:

نوم په عمومي ډول د درو اړخونو له مخې ګردانېږي لکه جنس ، عدد او حالت خوضمیر سربېره پر دغو دوه حالتونو د شخص له پلوه هم ګردانېږي.

۱-۲-۵- جنس: د جنس څخه مطلب دادی چې نوم نارینه دی که ښځینه د مطلب دښه ځرګندتیا له پاره دنارینه او ښځینه نوم نښې په لاندې توګه راوړل کېږي.

د ښځینه نوم نښې:

الف: /آ - ā / په (آ) ختم شوي نومونه لکه امریکا ، اسیا ، لیبیا ، کاناډا ، اوتاوا ، والګا ، خندا ،ژړا ، نڅا ، بلا ، ملا . (دمیم په زورکي).

پورته نومونه که چېرې د جملې په مبتداء کې واقع شي خبر د مونث په شکل تصریفوي.

دا امريکا ده .
دا کاناډا ده .
ليبيا له افغانستان څخه لويه ده .
امريکا له آسيا څخه پر مخ تللې ده .
ماته ژړا راغله .
ماته خندا راغله.
بلا راغله .
ملامې ماته شوه.

ب: a /~- ه / : ټول هغه نومونه چې د /a/ په خپلواکه‌غږ / واول/ پای ته رسېدلي وي لکه لښته /a/ پانه /a/ غرمه /a/ منه /a/ سترګه /a/ پزه /a/ زنه /a/ ګوته /a/ پښه /a/ چوغکه /a/ شونډه /a/ پونده /a/.

همدارنګه لمنه /a/ ستنه /a/ برستنه /a/ مېچنه /a/ څنګله /a/ مياشته /a/ لاره /a/ ورځه /a/ وريځه /a/ *...

ج: د ˋ (ی = əy) په غبرګغږ ختم شوي نومونه لکه کرکی، څپلی، رسی، ډوډی، شپېلی، هوسی ، شړی. لکه:
کرکی ماته شوه.
څپلی وشکېده.
رسی وشلېده.

---

*د پشتوژبې په ځينو عنعنوی ګرامرونو کې د ستنه ، برسته کليمې د سماعي مونثاتو په نامه ياد شوې دي او د (ستن، برستن، ميچن څنګل...) په شکل راوړل شوي دي، حال دا چې دغه نومونه په پای کې /a/ لري، او د جمع کولو په وخت کې د اې/ روستاړی اخلی او کټ مټ د هغه نومونو په‌شان جمع کېږي چې په /a/ ختم شوي دي که چېرې د اريايي ژبو (ووستا) (زړه فارس) تاريخي سير ته وګورو نو متحرک الاخره تلفظونه اوس اوس ساکن الاخره کېږي. لکه منه + من، دسته. دست، رسته... او داسې نور.

ډوډۍ پخه شوه.
هوسۍ وتښتېده.
شړۍ وچه شوه.
شپېلۍ وغږېده.
روټۍ وخوړل شوه.
څوکۍ ماته شوه.
خولۍ زړه شوه.

د: د (e = ې] په خپلواک غږ ختم شوي نومونه لکه / ادې ، ناوې/
ادې راغله .
ناوې واده شوه .

پاتې دې نه وي چې د /e = ې/ پـه خپلواك غږ نور ختـم شـوي نومونـه د جمعې شكل لري په دې معنى چې /e= ې/ د جمعې يو مورفيم دی او ټول هغه نومونه چې د /a/ په خپلواك غږ پای شوي د /ې/ رو ستاړي په راوړو سره جمع كېږي. لكه (لښته، لښتې- ستركه، ستركې، پڼه، پڼې).

ه : د /i = ي/ په خپلواك غږ ختم شوي نومونه لكه خوشحالي، دوستي ، خپلوي، بياتي.
خوشحالي ده چې زه او ته سره وينو.
زموږ او تاسو تر منځ دوستي ده .
د خپلوانو تر منځ خپلوي ټينګه شوه .
بيا تي ماته شوه.

پاتې دې نه وي چې /ي =i / د جمعې مورفيم هم دی په دې معنى ټول هغـه نومونه چې د /ay= ی/ په ديفتانګ ختم شوي وي د /ي/ په روستاړي سره جمع كېږي. لكه (سړی /ay/ سړي /i/ لرګي، لرګي پردی ay پردي /i/ ځلمی ay – ځلمي /i/ كابلی ay - كابلي /i/) .

و: په لنډ واو (و=O) ختم شوي نومونه لكه ځانګو، ورشو، پښتو، بيزو، ښارو،

ځانګو ماته شوه .

ورشو وچه شوه .

بيزو مړه شوه .

ښارو والوتله .

پښتو خرابه شوه -

د نارينه نوم نښې،

الف: ټول هغه نومونه چې په بېواك غږ ختم شوي وي لكه كور، كتاب قلم، مېز، ور، ديوال، لاس، غوږ، ورمېږ.

دا زما كور دى.

دا كتاب دى .

دا زما قلم دى .

دا دلېكلو مېز دى.

ديوال رنګ شو .

لاس مې مات شو .

غوږ مې كوڼ شو .

ورمېږ مې مات شو.

ب: ټول هغه نومونه چې د /ى= ay/ په غږ ګغږ ختم شوي وي لكه سړى، پردى، زمرى، پسرلى، دوبى، منى، ژمى، منګى، لرګى.

سړى راغى .

زمرى مړ شو .

پسرلى دى .

وريسي دوبى دى .

د كابل منى سوړ دى .

منګى مات شو .

ج: د /و= u / په خپلواك غږ ختم شوي نومونه لكه تالو، سالو، باړخو، زردالو، شفتالو، پټو، چاكو.

دليلى سالو سور دى .
زردالو پوخ دى .
شفتالو خوند ناك دى .
چاكو تېره دى .
پتو تود دى

د: په زوركى /ə/ ختم شوي نومونه لكـه زړه، وراره، تره، نيكـه، پسـه، لېوه.

د يادوني وړ ده چې د /ويياله /ə/ ، چاړه /ə/ او خوله /ə/ كليمې هم په زور كي ختم شوي دي او دا كليمې كه چېرې په مبتداء كې واقع شي خبر د مونث په شكل تصريفوي خو كه چېرې د دغو كليمو مورفالوژۍ ته كتنه وشي نو د جمع كولو په وخت كې د /ې=e/ په روستاړي جمع كـېږي او كـټ مـټ هغـه قاعده ورباندې تطبيقـېږي چې د /a/ په روستاړي ختم شوي نومونـه جمع كېږي.

وياله /ə/ ويالې .
خوله /ə/ خولې
چاړه /ə/ چړې (چاړې)

همدارنګه وګورئ د /a/ په واول ختم شوي نومونه هم په /e= ې/ جمع كېږي.

لښته /a/ لښتې
منه /a/ منې
پنه /a/ پنې
ستركه /a/ ستركې
پزه /a/ پزي

ه: د /aw= و، āy ، oy ، iw ، ew/ په غبرګغږ ختم شوي نومونه هم كه چېرې په مبتداء كې واقع شي خبر د مذكر پـه شكل تصريفوي لكه لو /Law/ پلو /plaw/ كنډو Kandaw ځاى /J̆āy/ خداى (ج) /xudāy/ ./ ځوى Zoy

تریو /triw/ لېو /Lew/

د غنمو لو دی.

هغه زموږ د کور په سر کندو دی

دا دچاځای دی.

دا زما ځوی دی.

دا ناك تریو دی.

۲-۲-۵ - عدد: (عدد څخه مطلب دادی چې یو نوم مفرد دی او کـه جمع

د نارینه نوم د جمعې علامې:

د /آن/ په روستاړي:

الف: زیاتره هغه نومونه چې په بېواك غږپای شـوي وي او ساکښ وي. خو ځیني بې سانومونه هم به /آن/ جمع کېږي .لکه :

مفرد	جمع
هلك	هلکان
پړانګ	پړانګان
مچ	مچان
کب	کبان
آس	آسان (آسونه)
نوك	نوکان (نوکونه)
ګل	ګلان (ګلونه)

ب: همدارنګه ځیني نومونه چې په خپلواکو ږغونو ختم شوي وي په /آن/ جمع کېږي لکه :

مفرد	جمع
لېوه /ə/	لېوان
ښتو	ښتوان
کارغه	کارغان

مرغه مرغان

ج: د (ay= ای) غبرګغږ ختم شوي نومونه:

دغه ډول نومونه ځينې په / آن / او ځينې د / ي / په روستاړي جمع کېږي

هغه نومونه چې د / ي / په روستاړي جمع کېږي:

مفرد	جمع
ستورى / ay /	ستوري / i /
غړى / ay /	غړي / i /
لوښى / ay /	لوښي / i /
ملګرى / ay /	ملګري / i /
اورګاډى / ay /	اورګاډي / i /
مرغومى / ay /	مرغومي / i /
پسرلى / ay /	پسرلي / i /

د: خوځينې له دغو نومونو څخه د /آن / او / ي/ دواړو روستاړو په راوړلو سره جمع کېږي لکه:

مفرد	جمع(۱)	جمع(۲)
کابلى /ay/	کابلي / i /	کابليان
ګونګى /ay/	ګونګي / i /	ګونګيان
لمسى /ay/	لمسي / i /	لمسيان
لېونى /ay/	لېوني / i /	لېونيان
کندهارى /ay/	کندهاري / i /	کندهاريان
زمرى /ay/	زمري / i /	زمريان

د / ونه / په روستاړي:

الف: زياتره هغه نومونه چې په بېواك غږ ختم شوي اوساکښ نه وي . لکه:

مفرد	جمع
مېز	مېزونه
کتاب	کتابونه

قلم	قلمونه
لاس	لاسونه
سر	سرونه
سيند	سيندونه

ب: همدارنګه ځيني خپلواکپاى نارينه نومونه او ځيني په غبرګغږ ختم شوي نومونه په / ونه / جمع کيږي:

د / aw /

مفرد	جمع
پلو	پلوونه
کنډو	کنډوونه
هنډو	هنډوونه

د / ə / په / زورکي:

تره /ə/	ترونه
وراره /ə/	وريرونه
پسه /ə/	پسونه
زړه /ə/	زړونه

د /ə/ زورکي په روستاړي:

الف: ځيني يو څپه ييز نومونه او صفتونه د /ə/ په روستاړي جمع کيږي:

مفرد	جمع
غل	غله /ə/
مل	مله /ə/
شين	شنه /ə/

مفرد	جمع
سور	سره /ə/
خر	خره /ə/
اوم	اومه /ə/
اوږد	اوږده /ə/

ب: زیاتره هغه نومونه او صفتونه چې د کلیمې د منځ خپلواك غږونه / و او ی / له منځه ځي او الف زیاتیږي او د /ə/ په روستاړي جمع کیږي.

پښتون	پښتانه /ə/
شپون	شپانه /ə/
ړوند	ړانده /ə/
کوڼ	کاڼه /ə/
موړ	ماړه /ə/
زوړ	زاړه /ə/
یوم	یامه /ə/
شکوڼ	شکاڼه /ə/
تریو	تراوه /ə/
تریخ	تراخه /ə/
پوخ	پاخه /ə/

د ښځینه نوم د جمعې علامې او نښې:

الف: د / ي - e/ په روستاړي.

ټول هغه نومونه چې د /a/ په خپلواك غږ پای شوي وي: لکه:

مفرد	جمع
لښته /a/	لښتې / e /
پڼه /a/	پڼې / e /
غرمه /a/	غرمې / e /
ونه /a/	ونې / e /
تخته /a/	تختې / e /
رمه /a/	رمې / e /
کوټه /a/	کوټې / e /
سترګه /a/	سترګې / e /
زنه /a/	زنې / e /

همدارنگه

ستنه /a/	ستني / e /
مېچنه /a/	مېچني / e /
برستنه /a/	برستني / e /
میاشته /a/	میاشتي / e /

همدا رنگه د / ə / زوزکي ځینې ختم شوي نومونه.

وياله / ə /	ويالي / e /
چاړه / ə /	چړې / e /
خوله / ə /	خولې / e /

ب: د / گاني او وې / په روستاړو.

هغه ښځینه نومونه جمع کوي چې په / - a آ / ختم شوي وي.

مفرد	د/ وې /	د / گانې /
ملا	ملاوې	ملاگانې
خندا	خنداوې	خنداگانې
ژړا	ژړاوې	ژړاگانې
نڅا	نڅاوې	نڅاگانې
بلا	بلاوې	بلاگانې
غوا	غواوې	غواگانې

ج: ځینې ساکنې نومونه چې د / əy/ (ۍ) په غبرگغږ ختم شوي وي.

انۍ	انۍ گانې
ابۍ	ابۍ گانې
بوډۍ	بوډۍ گانې

د: بل اندول يې هغه نومونه چې د / و = ه / په خپلواك غږ ختم شوي وي

مفرد	جمع
بيزو	بيزوگانې
پيشو	پيشوگانې

ورشو	ورشوګاني
راډيو	راډيوګاني
ښارو	ښاروګاني
زانګو	زانګوګاني

ه: ځيني هغه نومونه چې د / əy = ۍ / په غبرګغږ ختم شوي وي د /ګانې/ په راوړو هم جمع کېږي او کله روستاړی يې صفر وي. يعنې مفرد او جمع يې په يو شکل راځي جملې د سياق څخه مفرد او جمع يې توپير کېږي.

ځوکۍ /əy/	ځوکۍ ګانې يا ځوکۍ
کرکۍ /əy/	کرکۍ ګانې يا کرکۍ
رسۍ /əy/	رسۍ ګانې يا رسۍ
خولۍ /əy/	خولۍ ګانې يا خولۍ
څپلۍ /əy/	څپلۍ ګانې يا څپلۍ
ډوډۍ /əy/	ډوډۍ ګانې يا ډوډۍ

و: هغه مفرد مونث نومونه چې د / ي = i/ په خپلواک غږ پای شوي وي د/əy/په غبرګغږ جمع کېږي.

مفرد	جمع
دوستي / i /	دوستۍ / əy /
خپلوي / i /	خپلوۍ / əy /
ناروغي / i /	ناروغۍ / əy /
خواري / i /	خوارۍ /əy/
خوشحالي / i /	خوشحالۍ /əy/

ز: د معنوي مونثاتو جمعې بې دو ده (بې قاعدې) دي:

مفرد	جمع
مور	ميندې
خور	خويندې
نږور	نږندې

لور	لوڼې
یور	یوڼې
نجلۍ	نجونې
ترور	ترینډې

ح: د نسبتي او شریکو صفاتو ښځینه جمع د نارینه جمعو څخه د /ې = e / روستاړي په زیاتولو سره جمع کېږي.

مفرد	جمع
دوبیان	دوبیانې
موچیان	موچیانې
آشنایان	آشنایانې
خواران	خوارانې
کابلیان	کابلیانې

۳-۲-۵- حالت: له حالت څخه مراد دادی چې یو نوم په جمله کې د خپل چاپېریال په لحاظ څه حالت لري. د بېلګې په توګه لاندې مثالونو ته توجه وکړئ.

۱ زرمینه راغله.

۲ زرمینې ډوډۍ پخه کړه.

۳ ما زرمینې ته ډوډۍ پخه کړه.

۴ ما زرمینه وتړله.

۵ د زرمینې ژوند خراب دی.

۶ ای زرمینې له خوبه پاڅېږه.

که چېرې پورتنیو مثالونو ته ځیر شو وینو چې:

په لومړۍ او دویمه جمله کې / زرمینه / فاعلي حالت لري، خو په لومړۍ جمله کې / زرمینه/ په اصلي بڼه او په دویمه جمله کې په غیر اصلي / زرمینې/ په بڼه راغلې ده.

په لومړۍ جمله کې دجملې فعل لازمي دی نو د لازمي فعل فاعل په اصلي حالت راځي په دویمه جمله کې د جملې فعل متعدي دی. په تېر مهال

کې د متعدي فعل فاعل په غير اصلي بڼه استعمالېږي البته پاتې دي نه وي چې يوازې تغير منونکي نومونه په غير اصلي حالت راځي . په دريمه او څلورمه جمله کې وينو چې په دريمه جمله کې / زرمينه / د زرمينې په بڼه او ښتې ده او زرمينه غير مستقيم مفولي حالت لري نو تغير کوي.

په څلورمه جمله کې زرمينه اصلي بڼه لري نو په مستقيم مفعولي حالت کې تغير منونکي نومونه تغير نه کوي . همدارنګه په پنځم لمبر جمله کې /زرمينه/ د / زرمينې / په بڼه اوښتې ده چې مضاف اليه واقع شوې ده دا د دې معنی لري چې ټول تغير منونکي نومونه که چېرې په يوه جمله کې دمضاف اليه په توګه استعمال شي په غير اصلي حالت حالت راځي. په شپږم لمبر جمله کې / زرمينه / بيا هم د / زرمينې / په بڼه اوښتې ده چې ندايي حالت لري .

په پورتنيو څو مثالونو کې جوتېږي چې يو تغير منونکی نوم په بېلا بېلو حالتونو کې بېلا بېل شکلونه اختياروي . نو په دې توګه لومړی اوښتونکي او نه اوښتونکي نومونه ډله بندي کېږي . او وروسته په مختلفو حالاتو کې څېړل کېږي.

په پښتو ژبه کې د يو نوم حالت د فعلي عمليې او اداتو له مخې څرګندېږي او د حالت نښې يې هماغه پايلې (خاتمې) يا روستاړي دي چې په پای پورې يې نښلي .[1]

اوښتونکي نومونه:

۱ – ټول هغه نومونه چې د /ay/ په غبرګغږ ختم شوي وي:

اصلی حالت	غير اصلی حالت
سړی /ay/	سړي /i/
پردی /ay/	پردي /i/
څلمی /ay/	څلمي /i/

[1] دوکتور مجاور احمد زيار پښتو پښويه کابل : د ژبو او ادبياتو پوهنځی ، د لوړو زده کړو چاپخونه . ۱۳۶۲ : ۹۱ مخ.

اغزی /ay/	اغزي /i/
وری /ay/	وري /i/
پسرلی /ay/	پسرلي /i/
دوبی /ay/	دوبي /i/
منی /ay/	مني /i/
ژمی /ay/	ژمي /i/

۲ - ټول هغه نومونه او صفتونه چې د /a/ په خپلواک غږ پای شوي وي.

اصلی حالت	غیر اصلی حالت
تخته /a/	تختې /e/
مڼه /a/	مڼې /e/
پڼه /a/	پڼې /e/

اصلی حالت	غیر اصلی حالت
لښته /a/	لښتې /e/
سترګه /a/	سترګې /e/
پزه /a/	پزې /e/
شونډه /a/	شونډې /e/
زنه /a/	زنې /e/
ونه /a/	ونې /e/
چوغکه /a/	چوغکې /e/
چرګه /a/	چرګې /e/
ګوته /a/	ګوتې /e/
کوټه /a/	کوټې /e/
لوټه /a/	لوټې /e/
لمنه /a/	لمنې /e/
برستنه /a/	برستنې /e/

مېچنه /a/	مېچنې /e/
مياشته /a/	مياشتې /e/
ورځه /a/	ورځې /e/

هغه درې نومونه چې د تلفظ کولو په وخت کې وروستی غږیي د زورکي /ә/ په بڼه تلفظ کېږي.

وياله /ә/	ويالې /e/
چاړه /ә/	چړې /e/
خوله /ә/	خولې /e/

۱ زیاتره هغه نومونه او صفتونه چې د کلیمې د منځ /و/ لوېږي او /a/ زیاتېږي اود کليمې په پای کې د زورکي /ә/ په زیاتولو سره غیراصلی حالت ته اوړي.

اصلی حالت	غير اصلی حالت
پښتون	پښتانه /ә/
شپون	شپانه /ә/
روند	رانده /ә/
کوڼ	کاڼه /ә/
زوړ	زاړه /ә/
موړ	ماړه /ә/
يوم	يامه /ә/
پتلون	پتلانه /ә/
پرتوګ	پرتاګه /ә/
زنګون	زنګانه /ә/

۲ ځينې يو څپه ييزنومونه او صفتونه.

اصلی حالت	غير اصلی حالت
سور	سره /ә/
شين	شنه /ә/

پوخ	پاخه /ə/
اوم	اومه /ə/
اوږد	اوږده /ə/
غل	غله /ə/
مل	مله /ə/
خر	خره /ə/
مړ	مړه /ə/

۵. شخصي ضماير

اصلی حالت	غیراصلی حالت
۱- زه	ما
۲- ته	تا
۳- دی	ده/ə
دا	دې

۶: استفهامي ضماير:

څوک	چا
کومه	کومې

۷: اشاری ضمایر:

	اصلی حالت	غیر اصلی حالت	
نږدې	دغه /a/	دغه /ə/	دغې /e/
لېرې	هغه /a/	هغه /ə/	هغې /e/
لالرې	هوغه /a/	هوغه /ə/	هغوې /e/

نه اوښتونکي نومونه:

په پښتو ژبه کې ځینې نومونه هم شته چې په مفرده بڼه کې په هیڅ حالت کې تغیر نه مومي او په لاندې ډول دي.

۱ په / الف/ ختم شوي نومونه لکه کاکا ، ماما ، دادا ، کنشکا ، سبا .

۲ په / o - i ,ū / ختم شوي نومونه لکه بیزو ، ورشو ، پښتو ، تالو ،

بارخو ، سالو.

۳ د / ay- /ی / په غبرګغږ ختم شوي نومونه لکه کرکۍ ، رسۍ ، څپلۍ ، نجلۍ ، خولۍ .

۴ ځینې هغه نومونه چې په /a/ ختم شوي دي او دشریکو صفاتو په ډله کې راځي هم نارینه راځي او هم ښځینه .لکه ښایسته ، پیاده ، ساده، ډاډه ، مېلمه ، کوربه ، بوده،

۱-۳-۲-۵ فاعلي حالت: چې یو نوم په جمله کې فاعل واقع شي، کار او عمل ترې صادر شي لکه احمد درس لولي ، محمود کالي پرېمینځي ، زرمینه ډوډۍ پخوي ، په تېرو جملوکې (احمد محمود زرمینه) فاعلی حالت لري.

مخکې مو د اوښتونکو او نه اوښتونکو ډله بندي وکړه خو دا مو ونه ویل چې دغه اوښتونکي نومونه په کوم حالت کې اوړي یعنې تغیر مومي . ځکه ددرې ژبې یا نورو ژبو ویونکو له پاره چې په خپله مورنۍ ژبه کې د غسې تغیرات نه لري نو د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې له ستونزو سره مخامخ کېږي نو لازمه ده چې دغه ټول تغیرات او اوښتنې چې ډله بندي شوي په حالتونو کې وڅېړل شي.

ټول اوښتونکي نومونه که چېرې په یوه جمله کې د فاعل په توګه راشي هغه وخت تغیر کوي چې د جملې فعل (مسند) متعدي وي او فعل په تېر مهال کې واقع شوی وي په لاندې بېلګو کې دوه دوه مثالونه له هرې کتګورۍ څخه د نمونې په توګه راوړل کېږي او محترم استادان کولی شي د تدریس په وخت کې ډېر مثالونه ورکړي.

الف: د /ay/ په غبرګغږ ختم شوي نومونه :

تېرمهال	اوسمهال
زلمي /i/ ډوډۍ وخوړه /له/ .	زلمی /ay/ ډوډۍ خوري .
سړي /i/ کتاب ولوسټ .	سړی /ay/ کتاب لولي .

ب: د /a/ په واول ختم شوي نومونه:

زرمينه /a/ ډوډۍ پخوي زرمينې /e/ ډوډۍ پخه کړه
ښځه /a/ د کور کار کوي ښځې /e/ د کور کار وکړ.

ج: هغه نومونه او صفتونه چې د کليمې د منځ /و/ لوېږي او الف زياتېږي او په پای /ə/.

پښتون درس لولي پښتانه /ə/ درس ولوست
شپون رمه پيايي شپانه /ə/ رمه وپووله

د: ځينې يو څپه ييز نومونه او صفتونه:

اوس مهال تېر مهال
غل غلا کوي غله /ə/ غلا وکړه
مل د غله ملتيا کوي مله /ə/ د غله ملتيا وکړه

ه: شخصي ضماير:

۱- زه درس لولم <u>ما</u> درس ولوست
۲- ته درس لولې <u>تا</u> درس ولوست
۳- دی درس لولي ده /ə/ درس ولوست
۴- دا درس لولي دې /e/ درس ولوست

و: استفهامي ضماير:

څوك کار کوي؟ چا کار وکړ؟
کومه ښځه کالي ګنډي؟ کومې ښځې کالي ګنډل؟

ز: اشاري ضماير:

نږدې: دغه /ə/ هلك کار کوي دغه /ə/ هلك کار وکړ
دغې /e/ نجلۍ کار وکړ
لر (لرې) هغه /a/ هلك کار کوي دغه /ə/ هلك کار وکړ
هغې /e/ نجلۍ کار وکړ
لالر: هوغه /a/ هلك کار کوي هوغه /ə/ هلك کار وکړ
هوغې /e/ نجلۍ کار وکړ

په پورتنيو بېلګو کې ګورو چې اوښتونکي نومونه، صفتونه او ضماير د

متعدي ماضي په فاعلي حالت کې په غیر اصلي بڼه راځي.البته پاتې دې نه وي چې په حال زمانه کې (دجملې دفاعل په توګه) ټول اوښتونکي نومونه په اصلي بڼه استعمالیږي. خو نه اوښتونکي نومونه که چېرې د جملې فاعل واقع شي په اوس مهال او تېر مهال کې په اصلي بڼه راځي.

۵-۲-۳-۲- بې واسطه مفولي حالت

: لاندې مثالونو ته پاملرنه وکړئ.

اوسمهال	تېر مهال
احمد ما ته ډوډۍ پخوي	احمد ماته ډوډۍ پخه کړه
پلوشه زرمینې ته کمیس ګنډي	پلوشې زرمینې ته کمیس وګنډه
زمرك زرځانګې ته کتاب لولي	
زمرك زرځانګې ته کتاب ولوست	
بریالی ځلمي ته کتابچه ورکوي	
بریالي /i/ زلمي /i/ ته کتابچه ورکړه	
شپون تاته رمه پیايي	شپانه /ə/ تا ته رمه وپووله

په پورتنیو مثالونو کې (احمد ، پلوشه ، زمرك ، بریالی ، شپون) د جملې فاعل دي اما (زرمینې ، زرځانګې ،ځلمي ، تا) دجملې با الواسطه مفعول دي

همدارنګه (ډوډۍ ،کمیس، کتاب ، کتابچه ، رمه (د جملې بې واسطه مفعلول دي.

یا دا چې نومړي نومونه بې واسطه مفعولي حالت لري . او فعل په تېر مهال کې د همدغه بې واسطه مفعول سره مطابقت ښودلی یا دا چې د هغه له پاره تصریف شوی وی. له بله پلوه ویلی شو چې ټول او ښتونکي نومونه که چېرې د جملې بالواسطه مفعول شي نو په اوس مهال او تېر مهال کې په غیر اصلي بڼه استعمالیږي.

۵-۲-۳-۳- بالواسطه مغعولي حالت:

په تېرومثالونو کې(ما ، زرمینې، زرځانګې ، ځلمي ، تا) بالواسطه

مفعولي حالت لري ددې پورتنيو مثالونو څخه ړا نتيجه اخستلای شو تول او- ښتونکي نومونه که چېرې په اوس مهال او تېر مهال کې د بالواسطه مفعول په توګه واقع شي په غير اصلي بڼه استعمالېږي.

د موضوع دښه وضاحت له پاره لاندې مثالونوته توجه وکړئ.

تېرمهال	اوسمهال
ما تا ته ډوډۍ پخه کړه	زه تاته ډوډۍ پخوم
زرمينې پلوشې ته کتاب ولوست	زرمينه پلوشې ته کتاب لولي
شپانه ماته رمه وپووله	شپون ماته رمه پيايي
بريالي ده ته کتاب ورکړ	بريالی ده ته کتاب ورکوي
غله /ə/ماته غلا وکړه	غل ماته غلا کوي
ما کانه /ə/ ته درس ورکړ	زه کانه /a/ ته درس ورکوم

په پورتنيو بېلګو کې (تا - پلوشې - ما - ده - کانه) نومونه بالواسطه مفعولي حالت لري ، په اوسمهال او تېر مهال کې په غير اصلي بڼه اوښتي دي .

نو له پورتنيو توضيحاتو څخه دا نتيجه اخستلای شو چې اوښتونکي نومونه که چېرې په بالواسطه مفعولي حالت کې واقع شي په غير اصلي بڼه استعمالېږي . همدارنګه که چېرې دغه تغير منونکي نومونه د بې واسطه مفعول په توګه واقع شي نو په اصلي بڼه استعمالېږي. لکه:

تېر مهال	اوسمهال
احمد زرمينه ووهله /a/	احمد زرمينه وهي
زمرك بريالي وواهه /ə/	زمرك بريالی وهي
تور خر وواهه /ə/	تور خر وهي
اڅك شپون وواهه /ə/	اڅك شپون وهي
احمد دی وواهه /ə/	احمد دی وهي

په پورتينو مثالونو کې (زرمينه، بريالی، خر، شپون ، دی) بې واسطه مفعولي حالت لري او په اصلي حالت راغلي دي .

يادونه: د لومړي اودويم شخص مفرد ضماير (زه - ته) په اوسمهال کې د

بې واسطه مفعول په توګه په غیر اصلي بڼه (ما - تا) استعمالېږي. لکه:

تېرمهال	اوسمهال
احمد زه وهلم	احمد ما وهي
احمد ته وهلې	احمد تا وهي
احمد زه پېژندلم	احمد ما پېژني
احمد ته پېژندلې	احمد تا پېژني

په پورتنیو مثالونو کې (زه، ته) ضمایر په اوسمهال کې د مستقیم مفعول په توګه په غیر اصلي بڼه استعمال شوي دي خو وینو چې په تېر مهال د مستقیم مفعول په توګه اصلي بڼه راغلي دي نور ټول ضمایر او اوښتونکي نومونه که چېرې په جمله کې د مستقیم مفعول په توګه واقع شي په اصلي بڼه استعمالېږي. لکه:

احمد دی وهي

احمد دا وهي

احمد شپون وهي

احمد زرمینه وهي

احمد زلمی وهي

احمد غل وهي

۴-۳-۲-۵ اضافي حالت:

که چېرې یو نوم په جمله کې مضاف الیه واقع شي او یا دا چې یو څه وربورې اړه ولري دغه نوم مضاف الیه ګڼل کېږي او اضافي حالت لري. په یوه اضافي ترکیب کې لومړی / د/ د اضافت توری وروسته مضاف الیه او وروستی نوم مضاف دی. د مطلب د ښه څرګندتیا له پاره لاندې بېلګو ته توجه وکړئ.

د زرمینې قلم تور دی.

د ښځې پېزوان ښکلی دی.

د ما قلم تور دی.

د تا کمیس تور دی .
دده کتاب له ماسره دی .
ددې کتابچه له احمد سره ده .
دشپانه رمه لېوانو تالاکړه .
د ړانده امسا احمد واخیسته .
د کاڼه غوړونه ما ورپرې کړل .

په پورتنیو مثالونو کې (زرمینه ، ښځه ، ما ، تا ، ده ، شپانه، ړانده ، کاڼه) مضاف الیه واقع شوي دي چې اضافي حالت لري او یو څه ورپورې اړه لري، له بله پلوه وینو چې ټول اوښتونکي نومونه چې مخکې ذله بندي شول که چېرې په یوه اضافي ترکیب کې د مضاف الیه په توګه واقع شي په غیر اصلي بڼه استعمالېږي که څه دغه ترکیب توصیفي وي او که ملکي یا تشبیهي .

د یا مهٔ	/ә/	لاستی
د پرتاګه	/ә/	پایڅه
د زنګانه	/ә/	سر
د پتلانه	/ә/	پایڅه
د پښتانه	/ә/	ژوند
د ځلمي	/i/	ځواني
دغله	/ә/	غلا
دمله	/ә/	ملتیا
د پلوشې	/e/	ښکلا

۵-۳-۲-۵- ندایي حالت:

که چېرې یو نوم ته بلنه یا غږ شوی وي . بلننوم یا منادي بلل کېږي . او حالت یې ندایي حالت وایي . په ندایي حالت کې د نورو حالتونو پر خلاف ټول هغه نومونه چې په کانسوننت (بېواک) غږ ختم شوي وي په ندایي حالت کې د دغونومونو په پای کې /a/ زیاتېږي. لکه :

اي غله /a/ ! غلامه کوه .
اي ځوانه /a/ ! دا کارمه کوه.
اي هلکه /a/ ! دلته راشه .
اي احمده /a/ ! مه خورېږې.
اي استاده /a/ ! ستا په پوهې قسم دی.
اي هېواده /a/ ! ستا په لوړو غرومې قسم دی.

همدارنګه ټول هغه نومونه چې په غبرګغږ ختم شوي وي په ندايي حالت کې د نوم په پای کې /a/ زیاتېږي.

اي سړیه /a/ !
اي زمریه /a/ !
اي پسرلیه /a/ !
اي پردیه /a/ !
اي شپونکیه /a/ !

هغه نومونه چې د /a/ په خپلواك غږ ختم شوي وي په ندايي حالت کې د نوم په پای کې /ې/ زیاتېږي.لکه :

اي ښځې! د کور کار وکړه .
اي پلوشې! کمیس مې وګنډه .
اي چرګې ! بې ځایه آذانونه مه کوه.
اي زرمینې ! خپل درسونه ولوله .

همدارنګه ټول معنوي مونثات په ندايي حالت کې د نوم په پای کې / ې - e/ زیاتېږي. لکه :

اي مورې ! ستاله کړېدلي ژوند څخه ځارشم.
اي لورې ! د خپل وطن پت او عزت وساته.
اي خورې ! دا وطن ستا مېړاني ته ضرورت لري.
اي وربندارې ! خپل زامن ښه وروزه.
اي ترینديې ! خپل پت او عزت ته پام کوه.

پاتې دي نه وي چې نور نه اوښتونکي نومونه څرنګه چې په نورو حالتونو کې تغير نه کوي په ندايي حالت کې هم اوړون نه مومي ، لکه :

اى ليلى له خوبه پاڅه . اي ملا آزان وکړه ، اى کاکا ستا مينې ته ضرورت لرم :

اي ماما زما ښې هيلې ومنه . اي ځانګو ستا په غبرګ کې د هېواد ماشوم روزل کېږي.

۵-۳ - د نوم څلورګونې ډلې:

په پښتو ژبه کې نومېزې ډلې په څلورو برخو وېشل کېږي . نوم ، صفت ، ضمير او عدد .

۵-۴- د نوم ډولونه: چې ژبپوهان يې اسم بولي يو داسې نوم دى چې د يو ځاى ، شي يا پديدې نومونه او څرګندونه کوي او دا وروسته ډولونه لري.

۱-۴-۵- ذات رسم : چې په يو حس کېدونکې څيز اړه لري يا په بل عبارت داسې يو څيز نوموي چې زموږ په حوا سو حس کېداى شي لکه لرګى ، ډبره ، ونه ، هوا ،لښته، اوبه.

۲-۴-۵- د معنى اسم: هغه اسم ته وايي چې په يو غير محسوس څيز پورې اړه لري او جسماً په بهر کې وجود نلري لکه بدي ، ښه والى ، پوهه ، فکر ، ننګ، غيرت ، وېره ، غم ، انديښنه ، دروناوى، سپکاوى.

۳-۴-۵- خاص اسم : چې يو خاص څيز، پديده ، شخص يا ځاى نوموي لکه : خوازك، زرمينه، پکتيا ، غزني، هند ، افغانستان ، کندهار ، ننګرهار.

۴-۴-۵- عام اسم: داسې څيز يا پديده نوموي چې ځانګړى اوخاص نه وي بلکې ډولونه او ځېلونه ولري لکه : هېواد ، ځاروي، ولس، ونه، هلك ، نجلى.

۵-۴-۵- جنس اسم : چې په يوه نه شمېرېدونکي څيز اړه لري لکه او به

غوړي ، تېل ، غنم

۵-۴-۶- جمع اسم : چې یوه ډله او جمعیت نوموي لکه ټولګی ، رمه ، ټبر ، لښکر

۵-۴-۷- صوت اسم : چې طبیعي یا مصنوعي آوازونو انګازه نوموي لکه: د رزهار ، ګړپهار ، ترپهار.

۵-۵- صفت او د هغه ډولونه :

صفت چې په مستقله توګه د یو څه نوم نه وي خو د یو شي څرنګوالی ښيي لکه روغ ، غښتلی ، کمزوری ، ښایسته ، تور ، سپین ، سور ، خړ.

په پښتو ژبه کې صفت د لوړتیا دپوړونو یا د لړوالي ، ډېروالي ،[٤٣] مستوالي یا تندوالي بېلابېلې ښکاره درې ګونې درجې نلري لکه په دری ژبه کې : (به ، بهتر ، بهترین ، بزرګ ، بزرګتر ، بزرګترین) له دې کبله په پښتو ژبه کې یو صفت دا داتو په ملتیا خپله درجه او طبقه ښکاره کوي لکه : (ښه ، ډېر ښه ، خورا ښه ،) یا (سپین ، ډېر سپین ، خورا سپین).

۵-۵-۱- عادي صفت : چې د یو شي یا شخص څرنګوالی په مطلق او کلي ډول بیانوي پرته له هغه چې په مقایسوي شکل وي یا د هغه درجه او اندازه وښيي لکه ښه سړی ، بد هلك ، توره تخته.

۵-۵-۲- مقایسي (پرتلیز) صفت : **الف**: د / ډېر / اداتو په ملتیا:

لکه دا خولۍ تر هغې خولۍ ډېره ښکلې ده یا احمد تر ما ډېر ذکي دی.

ب: مقایسي (پرتلیز) صفت د (خورا یا لا) اداتو په ملتیا :لکه :

دا خولۍ تر هغې خولۍ خورا ښکلې ده . یا زما ورور تر ما ذکي دی .

۵-۷- د صفت او موصوف ګرداني مطابقت:

په پښتو ژبه کې صفت خپل موصوف سره د جنس عدد او حالت له پلوه ګردانېږي صفت د خپل موصوف سره د ګرداني اړخونو له کبله په عمومي توګه په درې کټګوریو وېشل کېږي.

الف: هغه ډله صفات چې خپل موصوف سره د جنس مذکر د عدد لـه پلوه بشپړ سمون نه لري ، خو د جنس مونث موصوف سره بشپړ سمون ښيي.

مذکر مفرد	مذکر جمع	مونث مفرد	مونث جمع
سپین قلم	سپین قلمونه	سپینه کتابچه	سپیني /e/ کتابچې
تورقلم	تور قلمونه	توره /a/ تخته	توري /e/ تختې
خړ آس	خړ آسونه	خړه /a/ اسپه	خړې /e/ اسپې
ژیړ کمیس	ژیړ کمیسونه	ژیړه /a/ کرتی	ژیړې /e/ کرتی
بد هلك	بدهلکان	بده /a/ نجلی	بدې /e/ نجونې
ښه /ə/ هلك	ښه /ə/ هلکان	ښه /a/ ښځه	ښې /e/ ښځې

ب: هغه ډ له صفات چې د جنس مذکر او جنس مونث د عدد له پلوه خپل موصوف سره بشپړ سمون ښيي او په لاندې ډول دي.

مذکر مفرد	مذکر جمع	مونث مفرد	مونث جمع
سورآس	سره /a/ آسونه	سره /a/ لمنه	سرې /e/ لمنې
شین چمن	شنه /a/ کمیسونه	شنه /a/ لمنه	شنې /e/ لمنې
اوږد کمیس	اوږده /a/ کمیسونه	اوږده /a/ لمنه	اوږدې /e/ لمنې
پوخ ناك	پاخه /ə/ ناکونه	پخه /ə/ مڼه	پخې /e/ مڼې
اوم ناك	اومه /ə/ ناکونه	اومه /ə/ مڼه	اومې /e/ مڼې
تریخ انار	ترخه /ə/ انارونه	ترخه /ə/ مڼه	ترخې /e/ مڼې
خوږ انار	خواږه /ə/ انارونه	خوږه /ə/ مڼه	خوږې /e/ مڼې

ج: ځینې شریك صفات دي چې د خپل موصوف سره د جنس او عدد لـه پلوه سمون نه ښيي.

مذکر مفرد	مذکر جمع	مونث مفرد	مونث جمع
ساده /a/ هلك	ساده /a/ هلکان	ساده /a/ نجلی	ساده /a/ نجونې
پیاده /a/ هلك	پیاده /a/ هلکان	پیاده /a/ نجلی	پیاده /a/ نجونې

لاهوهلك	لاهو هلكان	لاهو نجلۍ	لاهو نجونې
اشنا هلك	اشنا هلكان	اشنا نجلۍ	اشنانجونې

۵-۷ - عدد اسم : عدد هغه كليمه ده چې په خپلواك ډول څه نه نوموي بلكې د يو څيز په نوم پورې اړه لري . خو د ستاينوم غوندې څرنګوالی نه ښيي بلكې تعداد تدرج او پوړوالی ښيي لكه يوه ، دوه ، درې، يا لومړی ، دويم ، دريم .

شمېر نوم يا عدد لاندې ډولونه لري.

١ اصلي عدد لكه يو ، دوه ، درې، څلور ، پنځه ، شپږ او نور.

٢ وصفي يا رتبي عددلكه لومړی ، دويم ، دريم ، څلورم ، پنځم او شپږم ،

٣ كسري عدد. چې داړوند څيز نوم ماتوالی او برخه والی ښيي لكه : يو پر دوه دوه پر څلور ، درې پر پنځه ، پنځه پر شپږ.

۴ انقسامي عدد : چې مربوط څيز نوم ويشنه او جوړه جوړه كونه څرګندوي لكه يو يو ، دوه ، دوه ، درې ، درې ، څلور ، څلور ، او داسې نور.

۵-۸ د عدد اومعدود ګرداني سمون.

په پښتو ژبه كې عدد تر معدود د مخه راځي او لړو ډېر ګردانېږي . په پښتو ژبه كې (يو او دوه) د جنس له پلوه د خپل معدود سره سمون ښيي لكه :

يو كتاب	دوه كتابونه
يوه /a/ كتابچه	دوې /e/ كتابچې

خو نور اصلي اعداد د خپل معدود سره سمون نه ښيي . لكه :

درې قلمونه	درې كتابچې
څلور قلمونه	څلور كتابچې

پاتې دې نه وي چې د حالت له پلوه هم عدد خپل معدود سره ګردانېږي .

مذكر	مونث
ديوه /ə/ غله /ə/	يوه /a/ غله /a/
ديوه /ə/ خره /ə/	ديوې /e/ غلې /e/

دوه غله /ə/ دوو غلو — دوه غلې /e/ د دوغلو
دوه غله /ə/ ددو غلو
درې غله /ə/ د ذروغلو — درې غلې /e/ ددرو غلو
څلور غله /ə/ دڅلوروغلو — څلور غلې /e/ د څلورو غلو
پنځه غله /ə/ د پنځوغلو
پنځه مله /ə/ پنځو ملو — شپږ ملې /e/ د شپږو ملو

۹-۵- ضمير pronoun:

ضمير هغه کلمه ده چې د يو نوم نمايندګي کوي يا د نوم پر ځای استعمالېږي . چې پخوا په کلام کې د هغه ذکر راغلی وي . د ضمير دنده او وظيفه په خبرو کې د تکرار مخنيوی دی . ځکه تکرار د کلام د ضعف سبب ګرځي.

ضمير د نورو نومونو پر خلاف د جنس، عدد او حالت سر بېره د شخص له پلوه هم اوړون مومي.

۱۰-۵- د ضمير ډولونه : ضمير د شکل او چار له مخې په لاندې ډولو وېشل کېږي .

۱-۱۰-۵- شخصي ضماير: دغه ضماير پردوه ډولو وېشل کېږي.

الف: غښتلي (قوي) منفصل ضميرونه : Strong pronoun

هغو ضميرونو ته ويل کېږي چې په يوازې (خپلواک) توګه استعمالېږي او د بلې کليمې سره پيوست او متصل نه راځي يا په بل عبارت په خپلواکه توګه معنی ښندي. ددغو ضمايرو مفرده بڼه دوه حالته لري. اصلي حالت او غير اصلي حالت.

د مطلب دښه وضاحت له پاره په لاندې ډول وړاندې کېږي.

غښتلي (قوي) ضماير Strong pronoun:

اشخاص		مفرد		جمع
		اصلي حالت	غیر اصلي حالت	اصلي حالت
۱		زه	ما	موږ
۲		ته /ə/	تا	تاسي
۳	نرینه	دی هغه /a/	ده /ə/ هغه /ə/	دوی
	ښځینه	دا هغه /a/	دې /e/ هغې /e/	هغوی

ب : کمزوري ضمایر: Weak pronoun:

هغو ضمیرونو ته ویل کېږي چې په خپلواکه توګه کومه معنی نه ښندي او کله چې د یو نوم سره استعمال شي خپل مفهوم او معنی په ډاګه کوي.

پاتې دې نه وي چې دغه ضمیرونه ملکي نا خپلواک ضمیرونه هم دي د مطلب دښه څرګند تیا له پاره لاندې جدول ته پاملرنه وکړئ.

کمزري ضمایر: Weak pronoun

شخص	مفرد	جمع
۱	مې	مو
۲	دې	یې
۳	یې	یې

مثالونه : کتاب مې راکړه ، کتاب مې واخیست، کتاب دې واخله. کتاب یې واخیست، کتابونه مو واخیستل ، کتابونه یې واخیستل ، کتابونه مو واخلئ.

۲-۱۰-۵-ملکي یا اضافي ضمیرونه:

چې د یو شي ملکیت او متعلقیت ښیي : لکه :

اشخاص	مفرد		جمع
۱	زما		زموږ
۲	ستا		ستاسي
۳	نارینه	دده /ə/	د دوی
	ښځینه	ددې /e/	د دوی

زما کتاب راکړه — کتاب مې راکړه

زموږ کتابونه راکړئ — کتابونه مو راکړئ

کتاب دې واخله — کتابونه مو واخلئ

ستا کتاب چېرې دی؟ — کتاب دې چېرې دی؟

دده کتاب چېرې دی؟ — کتاب یې چېرې دی؟

ددې کتاب واخله — کتاب یې واخله.

۳-۱۰-۵- اشاروي ضمیرونه: هغو ضمیرونو ته وایي چې اشخاصو او ښیزونو ته اشاره کوي. اشاري ضمیرونه هم د نوم پر ځای استعمالیږي. په پښتو ژبه کې اشاري ضمیرونه، د شخص، عدد، او حالت سربېره ددریم وګړي لپاره د واټن (فاصله) له مخې ګردانیږي.

۳	واټن (فاصله)	مفرد اصلي حالت	مفرد غیراصلي حالت	جمع اصلي حالت	جمع غیراصلي حالت
۳	[illegible]	دغه /a/	دغه /ə/	دغه /a/	دغو
۳		دغه /a/	دغې /e/	دغه /a/	دغو
۳	[illegible]	هغه /a/	هغه /ə/	هغه /a/	هغو
۳		هغه /a/	هغې /e/	هغه /a/	هغو
۳	[illegible]	هوغه /a/	هوغه /ə/	هغه /a/	هغو
۳		هوغه /a/	هوغې /e/	هوغه /a/	هوغو

اصلي حالت: د لازمي فعل سره د فاعل په توګه په ټولو زمانو کې.

د متعدي فعل سره د فاعل په توګه یوازې په اوسمهال کې.
غیر اصلي حالت: په متعدي ماضي کې د فاعل په توګه.
د غیر مستقیم مفعول په توګه په ټولو زمانو کې.
په اضافي حالت کې د مضاف الیه په توګه

۴-۱۰-۵- استفهامي ضمیرونه :

چې د یوې پوښتنې له پاره په کار لوېږي چې د شخص ، زمان ، ځای، څرنګوالي او شومره والي له مخې لاندې ډولونه لري اوځینې یې د حالت له مخې اوړون مومي.

څوک: (چا) : چې د شخص یا اشخاصو له پاره استعمالېږي. اصلي حالت یې (څوک) او په لاندې مواردوکې استعمالېږي .

د لازمي فعل سره د فاعل په توګه په ټولوزمانو کې .
د متعدي فعل سره د فاعل په توګه یوازې په اوسمهال کې.
د مستقیم مفعول په توګه په ټولو زمانو کې .

(چا) : غیر اصلي حالت په لاندې مواردو کې استعمالېږي.

- د متعدي ماضي په فاعلي حالت کې

د غیر مستقیم مفعول په توګه په ټولو زمانوکې .
په اصلي حالت کې د مضاف الیه په توګه .

کوم (کومه): د شخص یا اشخاصو او شیانو له پاره راځي دغه ضمیر له حالت څخه سربېره د جنس له پلوه هم ګردانېږي .لکه:

کوم سړی راغی ؟	کومه ښځه راغله ؟
کوم سړي /ا/	کاروکړ کومې ښځې کار کړی دی
کوموسړیو جنګ وکړ	کوموښځو کالي وګنډل

کله : زمان پوښتنې اواوړون نه ګردانېږي.لکه :

کله راغلې ؟ کله به راشې؟ کله دې درس ولوست ، کله درس لولې؟

چېرې : دغه ضمیر ځای پوښتنې ګردان نلري لکه چېرې ځې، چېرې کار

کوي.

څنګه : چې د يو شخص يا شي يا يو عمل څرنګوالی پوښتي لکه :
څنګه راغلې؟ څنګه دې وپېژنده ؟ څنګه راغلې؟ څنګه دې وواهه ؟

څه: چې زياتره د يوشي يا شخص پېژندنه پوښتي او زياتره په اسم جنس پورې اړه لري او ګردان نلري . لکه : څه دې وکړل؟ ،دا څه دي؟ څه يې ارزښت دی؟

څو: چې داشخاصو يا اشياوو شمېر پوښتي او څکه تل د جمع په شکل استعمالېږي لکه:
څو هلکان راغلل؟ څو نجونې راغلې؟ څو کميسونه دې واخيستل ؟

څومره : چې زياتره د اشياوو اواشخاصو شمېر او د جنس د څرنګوالي او کيفيت مقدار او درجه ښيي لکه . څومره شاګردان راغلل ؟ څومره غنم دې واخيستل ؟ څومره ښکلي دي.

ولې: چې د يو عمل او پېښې عامل او سبب پوښتي لکه ولې راغلې؟ ولې درس نه وايې ؟ ولې خاندې؟ ولې دې احمد وواهه ؟/۵/

۵-۱۰-۵- پلوي يا قيدي ضماير چې د يو عمل او فعل سمت او پلو داشخاصو له پلوه ښيي او درې بڼې لري (را- در- ور) ۱

را- دمتکلم لورى ښيي (لومړى شخص)

در- د مخاطب لورى ښيي (دويم شخص)

ور- د غائب لورى ښيي (دريم شخص)

دغه ضماير د (تلل) فعل په سر کې لوېږي .لکه:
راځم ، درځم ، ورځم.

۵-۱۰-۶- مبهم ضميرونه: چې د يو نامعين شخص لـه پاره راځي او په لاندې ډول دي:

هر : چې د جنس او حالت له مخې اوړون مومي او زياتره د مفرد لـه پاره راځي . لکه هر ځلمي ،هرې پېغلې هر کميس ،هره کرتی ، هره پېغله ، هرې

پېغلې.

په اوښتي حالت کې د جمع له پاره لکه :

په هرو پنځو تنو کې يو ړوند و . زه په هرو دوو کلونو کې حج ته ځم .

د افغان جريده په هرو دوو او نيو کې يو وار خپرېږي . زه د هرو درو ورځو وروسته پوهنتون ته ځم.

بل: يوازې د شمېرېدونکي مفرد نوم پر ځای راځي لکه بل څوك ، بل هلك بله نجلۍ ، بله پېغله ، د جنس او حالت له پلوه اوړون مومي.

نور: د اسم جنس او جمع ښکارندويي کوي دا هم د جنس او حالت له پلوه ګردانېږي.

لکه نور هلکان ، نورې نجونې، نورغنم ، د نورو پېغلو ، نوره اوسپنه ، نورې اوبه .

ټول : ټول هم دنورغونډې په اسم جنس اوجمع پورې اړه لري د جنس اوحالت له پلوه اوړون مومي . لکه : ټوله خاوره ،د ټولې خاورې ، ټول هلکان ، د ټولو هلکانو ، ټول غنم ، د ټولو غنمو.

همدارنګه ځينې، هيڅ اوڅوك هم مبهم ضميرونه دي ، څوك سر بېره چې استفهامي ضمير دی مبهم ضمير هم دی لکه : څوك نشته.

يادونه : څوك په اصل کې هيڅوك دی چې /هې/ لويدلې ښکاري . او اوړونې ښه هم لري لکه هيچا ډوډۍ ونه خوړه يا هيچا سمه خبره ونه کړه .

۵-۱۰-۷ - اشتراکي ضمير (خپل)

اشتراکي ضمير هم د نوم پر ځای په کار وړل کېږي څرنګه چې دارنګه ضمير د لومړي، دويم، اودريم شخص مفرد اوجمع له پاره يو ډول استعمالېږي، مشترك ضمير ورته وايي مشترك ضمير د جنس اوحالت له مخې ګردانېږي لکه : شپون خپله رمه پيايي . خپل درس دې لوله .

خپلوکارونوته پاملرنه وکړه . خپلو همځولو سره مرسته وکړه . بريالی له خپلې خوښې نه اوړي.

۱۱-۵- د موضوعاتو لنډيز او پوښتنې:

۱ خپلواك يا غير مقيدمورفيمونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې خپلواکه توګه خپله معنی ښندي لکه قلم، کتاب، اونور.

۲ په خپلواکو مورفيمونوکې نوم ، قيد ، اوفعل راځي.

۳ نومونه په عمومي توګه څلورګونې ډلې لري اوپه لاندې ډول دي (اسم ، ضمير، صفت، او عدد)

۴ اسم هغې کليمې ته وايي چې بې د زمانې له اړيکې څخه دراز راز پديدو او شيزونو ثر ګندونه کوي . لکه تيږه ، لرګی ، ونه ، روغ، روغتيا ، سړی اونور.

۵ نوم د درې اړخونوله مخې اوړون مومي ، جنس،عدد ، اوحالت .

۶ ضمير سره بېره پر جنس ،عدد او حالت د شخص له پلوه هم اوړون مومي.

۷ صفت چې په يو شيز نوم اړه لري اود هغه ځرنګوالی ښيي لکه تود ، سوړ، غټ،سور، ښکلې، اوداسې نور.

۸ د صفت اوموصوف ګرداني مطابقت . صفت له خپل موصوف سره مطابقت ښيي. په دې معنی چې صفت د عدد او جنس له پلوه خپل موصوف له پاره ګردانېږي لکه : ښه /ə/سړی، ښه /a/ ښځه . بد هلك ، بدې نجونې سره /a/ منه سرې منې

۹ شمېر نوم يا (عدد اسم) لکه ستاينوم غونډې په يو شيز نوم اړه لري بلکې د شيز نوم څومره والی اوتدرج ښيي . لکه يو قلم ، دوه قلمونه ، لومړی لمبر ، دويم لمبر.

۱۰ شمېر نوم هم لکه ستاينوم غونډې له خپل معدود سره لړو ډېر اوړون مومي. په پښتو ژبه کې (يو او دوه) خپل معدود سره د جنس له پلوه مطابقت ښيي . يو کتاب ، دوه کتابه ، يوه کتابچه ، دوې کتابچې ، يا دوه غله /ə/دوې غلې ، د درې غلو ، د دروغلو.

۱۱ شمېر نوم په څلورو ډولو وېشل کېږي . اصلي عدد لکه يو ،دوه ، درې ، څلور. و صفي يا رتبي عدد لکه لومړی ، دويم، دريم. څلورم.

کسري عدد چې د اصلي عدد يوه برخه ښيي لکه يو پر دوه ، درې پر څلور ، پنځه پر شپږ، توزيعي عدد چې د معدود وېشنه په مساوي برخو ښيي ، او د اصلي عدد له تکرار څخه جوړېږي. لکه : دوه ، دوه ، درې، درې، څلور ، څلور.

پوښتنې :

۱ خپلواك مورفيمونه کوم دي؟
۲ نوم پر څو ډلو يا کټګوريو وېشل کېږي؟
۳ ستاينوم تعريف کړئ؟
۴ ضمير او د هغه ډولونه په لنډه توګه وواياست.
۵ نوم د کومو اړخونوله مخې ګردانېږي ؟
۶ د صفت او موصوف مطابقت تشريح کړئ.
۷ شمېر نوم څه ډول نوم ته وايي؟
۸ د شمېر نوم ډولونه وواياست.
۹ د عدد اومعدود مطابقت تشريح کړئ .
۱۰ لاندې اصطلاحات تشريح کړئ ، جنس ، عدد، حالت، شخص.
۱۱ کمزوري شخصي ضماير کوم دي ؟ په جدول کې يې وښياست.

شپږم څپرکی

قید

قیدونه هغه ژبني عناصر دي چې د یو فعل د پېښېدنې څرنګوالی ښيي د ا څرنګوالی دفعل دپېښېدلو ځای یا مهال ټاکي او یا څرګندتیا ، ټینګار اوداسې نورې ځانګړتیاوې ښکاره کوي ، په پښتو کې اصلی قیدونه نه ګردانېدونکي دي خو غیر اصلي لکه ځېنې نومونه اوستاینومونه چې په څېرمه دول د قیدونو په توګه راځي ګردانېدونکي دي:

۱-٦ د قیدډولونه : په پښتو ژبه کې قیدونه په نه ګرادنېدونکي او ګردانېدونکو باندې وېشل کېږي.

۲-٦- اصلي قیدونه (نه ګرانېدونکي قیدونه):

۱-۲-٦- د زمان قید : چې د مهال له مخې د یو فعل پېښېدنه څرګندوي لکه اوس، دمخه، پخوا، وړاندې، سملاسي، وړمه ورځ، وړمه شپه، پرون ورځ ، پرون شپه ، نن ،سبا ،نن شپه ، نن ګهیځ، نن غرمه ، نن مابنام ، سبا ته ، بل سبا ، ګهیځ ، سهار، غرمه ، ماسپښین ، مازدیګر ،دوخته ،ناوخته ،لمر خاته ، لمر پرېواته ، سږکال، پروسږکال ، وړم کال ،لا وړم کال ، کال ته، بل کال ته .

۲-۲-٦- دمکان قید: چې د یو فعل پېښېدنه د ځای اوچاپېریال له مخې څرګندوي لکه دلته ، هلته ، دلې ،دورې ، هورې، مخکې ، وروسته ،

شاه ته ، مخ ته ، بېرته ، وړاندې ، کښته ، پورته ، لاندې باندې ، دننه ، د باندې ،آخوا ، دېخوا ، مخامخ.

۳-۲-۶- څرګندونې اوتینګارې قیدونه :چې د یو فعل دپېښېدنې څرګندتیا حالت یا ټینګابښیي . لکه په پټه ، په ډاګه ، په څرګنده، په ځغرده ، ډانګ پیلي ، په ښکاره ، په غلا ، په زیار ، په خوارۍ ، په مېړانه ، په زور،په وېره ، په خوښه ، په وړو ، په مړو سترګو ، په ټیټو سترګو ، په جګه ،په کلکه ، په ټینګه ، زړه نازړه ، په ناسته ، په ولاړه ، په منډه ، په ملاسته ، هرو مرو ، په هر ډول ، په هڅه ، خوشې په خوشې ،څه نا څه ،لږ ودېر.

۳-۶- ګردانېدونکي قیدونه :

ځینې قیدونه شته کله چې له لازمي فعل سره راشي هلته بیا د جملې د فاعل له پاره تصریف کېږي. خو که د متعدي فعل سره راشي هلته بیا د جملې د مفعول لپاره تصریف کېږي . البته دغه تصریف د جنس ، عدد او شخص له پلوه تر سره کېږي.[1]

۱-۳-۶- د لازمي فعل سره:

دلته فعل لازمي دی او قید د جملې د فاعل له پاره تصریف شوی دی.

الف:

ناتېره زمانه	تېره زمانه
زه (مذکر) دروند دروند ګرځم	زه (مذکر) دروند دروند ګرځېدم
زه (مونث) درنده درنده ګرځم	زه (مونث) درنده درنده ګرځېدم
ناتېره زمانه	تېره زمانه
موږ(مذکر) درانده درانده ګرځو	موږ (مذکر) درانده درانده ګرځېدو

(۱) حبیب الله تږی له فاعل او مفعول سره د فعل او قید مطابقت کابل : پښتو ټولنه کابل مجله : دولتي مطبعه۱۳۵۷ ، ۷۴ مخ

موږ (مونث) درنديٍ درنديٍ ګرځو	موږ (مونث) درندي درندي ګرځېدو
ته (مذکر) دروند دروند ګرځې	ته (مذکر) دراندہ دراندہ ګرځېدې
تاسې (مونث) درنديٍ درنديٍ ګرځئ	تاسې (مونثـه) درنديٍ درنديٍ ګرځېدئ
دغه هلك دروند دروند ګرځي	دغه هلك دروند دروند ګرځېده
دغه نجلۍ درنده درنده ګرځي	دغه نجلۍ درنده درنده ګرځېده
دغه هلکان دراندہ دراندہ ګرځي	دغه هلکان دراندہ دراندہ ګرځېدل
دغه نجونې درنديٍ درنديٍ ګرځي	دغه نجونې درنديٍ درنديٍ ګرځېدلې

۲-۳-۶- دلته فعل متعدي دی او قید د جملې دمفعول له پاره تصریف شوی دی.

ب:

نا تېره زمانه	تېره زمانه
تور ما (مذکر) پوخ پېژني	تور زه (مذکر) پوخ پېژندلم
تورما (مونث) پخه پېژني	تور زه (مونث) پخه پېژندلم
تور موږ (مذکر) پاخه پېژني	تور موږ (مذکر) پاخه پېژندلو
تور موږ (مونث) پخې پېژني	تور موږ (مونث) پخې پېژندلو
ناتېره زمانه	تېره زمانه
تورتا (مذکر) پوخ پېژني	تور تا (مذکر) پوخ پېژندلې
تور تا (مونث) پخه پېژني	تورتا (مونث) پخه پېژندلې
تور تاسې (مذکر) پاخه پېژني	تورتاسې (مذکر) پاخه پېژندلئ
تور تاسې (مونث) پخې پېژني	تور تاسې (مونث) پخې پېژندلئ
تور دغه هلك پوخ پېژني	تور دغه هلك پوخ پېژنده
تور دغه نجلۍ پخه پېژني	تور دغه نجلۍ پخه پېژندله
تور دغه نجونې پخې پېژني	تور دغه نجونې پخې پېژندلې

که چېرې موږ د الف او ب ردیف مثالو نوته ځیر شو وینو چې د الف په ردیف کې د جملې فعل لازمي دی او قید (دروند-دروند) دجملې د فاعل لپاره تصریف شوی دی هلته چې د جملې فاعل مذکر وي قید /دروند دروند / په

شکل خو هلته چې د جملې فاعل جمع مذکر دی قید د / درانده درانده / په بڼه همدارنګه هلته چې د جملې فاعل مونث دی قید د /در ندې در ندې / په بڼه ظاهر شوی دی . همدارنګه د /ب/ ردیف مثالونه راښیي چې د جملې فعل متعدي دی او قید دجملې د مفعول له پاره ګردان شوی دی.

د /ب/ ردیف په مثالونو کې هلته چې مفعول مفرد مذکر دی قید د /پوخ/ په شکل خو هلته چې د جملې مفعول مفرد مونث دی قید د /پخه / په بڼه همدارنګه هلته چې د جملې مفعول جمع مذکر دی قید د /پاخه/په شکل او کله چې د جملې مفعول جمع مونث دی قید د /پخې/ په شکل ګردان شوی دی.

نو د پورتنیو بېلګو څخه څرګندېږي چې ځینې قیدونه هم تصریف کېږي . په دې معنی چې کله د جملې فعل لازمي دوي قید دجملې د فاعل له پاره د جنس او عدد له پلوه تصریفېږي او کله چې د جملې فعل متعدي وي نو هلته بیا قید د جملې د مفعول له پاره د جنس او عدد له پلوه ګردانېږي.

۴-٦- د موضوعاتو لنډیز او پوښتنې

١ قید د یو فعل د پېښېدنې څرنګوالی ښیي دا څرنګوالی د فعل د پېښېدلو ځای ، مهال، څرګندتیا او نورې ځانګړتیاوې ښکاره کوي.

٢ په پښتو ژبه کې اصلي قیدونه نه ګردانېدونکي دي خو غیر اصلي قیدونه لکه نومونه او صفتونه چې کله کله دقیدونو په توګه راځي ګردانېدونکي دي . اصلي قیدونه په لاندې ډول دي.

الف: د زمان قید چې د زمان او وخت له مخې د فعل پېښېدنه څرګندوي .لکه : اوس ، دمخه ، پخوا ، ورمه ورځ، پرون ، سږکال، نن ورځ.

ب: د مکان قید : چې د یو فعل پېښېدنه دځای اوچاپیریال له مخې څرګندوي لکه دلته ، هلته ، لاندې، باندې، اخوا ، دېخوا.

ج: څرګندنې اوټینګاري قیدونه: چې د یوفعل د پېښېدنې حالت یاټینګار ښیي لکه : په پټه ، په ښکاره ، په ډاګه ، په زیار ، زړه نازړه ،

۳ ګردانېدونکي قيدونه: ځينې قيدونه شته که چېرې د لازمي فعل سره راشي هلته بيا د جملې د فاعل له پاره او که د متعدي فعل سره راشي د جملې د مفعول له پاره تصريف کېږي. لکه د لازمي فعل سره: زه (مذکر) دروند دروند ګرځم / زه (مونث) درنده درنده ګرځم. موږ (مذکر) درانده درانده ګرځو. موږ (مونث) درندې درندې ګرځو. د متعدي فعل سره: احمد ما (مذکر) پوخ پوخ پېژني، احمد ما (مونث) پخه پېژني، احمد موږ (مذکر) پاخه پېژني، احمد موږ (مونث) پخې پېژني.

پوښتنې:

١ قيد تعريف کړئ.

۲ اصلي قيدونه په څو برخو وېشل کېږي؟

۳ د مکان قيد مثالونه په بېلګو کې وښياست.

۴ څرګندني او ټينګاري قيدونه کوم دي؟

۵ ګردانېدونکي قيدونه کوم دي؟

۶ ګردانې‌دونکي قيدونه که چېرې له لازمي فعل سره راشي د جملې د کوم عنصرله پاره تصريف کېږي؟

۷ لاندې جملې په غور سره ولولئ اوقيد وښياست.
احمد په خندا راغی، احمد پروسږکال بريالی نشو.
زه ډانګ پييلې تا ته وايم چې دا کار مه کوه.
پرون ملا احمدته وويل چې کيهځ راشه.
زه له تاسره څه نا څه کار لرم.

۸ لاندې جملې په غور سره ولولئ او واياست چې قيد د جملې دکوم عنصر له پاره تصريف شوی دی. احمد تود تود ګرځي، ملالۍ توده توده ګرځي، احمد او محمود تاوده تاوده ګرځي. ملالۍ او تورپېکۍ تودې، تودې ګرځي. زه زرمينه پخه پېژنم. احمد ملالۍ او تورپېکۍ پخې پېژني، موږ احمد اومحمود پاخه پېژنو.

اووم څپرکی

فعل

فعل دوېناد يو عمده جز په توګه په يوه زمانه کې د کار په کولو او يا د يوې پېښې په پېښېدو دلالت کوي يا په بل عبارت فعل هغې کلمې ته وايي چې په يوه زمانه کې ديو کار او پېښې په کېدو دلالت کوي. لکه احمد خط ليکي، احمد به کورته لاړشي، زرمينې خط وليکه. فعل پراخ مفهوم لري اوبېلا بېل موضوعات په برکې نيسي.

څرنګه چې يو فعل په يوه زمانه کې دکار او پېښې په پېښېدو دلالت کوي په تاکلي شخص اوټاکلي زمانې پورې اړه لري، فعل ځانګړې رېښې لري، همدارنګه فعل د اشتقاق ځانګړي صورتونه او وجه لري. فعل دوېنا مهم اوعمده جز تشکيلوي چې له فعل څخه پرته جمله نيمګړې بلل کېږي او کله هم فعل په يوازې توګه يوه جمله جوړوي.

۱-۷- د فعل ګرداني اړخونه:

په پښتو ژبه کې يو فعل په عمومي توګه د لاندې اړخونوله مخې ګردانېږي:

۱-۱-۷- شخص:

په پښتو ژبه کې فعل شخص څرګندوي. په فعل کې د شخص د اړخ څرګندېدل هماغه تصريفي روستاړي دي چې د فعل په اصل (رېښه) پورې نښلول کېږي لکه:

زه خورم /م/ /əm/

ته خور+ ي /e/

دی خور + ي /i/

دا خور+ ي /i/

په پورتنیو مثالونو کې (ام– ې – ي) د لومړي ، دویم ، اودریم شخص مفرد څرګندوی دي.

۲-۱-۷: عدد :

په پښتو ژبه کې د شخص د اړخ څرګندېدل د مفرد او جمع بڼې لري په فعلونو کې دمفرد او جمعې د بڼې د څرګندېدو له پاره مشخص او ټاکلي مورفیمونه نشته بلکې هماغه د شخص تصریفي روستاړي دي چې د مفرد اوجمعې بڼې هم ښکاره کوي لکه په لاندې بېلګو کې :

(الف) مفرد	(ب) جمع
زه کتاب لول+ام	موږ کتاب لول+و
ته کتاب لول+ې	تاسې کتاب لول+ئ
دی کتاب لول+ي	دوی کتاب لول+ي
دا کتاب لول+ي	دوی کتاب لول+ي

په پورته مثالونو کې د/الف / په ردیف کې / ام –ې- ي) روستاړي د لومړي ، دویم اودریم شخص څرګندوی دی مګر په /ب/ ردیف کې / و- ئ-ي) د لومړي ، دویم اودریم شخص د جمع څرګندوی دي.

یادونه : ددریم شخص په مورد کې په ناتېره زمانه کې د دریم شخص مفرد اوجمعې له پاره یوازې یو شکل د /ي/ په بڼه ظاهر شوی دی دا ددې معنی لرې چې په ناتېره زمانه کې د دریم شخص په مورد کې فعل یوازې د شخص له پلوه خپل فاعل سره مطابقت ښودلی دی نه د عدد له پلوه.

خو د لومړي اودریم شخص په مورد کې فعل د فاعل له پاره د عدد له پلوه په منظمه توګه ګردان شو ی په دې معنی هلته چې د جملې فاعل موږ اوتاسې جمع دي تصریف روستاړي د /و- ئ / په بڼه ، خو ددریم شخص په مورد کې یوازې د /ي/ په بڼه څرګند شوي دي.

۳-۱-۷- جنس : چې شخص نارینه وي اوکه ښځینه . البته په پښتو ژبه کې د جنس څرګندېدل یوازې د دویمې ریښې په ګردان کې څرګندېدای شي یا په بله وینا د جنس مساله یوازې په تېر مهال څرګندېږي هغه هم د دریم شخص په مورد کې د لومړي اودویم شخص په مورد کې که ښځینه اوکه نرینه دي فعل یوازې د شخص اوعدد له پلوه مطابقت او سمون ښیي.
د موضوع د ښه څرګندتیا له پاره لاندې بېلګو ته توجه وکړئ.

نا تېره زمانه

جمع	مفرد
موږ پا څېږ + و /u/.	زه پاڅېږ+ام /ə̂m/
تاسي پاڅېږ+ئ /əy/	ته پاڅېږ+ې /e/
دوی پاڅېږ+ي /i/	دی پاڅېږ+ي /i/
دوی پاڅېږ+ي /i/	دا پاڅېږ+يْ /i/

تېره زمانه

جمع	مفرد
موږ پاڅېد+و /u/	زه پاڅېد+ام /ə̂m/
تاسې پاڅېد+ئ /əy/	ته پاڅېد + ې /e/
دوی (جمع مذکر) پاڅېد+ل /əl/	دی پاڅېده + ه /a/
دوی (جمع مونث) پاڅېد+لې /Le/	دا پاڅېد+له /la/

په پورتنیو مثالونو کې په ناتېره زمانه کې فعل د لومړي او دویم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه د فاعل له پاره تصریف شوی دی . خو د دریم شخص په مورد کې فعل یوازې د شخص له پلو ه د فاعل له پاره ګردان شوی دی.
خو په تېره زمانه کې د لومړي دویم شخص په مورد کې فعل بیا د شخص او عدد له پلوه د فاعل له پاره تصریف شوی دی مګر د دریم شخص په مورد کې فعل سربېره پر شخص اوعدد د جنس له پلوه هم د فاعل سره مطابقت ښودلی

دی.

۲-۷- دفعل وجه :

فعل داستعمال او معنوي افادې له پلوه بېلابېلې بڼې او شکلونه ځان ته نیسي . نوپه دې لحاظ فعل د بیان د طرز او شکل له پلوه په مختلفو ډولونو وېشل کېږي. چې په لنډه توګه لاندې ډولونه لري.

الف: اخباري وجه یا صورت چې د یو کار کېدل دخبر په دود بیانوي لکه بریالي خط لیکلي دي ، توریالی اوس لوی شوی دی، ځلمی راغلی دی.

ب: شرطي صورت : چې یو کارد شرط په حالت بیان کړي لکه : که درمل وخورې جوړ به شې. که درس ولولې کامیاب به شې.

ج: چې د یوکار کېدل امکاني صورت دامکان په صورت بیانوي یا په بل عبارت د یو کار کېدل یا نه کېدل ترې څرګندېږي د / شول اوکېدل/ مرستیال فعلونو په ګردانولو سره ترسره کېږي. ما ولوستلی شو ، تا وخوړلای شو، ده ولیکلای شو

د : احتمالي صورت : په دغه صورت کې د یو کار سرته رسول په شك او تردد بیانوي ما به ډوډی خوړلی ، موږ به درس لوستلی. تا به احمد وهلی.

هـ: امري صورت : چې دیو کار کېدل د امر او حکم په شکل څرګند کړي لکه: زما کتاب راکه ، دلته کښېنه ، هلته لاړ شه .

و : مصدري صورت : چې د کار کېدل دزمان او وخت له تاکل کېدو پرته څرګند کړي،فعل په دغه صورت کې دمصدر په بڼه راځي لکه ذکوت ورکول فرض دی، لیدل کتل مو سره وشول.

ز: تمنایي صورت : چې د یو کار هیله او تمنا څرګندوي چې تر مسندالیه د مخه د کاشکې ادات ورسره یو ځای کېږي لکه کاشکې زه راغلی وای، کاشکې یو ځل مې لیدلای وای .

۳-۷- د فعل صیغه :

په پښتو ژبه کې فعل د دوو صیغو لرونکی دی ، معلوم او مجهول د فعل صیغه هغه وخت معلومه بلل کېږي چې د جملې فاعل معلوم وي یا په بل عبارت فاعل په عین زمان کې مسندالیه وي لکه احمد راغی . محمود خط ولیکه ، ځلمی ښوونځي ته ولاړ.مجهول فعل ؛ چې فاعل یې څرګند او معلوم نه وي او مفعول د مسندالیه په توګه راغلی وي لکه : احمد ووهل شو ، ډوډۍ وخوړل شوه، خط ولیکل شو

۴-۷- د فعل معنوي اړخ (لازمي اومتعدي) :

په پښتو ژبه کې فعل د معنی له پلوه په لازمي او متعدي وېشل کېږي.
الف: لازمي فعل : هغه فعل ته وایي چې مفعول نه قبلوي او فعل په تېره او ناتېره زمانه کې د جملې د فاعل لپاره تصریف کېږي یا دا چې فعل په تېره زمانه کې د جملې د فاعل سره مطابقت ښیي چې البته دغه مطابقت په نا تېره زمانه کې د لومړي او دویم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه او د دریم شخص په مورد کې یوازې د شخص له پلوه فعل د فاعل لپاره تصریف کېږي. په تېر مهال کې لازمي فعل د لومړي او دویم په مورد کې د شخص او عدد له پلوه د جملې د فاعل له پاره تصریف کېږي خو ددریم شخص په مورد کې سر بېره پر شخص او عدد د جنس له پلوه هم فعل سره سمون ښیي. د موضوع د ښه څرګند تیا لپاره لاندې جدولونو ته توجه وکړئ.

ناتېره زمانه			تېره زمانه		
شخص	مفرد	جمع	شخص	مفرد	جمع
۱	زه کښېن + ام /əm/	موږ کښېن+و /u/	۱	زه کښېناست+ ام /əm/	موږ کښېناست+و /u/
۲	ته کښېن+ې /e/	تاسې کښېن +ئ /əy/	۲	ته کښېناست+ ې /e/	تاسې کښېناست+ئ /əy/
۳	دی کښېن +ي /i/ دا کښېن +ي /i/	دوی کښېن+ ي /i/	۳	دی کښېناست /ə/ دا کښېناست /له/	دوی (مذکر) کښېناست+ال دوی (مونث) کښېناست+لې.

په پورتني جدول کې په ناتېر مهال ګردان شوي فعل کې د لومړي او دويم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه فعل د فاعل له پاره تصريف شوی دی خو د دريم شخص په مورد کې فعل يوازې د شخص له پلوه له فاعل سره مطابقت ښودلی دی .

په تېره زمانه کې فعل د لومړي او دريم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه خو د دريم شخص په مورد کې د جنس له پلوه هم فعل د فاعل سره سمون ښودلی دی په پښتو ژبه کې ټول فعلونه که لازمي دي او که متعدي په ناتېره زمانه کې د فاعل سره مطابقت ښيي خولازمي فعل په دواړو زمانو کې د فاعل لپاره تصريف کېږي.

ب: متعدي فعل :

متعدي فعل هغه فعل ته وايي چې مفعول قبلوي اوفعل په تېره زمانه کې د جملې د مفعول لپاره اوړون مومي. البته دغه اوړون د شخص ، عدد او جنس له پلوه تر سره کېږي. لاندې مثالونوته پاملرنه وکړئ.

تېره زمانه :

شخص	مفرد	جمع
۱	احمد زه ووهل+ام /ƏM/	احمد موږ ووهل+و /u/
۲	احمد ته ووهل+ې /e/	احمد تاسې ووهل+ئ /Əy/
۳	احمد دی وواهه /Ə/ احمد دا وو هـ/ له/	احمد دوی(مذکر)وواهـ /ال/Əl/ احمد دوی (مونث) وو /لې/le/

په پورتني جدول کې هلته چې د فعل مفعول لومړی او دويم شخص مفرد وي فعلي روستاړی د /ام e-/ اوکله چې د فعل مفعول /موږ او تاسې / جمع وي ، فعلي روستاړي د /و-ئ/ په بڼه ظاهرې شوې دي ځکه په فعلونو کې د مفرد او جمع بڼې د څرګندېدو له پاره مشخص او ټاکلي مو رفيمونه نشته بلکې هماغه دشخص تصريفي روستاړي دي چې د مفرداو جمعې شکلونه هم ښکاره کوي(۲-۲-۷-)

خو ددريم شخص په مورد کې په تېره زمانه کې د جنس مساله هم رابرسېره کېږي لکه چې په پورتني جدول کې وينو هلته چې د فعل مفعول دريم شخص /دی –دا/ مفرد مذکر او مفرد مونث دی فعلي روستاړي د /Ə- له / په بڼه همدارنګه هلته چې دفعل مفعول /دوی/ جمع مذکر او جمع مونث دی فعلي روستاړي د / ال/ / لې/ په بڼه څرګند شوي دي نو په نتيجه کې ويلي شو چې د

دريم شخص په مورد کې فعل په تېره زمانه دجنس له پلوه هم دمفعول لپاره تصريف کېږي.

يادونه: په پښتو ژبه کې يو شمېر افعال شته چې په نحوي لحاظ د لازمي افعالو په لړ کې درېږي يعني مستقيم مفعول نه غواړي . دغه فعلونه په ناتېره زمانه کې کټ مټ د نورو ټولو لازمي افعالو په څېر د خپل فاعل لپاره تصريف کېږي مگر په تېره زمانه کې تل په يوه شکل ظاهرېږي او د شخص عدد اوجنس له پلوه کوم اوړون نلري . لاندې مثالونو ته توجه وکړئ.

ناتېره زمانه	تېره زمانه
زه خاند+ ام /əm/ ته خاند+ې /e/	ما خند+ ال /əl/ تا خند+ال /əl/
دی خاند+ ي / اَي/ دا خاند+ي /i/	ده خند+ ال /əl/ دې خند+ ال /əl/
احمد خاند+ ي /i/ ملالۍ خاند+ي /i/	احمد خند+ال /əl/ ملالۍ خند+ال /əl/
مور خاند+ و /u/	مور خند+ال /əl/
تاسې خاند+ ئ /əy/	تاسې خند+ال /əl/
دوی(مذکر) خاند+ ي /i/	دوی خند+ال /əl/

دوي(مونث) خاند+ي /أ/	دوی خند+ال /əl/
دغه هلکان خاند+ ي /أ/ دغه نجوني خاند+ي /أ/	دغو هلکانو خند+ال /əl/ دغو نجونو خند+ال /əl/
احمد اومحمود خاند+ي /أ/ تورپيکی اوملالی خاند+ي /أ/	احمد او محمود خندل /əl/ تورپيکی اوملالی خند+ال /əl/

کوم افعال چې دغه عادت ښيي دهغو شمېر محدود دی او بايد چې د ژبې زده کوونکوته دسهولت لـه پاره لست کړی شي . نو د موضوع د ښه وضاحت لـه پاره ددغې ډلې فعلونو بشپړ لست او پـه ناتېره او تـېره زمانـه کې د هغـوی ريښې د مثالونو سره وړاندې کېږي.

ناتېره زمانه — تېره زمانه

ريښه	مثال	ريښه	مثال
خاند	تورخاند ي /أ/	خند	احمد او تور خند ال /əl/
ژاړ	پري ژاړ ي /أ/	ژړ	ليلی او پري ژړ ل /əl/
لامب	ليلی لامب ي /أ/	لمب	ليلی لمب ل /əl/

زانګ	زرمینه زانګ ي /i/	زنګ	زرمیني زنګ ل /əl/
ناخ	ملالۍ ناخ ي /i/	نخ	ملالۍ تېوخل /əl/
غاپ	سپي غاپ ي /i/	غپ	سپي غپل /əl/
انګ	خر انګ ي /i/	انګ	خره انګل /əl/
توخ	سړی توخ ي /i/	توخ	سړي ټوخل /əl/
ششن	اس ششن ي /i/	ششن	اس ششنل /al/
دانګ	تور دانګ ي /i/	دانګ	تور دانګل /əl/

له پورتنیو مثالونو څخه دا نتیجه لاس ته راځي چې دغه ډله افعال په تېره زمانه کې د جملې د فاعل سره مطابقت نه د ی ښودلی که فاعل مفرد دی که جمع اویا مونث دی فعل په یو شان ګردان شوی دی .

۵-۷- د فعل اصل :

ریښه د فعل اصل اوبنسټ دی ، ریښه هغه کلیمې ته وئیل کېږي چې تاړی په هغه پورې نښلي اونوې کلیمې جوړوي . ریښه نه یوازې د فعل په برخه کې بلکې د نومونو په برخو کې هم دځېړنې او تحقیق وړ ده همدارنګه ترکیبي اسمونه هم ریښه اوهم تاړي لري لکه : غمجن ، هنرمند ،شته مند ، چې په پورته مثالونو کې د (غم ، هنر ، شته) ریښه او (جن، مند) تاړي دي.

ریښه پر دوه ډوله ده. یوه د ناتېرې او بله تېرې زماني. لکه (خور، اغوند) د ناتېرې زماني ریښې دي او (خوړ_ اغوست، لوست، کښېناست) د تېرې زماني. مستقبل فعل کومه جلا ریښه نه لري بلکې دناتېرې زماني ریښه (حال) ورسره شریکه ده یا په بل عبارت د ناتېرې زماني (حال) او مستقبل ریښه یوه ده خو یوازې د مستقبل فعل سره یو جز یعنې /به/ د معاون په حیث زیاتېږي لکه:

زه به خورم، زه به اغوندم، زه به کښېنم، زه به لولم.

۶-۷- د پښتو فعلونو ډله بندي د هغوی د اصل پر اساس:

پښتو فعلونه د خپل مورفالوژیکي جوړښت له پلوه په درو عمده برخو وېشل کېږي.

۱-۶-۷- هغه ډله افعال چې په ناتېره او تېره زمانه کې فعل یوه ریښه لري یعنې په ناتېره او تېره زمانه کې فعل یوه ریښه لري او په دوو ډلګیو وېشل کېږي.

(الف ډله: دغه ډله فعلونه په نحوي لحاظ د متعدي فعلونو په ډله کې راځي او شخصي پایلې (خاتمې) یې ښځ په نښغه په ریښه پورې نښلي په ناتېره زمانه کې دجملې د فاعل له پاره او په تېره زمانه کې د جملې د مفعول د پاره تصریف کېږي.

د کار د اسانتیا لپاره لومړی ددغې د لې فعلونه بشپړ لست وړاندې کېږي او په دریمه برخه کې ځو فعلونه د مثال په توګه ګردانېږي او ځانګړتیاوې په ګوته کېږي

ددې فعلونو مصدري (اسم فعل) بڼې دا دي.

ترل تاکل ګنل تورل
پلتل څښل بښندل روزل
ګنډل ځتل شیندل نغمل
څنډل څېړل غندل څیرل
پوښتل رټل کرل ګنل
پلورل زبېښل ګالل کاږل
اچول ژغورل لړل ربېل
استول سپارل لیکل لونل
لېږل ستایل مینځل راوړل
ښښل داغل وهل ساتل
پالل شاربل منل لېښل
تومبل شړل لوښل وړل

دا دي د مطلب د ښه څرګندتیا له پاره ددغې ډلې فعلونو څخه یو څو فعلونه د بېلګې په توګه ګردانېږي.

ترل (ریښه = تړ)

ناتېره زمانه

مفرد جمع

شخص مفرد	ریښه	فعلي خاتمه	شخص	جمع	ریښه	فعلي خاتمه
۱ زه	تړ	ام əm	۱	موږ	تړ	ولا
۲ته	تړ	ې /e/	۲	تاسې	تړ	ئ əy
۳ دی دا	تړ	ي /i/	۳	دوی	تړ	ي /i/

تیره زمانه

مفرد				جمع			
فاعل	مفعول	دفعل ریښه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل ریښه	فعلي خاتمه
زه (ما)	احمد ملالۍ	تړ	/ə/ /لم/	موږ	احمد او محمود ملالۍ او تورپېکۍ	تړ	ال əL لې le
ته (تا)	احمد ملالۍ	تړ	/ə/ /لم/	تاسې	احمد او محمود تورپېکۍ او ملالۍ	تړ	ال əl لې Le
دي (ده) دا (دې)	احمد ملالۍ	تړ	/ə/ /اله/	دوی	احمد اومحمود تورپېکۍ او ملالۍ	تړ	ال əL لې Le

موږ وینو چې په ناتېره زمانه کې فعل د جملې د فاعل له پاره تصریف شوی او فعلي خاتمې (ام – و – ي – ئ) په بڼه ظاهرې شوې دي او د فعل ریښه د /تړ/ په بڼه راغلې ده.

همدارنګه په تېرې زمانې کې هلته چې د جملې مفعول مفرد مونث او مفرد مزکر وي فعلي خاتمې د / له - ə/ په بڼه او هلته چې مفعول جمع مزکر او جمع مونث وي فعلي خاتمې په ترتیب سره د /ال او لې/ په شکل څرګندې شوې دي او د فعل ریښه لکه د ناتېرې زمانې په شان د /تړ/ په بڼه راغلې ده.

بل مثال : ګنډل (ګنډ = ریښه)

ناتېره زمانه

مفرد / جمع

شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
۱ زه	ګنډ	ام /ðm/	مونږ	ګنډ	و /u/
۲ ته	ګنډ	ې /e/	تاسې	ګنډ	ئ /ðy/
۳ دی دا	ګنډ	ي /i/	دوی	ګنډ	ي /i/

تېره زمانه

فاعل	مفعول	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
زه(ما)	کميس کرتی	ګنډ	/ð/ /ـلم/	مونږ	کميسونه لمنې	ګنډ	ال /ðL/ لې /Le/
ته(تا)	کميس کرتی	ګنډ	/ð/ /ـلم/	مونږ تاسې	کميسونه لمنې	ګنډ	ال /ðl/ لې /Le/
دی(دا) دا(دوی)	کميس کرتی	ګنډ	/ð/ /لم/	مونږ دوی	کميسونه لمنې	ګنډ	ال /ðl/ لې /le/

له پورتنيو مثالونو څخه ځرګندېږي چې په ناتېره زمانه کې فعل د جملې دفاعل له پاره تصريف شوی دی او فعلي خاتمې په ترتيب سره (ðm ، e, ðy, u او ي) په بڼه ظاهري شوي دي. خو په تېره زمانه کې ځرنګه چې فعل

متعدي دی فعل د جملېدمفعول له پاره تصریف شوي دی هلته چې د جملې مغعول / کمیس ، کورتی/ دي فعلي خاتمي د / ə - له / په بڼه او هلته چې د جملې معقول / کمیتونه/او لمنې / دي مفلي خاتمې د / L ə -Le/ ، / ال - لې/ په شکل راغلې دي خو په دوارو زمانو کې د فعل ريښه په یو شان /گنډ/ په بڼه ظاهره شوې ده نو ویلی شو چې / گنډل/ ريښه په تېره او ناتېره زمانه کې خپله بڼه نه ده اړولې او په یو شان گردان شوې ده.

نو په نتیجه کې ویلی شو چې ددغې ډلې ټول فعلونه کټ مټ همدغه تصریفي بڼې لري یعني په ناتېره زمانه کې د جملې دفاعل له پاره او په تېره زمانه کې د مغعول له پاره تصریف کېږيْ او دفعل ريښه په دوارو مهالونو کې خپله بڼه نه اړوي.

ددغې ډلې فعلونو مطلق شکل له غیر مطلق شکل (استمراري) د / و wə / دمختاړي په راوړو سره چې د مطلقیت د پریفکس په نامه نومول شوی دی توپیر کېدای شيْ.

مطلق شکل	غیر مطلق شکل(استمراري ماضي)
احمد کتاب و - پلټ /ə/	احمد کتاب پلټ /ə/
احمد لمنه و - گنډ /له/	احمد لمنه گنډ /له/
احمد محمود و - پوښت /ə/	احمد محمود پوښت /ə/
احمد توت و - خنډ /ال /əl/	احمد توت خنډ JHəL
احمد کمیس - و پلور /ə/	احمد کمیس پلور /ə/
احمدلیك و- استوه /ə/	احمد لیك استو /ə/
ما خپل ورور و- پاله /ə/	ما خپل ورور پال /ə/
مطلق شکل (ماضي)	غیر مطلق شکل (استمراري ماضي)
ما گل و+ تومب /ə/	ماگل تومب /ə/
ملالی لوښی و+څټ /ə/	ملالی لوښی څټ /ə/
ده ورځپانه و+ څیرله /له/	ده ورځپانه څیر /له/

احمد ملالی رټ /له/	احمد ملالی و+رټ /له/
ما غړکه شارب/له/	ماغړکه و+شارب /له/
توریالی ملالی غند /له/	توریالي ملالی و+غند /له/

په همدي ډول وينو چي ددغې ډلې فعلونه شکل له غير مطلق شکل څخه د /و wә/ مختاړي په واسطه توپير کېداي شي.

د /ب/ ډله: دغه ډله فعلونه د لازمي او متعدي دواړه شکلونه لري ددغو فعلونو متعدي شکل د لازمي څخه جوړېږي په دې ډول چې د اوسمهال په ريښه پوري دمصدر جوړولو له پاره د / يدل/ پر ځای د / ول / روستاړی راوړل کېږي.

دا دي دموضوع د ښه څرګندتيا له پاره ددغې ډلې فعلونه لازمي او متعدي شکلونه (مصدري شکلونه) په لاندې ډول ښودل کېږي.

لازمي بنه	متعدي بنه	لازمي بنه	متعدي بنه
لړزېدل	لړزول	لګېدل	لګول
ځړېدل	ځړول	تبنتېدل	تبنتول
غوړېدل	غوړول	ځغلېدل	ځغلول
رپېدل	رپول	خنډېدل	خنډول
ځورېدل	ځورول	غوړېدل	غوړول
چغېدل	چغول	لمبېدل	لمبول
خوځېدل	خوځول	لوبېدل	لوبول
ډارېدل	ډارول	نخېدل	نخول
غړېدل	غړول	نړېدل	نړول
شلېدل	شلول	ژړېدل	ژړول
غورځېدل	غورځول	خندېدل	خندول
ويرېدل	ويرول	بهېدل	بهول

پرزېدل   پرزول   پاڅېدل   پاڅول

اوس ګورو چې ددغې ډلې فعلونو (متعدي شکل) په تېره او ناتېره زمانه کې دفعل ريښه په يو شان ګردانېږي او فعل خپله ريښه نه بدلوي.

د مطلب دښه وضاحت له پاره لاندې جدولونو ته پاملرنه وکړئ.

رېول (رېو= ريښه) ناتېره زمانه

مفرد			جمع		
شخص	د فعل ريښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
۱ زه	رېو	ام /ǝm/	موږ	رېو	و /u/
۲-ته	رېو	ې /e/	تاسې	رېو	ئ /ǝy/
۳ دی دا	رېو	ي /i/	دوی	رېو	ي /i/

تېر مهال

د رېول (رېو = ريښه)

فاعل	مفعول	دفعل	فعلي	فاعل	مفعول	دفعل	فعلي

		ريښه	خاتمه			ريښه	خاتمه
١. ما	بیرغ	رپو	/ә/	موږ	بیرغ	رپو	/ә/
تا	بیرغ	رپو	/ә/	تاسي	بیرغ	رپو	/ә/
ده دي	جنډه	رپو	/Lә/ له/	دوی	جنډه	رپو	/Lә/ له/

له پورتنیو مثالونو څخه جوتېږي چې د فعل ريښه /رپو/ په ناتېره او تېره زمانه کې په یو شکل راغلې ده. دادی ددغې ډلې د یو بل فعل گردان ته پاملرنه وکړئ.

غولول (غولو= ريښه)

شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
زه	غولو	ام /әm/	موږ	غولو	و /u/
ته	غولو	ي /e/	تاسي	غولو	/ә/ئ/
دی دا	غولو	ي /i/	دوی	غولو	ي /i/

په تېر مثال کې د فعل ريښه د /غولو / په بڼه څرگنده شوې ده. او فعلي خاتمې په ترتیب سره د /ام –ي-ي-و-ئ / په شکل څرگند شوي دي.

تېر مهال

فاعل	مفعول	دفعل ریښنه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل ریښنه	فعلي خاتمه
مفرد				جمع			
ما	ملالی	غولو	له ، La	موږ	احمد او محمود	غولو	ال/əl
تا	ملالی	غولو	له Lā	تاسي	ملالی او تورپېکی	غولو	لې le
ده	احمد	غولو	/ə/	دوی	احمد او محمود	غولو	ال əl
دي	ملالي	غولو	له				

له پورتنيو مثالونو څخه جوتېږي چې د فعل ريښنه ، /غولو/، په ناتېره اوتېره زمانه کې په يوه بڼه /غولو/ په شکل راغلې ده.

څرنګه چې فعل متعدي دی په ناتېره زمانه کې دجملې د فاعل له پاره تصريف شوی دی او په تېره زمانه کې د جملې دمفعول له پاره ګردان شوی دی او فعلي خاتمې په ترتيب سره /ə/ د مفرد مذکر لپاره /له/ د مفرد مونث لپاره /ال/ دجمع لپاره / Le / لې د جمع مونث له پاره راغلي دي او دفعل ريښنه په تېره او ناتېره زمانه کې په يو شان /غولو/ په بڼه راغلې ده .

يادونه: ددغې ډلې فعلونو مطلق له غير مطلق شکل (استمراري) څخه د / او / /wə/ . د مختاړي په زياتولو سره توپير کېدای شي .

دادی دموضوع دښه روښانتيا لپاره د دغې ډلې د فعلونو مطلق شکل له غير

مطلق شکل څخه په مثالونو کې ښودل کېږي او کټ مټ هغه عادت څرګندوي چې د الف ډلې څرګندول.

استمراري ماضي		مطلقه ماضي	
ريښه	فعلي خاتمه	ريښه	فعلي خاتمه
ما ونه لړزو	/اه/	ماونه وکړزو	/اه/
مالرګۍ لګو	/ə/	ما لرګی .لګو	/ə/
ما شېدې څښو	/الې/	ما شېدې و څښو	/الې/
ما احمد درو	/ə/	ما احمد ودرو	/ə/
ما ملالۍ غولو	/اه/	ما ملالۍ وغولو	/اه/
ما جنډه رپو	/اه/	ما جنډه ورپو	/اه/
ما بيرغ څړو	/ə/	ما بيرغ وڅړو	/ə/
ما احمد تبنتو	/ə/	مااحمد وتبنتو	/ə/
ما احمد ځغلو	/ə/	ما احمد وځغلو	/ə/

ما احمد څنډو /ځ/ ما احمد وڅنډو /ځ/

په پورته ډول وينو چې دغه ډله فعلونه د الف ډلګي په شان مطلق شکل يې له غير مطلق شکل (استمراري ماضي) څخه د /وwə/ مختاړي په زياتولو سره توپير کيداى شي.

۲-۶-۷- دويمه ډله فعلونه :

دغه ډله فعلونه چې ريښه يې په ناتېره او تېره زمانه کې خپله ښه اړوي دغه ډله فعلونه چې په ناتېره او تېره زمانه کې خپله بڼه اړوي په لاتدې ډول دي او په لازمي اومتعدي وېشل کېږي.

لازمي	متعدي	متعدي
۱- الوتل	۱-ښکښتل	۱۲- راتلل
۲- وتل	۲نيول	۱۳خوړل
۳ختل	۳پېژندل	۱۴- پرانيستل
۴- اوښتل	۴موندل	۱۵- پرېښوول
۵-رغښتل	۵- اورېدل	۱۶-ويشتل
۶-نښتل	۶-غوښتل	۱۷- راوستل
۷- کښېناستل	۷- اغوستل	۱۸- لوستل
۸- څملاستل	۸- پوول	۱۹- نغښتل
	۹- ښوول	۲۰- کاږل
	۱۰- ليدل	۲۱- کتل

دغه ډله فعلونه له لومړۍ ګڼې تر اتمې ګڼې پورې لازمي فعلونه دي . په دې معنی چې په تېره او ناتېره زمانه کې د جملې دفاعل له پاره تصريف کېږي.

خو ددغو فعلونو متعدي شکل چې له لومړۍ ګڼې تر ۲۱ ګڼې پورې لست شوي دي په ناتېره زمانه کې د جملې دفاعل له پاره او په تېره زمانه کې دجملې د مفعول لپاره ګردانېږي .

او د دواړو (لازمي او متعدي) فعلونو ريښه په ناتېره اوتېره زمانه کې خپلې بڼې اړوي يعنې د فعل اصل (ريښه) د لومړۍ ډلې پر خلاف په تېره او ناتېره

زمانه کې خپله بڼه اړوي . لاندې بېلګو ته پاملرنه وکړئ.

(وتل) په ناتېره زمانه کې رېښه = /وځ/

شخص	دفعل رېښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل رېښه	فعلي خاتمه
زه	وځ	ام /əm/	موږ	وځ	و /u/
ته	وځ	ې /e/	تاسې	وځ	ئ /əy/
دی دا	وځ	ي /i/	دوی	وځ	ي /i/

(وتل) په تېره زمانه کې رېښه = /وت/

شخص	دفعل رېښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل رېښه	فعلي خاتمه
زه	وت	ام /əm/	موږ	وت	و /u/
ته	وت	ې /e/	تاسې	وت	ئ /ay/
دی دا	وت	∅ /ə/ La /له/	دوی	وت	ال /əL/ لې /Le/

په پورته مثالونو کې په ناتېره زمانه کې دفعل رېښه /وځ/ اوفعلي حاتمه په ترتیب سره / (ام – و- ې-ئ-ي) په ښه ظاهرې شوې دي چې فعل د فاعل له پاره د شخص او عدد له پلوه ګردان شوی دی.

خو په تېره زمانه کې د فعل رېښه / وت/ اوفعلي خاتمې په ترتیب سره / ام –و- ې-ئ-او∅ له –ال- لې/ په ښه څرګندې شوې دي داددې معنی لري څرګند چې فعل لازمي دی د لومړي اودویم شخص په مورد کې فعل د شخص او عدد له پلوه خو د دریم شخص په مورد کې د جنس له پلوه هم فعل د فاعل له پاره تصریف شوی دی.

دادی ددغې ډلې د يو بل فعل ګردان ته پاملرنه وکړئ.

(کښېناستل) په ناتېره زمانه کې دفعل رېښه = کښېن.

شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
زه	کښېن	ام əm	موږ	کښېن	و /u/
ته	کښېن	ې /e/	تاسې	کښېن	ئ /əy/
دی دا	کښېن	ي /i/	دوی	کښېن	ي /i/

(کښېناستل) په تېره زمانه کې ريښه = کښېناست.

شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	شخص	دفعل ريښه	فعلي خاتمه.
زه	کښېناست	ام əm	موږ	کښېناست	و /u/
ته	کښېناست	ې /e/	تاسې	کښېناست	ئ /əy/
دی دا	کښېناست	ə /ə/ لــه /La/	دوی دوی	کښېناست کښېناست	ال /əl/ لــې /Le/

په پورته ډول وينو چې په ناتېره زمانه کې دفعل ريښه /کښېن/ او په تېره زمانه کې دفعل ريښه /کښېناست/ په بڼه څرگنده شوې ده اوفعلي خاتمې په دواړو زمانو کې د لومړي اودويم شخص په مورد کې په ترتيب سره د / əm ام – و - /u/ - /e/ ې او – əy ئ / په بڼه دي خو ددريم شخص په مورد کې په ناتېره زمانه کې يوازې په يوه بڼه (ي- /i/) څرگند شوې ده ، په تېره زمانه کې د دريم شخص په مورد کې فعلي خاتمې ə / - له – ال- لې/ په بڼه راغلې دي چې د عدد او جنس له پلوه د فعل سره مطابقت ښودلی دی.

ددغې ډلې د لازمي فعلونو مطلق شکل لـه غير مطلق شکل (استمراري ماضي) څخه د / و- wə/ د مختاړي په زياتولو سره توپير کېدای شي.

غير مطلق (استمراري ماضي) — مطلقه ماضي

مرغی الوت -له — مرغی والوت-له

احمد وت- ə — احمد ووت- ə /ə/

احمد خوت (خت) /ə/ — احمدو+ خوت /ə/

زه اوښت -ام — زه و+ اوښت -ام

ددغې ډلې دوه فعلونه (کښېناستل اوځملاستل) د ځپې د فشار په بدلون سره مطلق شکل له غير مطلق شکل توپير کېدای شي.

غير مطلق شکل	مطلق شکل
زه ځملاست+اَم	زه ځمُلاستم
cəmla stə̄m	cōmlastəm
زه کښېناست+اَم	زه کښېناست+ام
ksēnāstə̄m	ksēnāstəm

په غير مطلق شکل کې فشار د کلمې په ورستۍ ځپې /ə́m/ او په مطلق شکل کې فشار د کليمې په لومړۍ ځپه /kse-cə́/ باندې راغلی د څنبنه (/) فشار ښيي.

همدارنګه ددغې ډلې د متعدي فعلونو مطلق شکل له غير مطلق شکل څخه د و / wə- /مختاړي په راوړوسره توپيرکېدای شي خو يوازې په دې ډله کې هم دوه فعلونه / پرانيستل - راوستل / د ځپې د خج په بدلون سره مطلق شکل له غير مطلق شکل څخه توپيرکېږي.

غير مطلق	مطلق
ما احمد ليد /ə/	ما احمد و+ليد /ə/
تا ملالۍ ويست /له/	تا ملالۍ و+ ويست/له/
ده ډوډۍ خوړ /له/	ده ډوډۍ و+خوړ /له/
احمد کتاب لوست /ə/	احمد کتاب و+لوست/ə/
ما احمد کت /ə/	ما احمد و+ کت /ə/

د /پرانيستل -راوستل) فعلونو مطلق شکل له غير مطلق شکل څخه دځپې د فشار په بدلون سره کېږي. لکه

غيرمطلق	مطلق
ما ور پرانيست- /ə́/ pranistə́	ما ور پراَنيست prānist
ما احمد راوست- /ə́/ ráwastə́-	ما احمد راَوست ráwəst

په پوره ډول وينو چې ددغو دوو فعلونو مطلق شکل له غير مطلق شکل څخه د څپې د خج په بدلون سره توپير کېدای شي.

دا دی ددغې ډلې د متعدي فعلونو ګردان تـه پـه ناتېره او تـېره زمانـه کـې پاملرنه وکړئ.

(لوستل) په ناتېره زمانه کې ريښه =/لول/.

فاعل	مفعول	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
زه	کتاب	لول	ام əm	موږ	کتاب	لول	و /u/
ته	کتاب	لول	ې /e/	تاسي	کتاب	لول	ئ /əy/
دی،دا	کتاب	لول	ي /i/	دوی	کتاب	لول	ي /i/

(لوستل) په تېره زمانه کې ريښه = لوست.

فاعل	مفعول	دفعل ريښه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل ريښه	فعلي خاتمه
ما	کتاب	لوست	/ə/	موږ	کتابونه	لوست	ال /əl/
تا	کتاب	لوست	/ə/	تاسی	کتابونه	لوست	/əl/ال
ده	کتاب	لوست	/ə/	دوي (مذکر)	کتابونه	لوست	ال /əl/
دې	کتاب	لوست	/ə/	دوی (مونث)	کتابونه	لوست	لې /əle/

- په پوره ډول وينو چې د /لوستل/ ريښه په ناتېره زمانه کې د /لول/ په بڼه او په تېره زمانه کې د /لوست/ په بڼه څرګنده شوې ده څرنګه چې فعل متعدي دی په ناتېره زمانه کې دجملې د فاعل له پاره تصريف شوی دی چې فعلي خاتمې يې په ترتيب سره د /ام -و-ې-ئ-ي/ په بـڼه راغلي دي چې د نـاتېرې زمـانې صرفي روستاړي دي خو په تېره زمانه کې فعل د مفعول له پاره تصريف شوی دی.

(آغوستل) په ناتېره زمانه کې د فعل رينبه-آغوند.

فاعل	مفعول	دفعل رينبه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل رينبه	فعلي خاتمه
زه	کميس	آغوند	ام əm	موږ	کميسونه	آغوند	و /u/
ته	کميس	آغوند	ې /e/	تاسې	لمنې	آغوند	ئ /əy/
دی دا	کميس	اغوند	ي /i/	دوی	لمنې	آغوند	ي /i/

(آغوستل) په تېره زمانه کې د فعل رينبه = اغوست.

فاعل	مفعول	دفعل رينبه	فعلي خاتمه	فاعل	مفعول	دفعل رينبه	فعلي خاتمه
ما	کميس	آغوست	/ə/	موږ	کميسونه	آغوست	ل /əl/
تا	لمنه	آغوست	له /La/	تاسې	لمنې	آغوست	لې /le/
ده دې	کميس لمنه	آغوست آغوست	/ə/ə/ له /La/	دوی	کميسونه	آغوست	ل /əl/

په پورته ډول وينو چې فعل په ناتېره زمانه د فاعل له پاره تصريف شوی دی. دفعل رينبه په دغه زمانه کې د /اغوند/ په بڼه اوفعلي خاتمې په ترتيب سره د /ام - و - ې- ئ- ي/ په بڼه څرګندې شوې دي. خو په تېر مهال کې د فعل رينبه د /اغوست/ په بڼه څرنګه چې فعل متعدي دی د جملې د مفعول لپاره تصريف شوی دی او فعلي خاتمې يې د / ə - له- ال - لې/ په بڼه راغلي

دي . او وينو چې ددغې ډلې فعلونو ريښه په تېره او نا تېره زمانه کې تو پير لري.

زده کوونکوته دکار د اسانتيا لـه پاره ددغې ډلې فعلونو ريښې په ناتېره او تېره زمانه کې وړاندې کېږي.

	ناتېره زمانه	تېره زمانه
	ريښه	ريښه
(آلوتل)	الوز (ځ)	الوت
(اوښتل)	اوړ	اوښت
(سکښتل)	سکڼ	سکښت
(وژل)	وژن	وژ
(نيول)	نيس	نيو
(پېژندل)	پېژن	پېژند
(موندل)	موم	موند
(نښتل)	نښل	نښت
(آغوستل)	آغوند	آغوست
(راوستل)	راول	راوست
(ويشتل)	ول	ويشت
(خوړل)	خوړ (ر)	خوړ
(ويستل)	باس	ويست
(رابلل)	رابول	رابال
(ليدل)	وين	ليد

۷-۶-۳ - دريمه ډله فعلونه :

دغه فعلونه په درې ډلو وېشل کېږي.

۱- هغه ډله ترکيبي فعلونه چې يو توک يې نوم يا ستاينوم او دويمه برخه يې د /يدل- کېدل/ مرستيال فعل له يو ځای کولو څخه جوړ شوی دی يا په بل عبارت له يوه لغوي عنصر او کومکي فعل له يو ځای کېدو څخه منځ ته راغلی وي.

د کار دآسانتيا له پاره ددغو فعلونو بشپړ لست وړاندې کېږي.

خښېدل (کېدل)	سپينېدل	خبرېدل
خوږېدل ږږ	سرېدل	لېږېدل
ځپلېدل ږږ	کږېدل	ډېرېدل
ځيرېدل ږږ	جوړېدل	پټېدل
ټولېدل ږږ	جګېدل	تويېدل
روانېدل ږږ	ماتېدل	تيارېدل
سپکېدل ږږ	نيمېدل	تاوېدل
روښانېدل ږږ	ودانېدل	تنګېدل
زياتېدل ږږ	ورانېدل	خرابېدل
ړندېدل ږږ	يادېدل	کوزېدل
ژوبلېدل ږږ	پخېدل	غوړېدل
ويښېدل ږږ	تورېدل	ژېړېدل
وچېدل ږږ	پراخېدل	پوهېدل
تښتېدل ږږ	ډکېدل	ارزانېدل
پاکېدل ږږ	بېلېدل	بدلېدل
بندېدل ږږ	بلېدل	پارېدل
اوږدېدل ږږ	چاپېدل	اوچتېدل

دغه ډله فعلونه د مجهولو فعلونو په نامه یادېږي او دهغه تصریفي جوړښت له کبله په دوو برخو وېشل کېږي.

د الف ډلګی : هغه ډله ترکیبي فعلونه چې لومړی توك يې (نوم یا ستاینوم) –

په بېواك (کانسوننت) پای شوي وي د فعل د دویم عنصر (کمکی فعل) لومړی بېواك غږ په معیاري ډول دفعل له اصل څخه لوېږي او په تېره زمانه کې پرته له استمراري ماضي څخه. فعلي ماده يې د /شول/ په بڼه څرګندېږي.

مسندالیه	دفعل اصل	فعلي خاتمه	
ورځپانه	خپرېږ	ي	/i/
مړی	خنبېږ	ي	/i/
اوبه	روانېږ	ي	/i/
کار	سمېږ	ي	/i/
مسندالیه	دفعل ریښه	فعلي خاتمه	
کار	سپکېږ	ي	/i/
ښځه	خوږېږ	ي	/i/

په پورته ډول وينو چې ددغې ډلې فعلونو له اصل څخه د فعلي مادې (کومکي) لومړی بې‌واك غږ /ك/ په معیاري ډول لوېدلی دی یعنې زموږ په ورځنۍ محاوره کې همدا ډول دود لري او فعلي خاتمې يې دجملې د مسندالیه لپاره یوازې د شخص له پلوه سمون ښودلی دی.

له بله پلوه که چېرې دفعل له اصل څخه (کومکي فعل) لومړی بېواك غږ په معیاري ډول ونه غورځول شي هلته بیا د ترکیبي فعل لومړی عنصر (نوم یا ستاینوم دجملې له مبتداء (مندالیه) سره د ښځینه (مفرد او جمع) اونارینه (مفرد او جمع) له پلوه بشپړ مطابقت ښيي. لکه

مسندالیه	دترکیبي فعل لومړی عنصر (نوم یاستاینوم)	مرستیال فعل	فعلي خاتمه
ورځپانه	خپره	کېږ -	ي
ورځپاڼې	خپرې	کېږ -	ي
خبر	خپور	کېږ -	ي
خبرونه	خپاره /ə/	کېږ -	ي
ملالۍ	ړنده /a/	کېږ -	ي
ملالۍ او تور پیکۍ	ړندې /e/	کېږ -	ي
احمد	ړوند	کېږ -	ي
احمد اومحمود	ړانده	کېږ -	ي

له پورتنیو ځرګندونو څخه دا نتیجه لاس ته راځي : که چېرې د کومکي فعل له اصل څخه /ك/ په معیاري ډول و غورځول شي هلته بیا د ترکیبي فعل لومړی عنصر(نوم ستاینوم)دجملې له مبتداء (مسندالیه) لپاره د عدد اوجنس له پلوه سمون ښیي . او که چېرې د ترکیبي فعل له اصل څخه (کومکي) /ك/ ونه غورځول شي نو هلته بیا د ترکیبي فعل دواړه توکونه د جملې د مسندالیه له پاره په یوه بڼه اوړون مومي.

اوس راځو او ګورو چې ددغې ډلې ترکیبي فعلونو تصریف په تېره زمانه کې څه ځانګړتیاوې لري.

په تېره زمانه کې پرته له استمراي ماضي څخه ددغې ډلې فعلونو دویم عنصر (فعلي ماده) د (شول) مرستیال فعل په راوړوسره په لاندې توګه ګردانېږي.

استمراري ماضي	مطلقه ماضي
ورځپاڼه خپرېده /خپره – کېدله/	ورځپاڼه خپره شوه
ورځپاڼې خپرېدې /خپرې کېدلې/	ورځپاڼې خپرې شوې
کتاب خپرېده /خپور کېده/	کتاب خپور شو
کتابونه خپرېدل /خپاره /ə/ کېدل/	کتابونه خپاره /ə/ شول

په پورته ډول وينو چې په مطلقه ماضي کې دفعل دواړه برخې (لغوي عنصر او مرستيال فعل) د جملې د مسنداليه سره په بشپړه توګه سمون ښودلی دی. خو په اسمترارې ماضي کې د فعل دويم توك (فعلي ماده) د /کېد- يد/ په بڼه راځي که چېرې د فعل له اصل څخه / ك/ ونه غورځول شي نو دفعل دويم توك په منظمه توګه د جملې له مسنداليه سره مطابقت ښيي او که چېرې / ك/ په اختياري ډول وغورځول شي نوهلته بيا د فعل دواړه برخې د جملې د مسنداليه سره د جنس اوعدد له پلوه بشپړ سمون ښيي.د / ب / ډلګۍ :/هغه ډله ترکيبي فعلونه چې د ترکيبي فعل لومړی توك (لغوي عنصر په واول ختم شوی وي په ناتېره زمانه کې د فعلي مادې (کومکي فعل) لومړی بېواك غږ د فعل له اصل څخه هيڅکله نه لوېږي.

د کار داسانتيا له پاره ددغې ډلې فعلونو لست په لاندې ډول وړاندې کېږي.

پخلا کېدل	ساهوکېدل
لاهوکېدل	هوساکېدل
بوميا کېدل	ښايسته کېدل
پياده کېدل	شاته کېدل
ساده کېدل	خپه کېدل

د مطلب دښه وضاحت لپاره د دغو فعلونو څخه د څو فعلونو ګردان ته پاملرنه وکړئ.

پخلا کېدل ناتېره زمانه

زه پخلا کېږ + ام /əm/
ته پخلا کېږ+ي /e/
دی پخلا کېږ + ي /i/
دا پخلا کېږ+ ي /i/

موږ پخلا کېږ+ و /u/
تاسی پخلا کېږ+ئ /əy/
دوی پخلا کېږ+ ي /i/
دوی پخلا کېږ+ ي /i/

خپه کېدل

زه خپه کېږ+ ام
ته خپه کېږ+ي
دی خپه کېږ+ ي
دا خپه کېږ+ئ

موږ خپه کېږ+و
تاسی خپه کېږ+ئ
دوی خپه کېږ+ي
دوی خپه کېږ+ ي

نو په دې ډول وينو چې دغه ډله فعلونه د خپل مورفالوژيکي جوړښت له پلوه د فعل لومړی عنصر د جملې د مسندالیه سره هيڅ ډول سمون نه ښيي خو دويم توك (فعلي ماده) يې د جملې له مسندالیه سره د شخص او عدد له پلوه مطابقت ښيي.

اوس ګورو چې ددغې ډلې فعلونو اوړون (صرف) پـه تېرمـهال کـې څه ځانګړتياوې لري. دغه ډله فعلونه په تېره زمانه کې (پرته له استمراري ماضي) د /شول/ کومکي فعل په يو ځای کولو سره رغېدنه مومي او په منظمـه توګه د جملې له مسنداليه سره د شخص ، عدد او جنس له پلوه مطابقت ښيي. البتـه په استمراري ماضي کې د فعل دويم توك (کومکي فعل) د /کېد/ پـه بڼه ګردانېږي.

کومکي فعل شول

مطلقه ماضي

١- زه پخلا شوم-ام
٢- ته پخلا شوې- ې
٣- دی پخلا شو ø
دا پخلا شو - له

موږ پخلا شو-و
تاسي پخلا شو-ئ
دوی پخلا شو -ال
دوی پخلا شو -لې

کومکي فعل = کېدل
اسمتمراري ماضي

زه پخلا کېد-ام
موږ پخلا -کېد-و

ته پخلا کېد-ې　　　　تاسې پخلا کېد-ئ

دی پخلا کېد- /ö/　　　　دوی پخلا کېد-ال

دا پخلا کېد /له/　　　　دوی پخلا کېد-لې

په پورته ډول وينو چې د فعل دويم عنصر (کومکي فعل) دلومړي او دريم شخص په مورد کې د شخص او عدد له پلوه خو ددريم شخص په مورد کې د جنس له پلوه هم دجملې د مسندالیه سره مطابقت ښودلی دی.

۲- هغه ډله ترکيبي فعلونه چې يو توک نوم يا ستاينوم او بل توک يې د /کول/ کومکي فعل په يو ځای کولو سره رغېد نه موندلې ده.

دغه ډله فعلونه له نحوي پلوه د متعدي فعلونو ډله کې راځي او په تېره زمانه کې د فعل دويم عنصر (کومکي فعل) د /کړل/ په بڼه ګردانېږي. دغه ډله فعلونه په لاندې ډول دي:

کړول	خپرول	ډېرول	تودول
سړول	خپلول	لړول	ځايول
سپينول	خوړول	پخول	چاپول
ژوبلول	ښخول	يادول	اسانول
ړندول	بېلول	ورانول	اوارول
اوچتول	زياتول	پاکول	نيمول
روښانول	ارزانول	ماتول	اوږدول
رنګول	ډکول	جګول	بارول
سمول	تېښتول	جوړول	بلول
سپکول	پوهول	دمول	بوګنول
روانول	پراخول	خرابول	تورول
تولول	پټول	تاوانول	وينېول
تويول	تيارول	تنګول	تاوول

دغه ډله ترکيبي فعلونه هم په دوو لويشل کېږي.

الف ډلګۍ: دا هغه ډله ترکيبي فعلونه دي چې د ترکيبي فعل لومړی عنصر (لغوي) / نوم يا ستاينوم/ په بې واك غږ پای شوی وي. په ناتېره زمانه کې دفعل لومړی کانسوننت غږ / ك/ د فعل له اصل څخه په معياري ډول لوېږي او په تېره زمانه کې پرته له استمراري ماضي څخه فعلي ماده يې د / کړ/ په بڼه ګردانېږي.

دغه ډله فعلونه په نحوي لحاظ دمتعدي فعلونو په ډله کې راځي يعنې په تېره زمانه کې د جملې د مفعول له پاره تصريف کېږي.

لاندې بېلګو ته پاملرنه وکړئ.

ناتېره زمانه

دفعل ريښه (اصل)		فعلي خاتمه		دفعل اصل فعلي خاتمه
زه ورځپانه	خپرو	ام	موږ ورځپانه خپرو ـ	و
ته روځپانه	خپرو	ې	تاسې ورځپانه خپرو ـ	ئ
دی ورځپانه	خپرو	ي	دوی ورځپانه خپرو ـ	ي
دا ورځپانه	خپرو	ي	دا ورځپانه خپرو ـ	ي

اوس ګورو چې په تېره زمانه دغه فعل څه ځانګړتياوې لري.

تېره زمانه

دفعل اصل فعلي خاتمه			دفعل اصل	فعلي خاتمه
ما ورځپانه	خپره کړ	/له/	موږ مجله خپره کړ	له
تا کتاب	خپور کړ	و	تاسې کتابونه خپاره کړ	ال
ده کتابونه	خپاره کړ	ال	دوی مجلې خپرې کړ	لې
دې ورځپانې	خپرې کړ	لې	دوی مجله خپره کړ	له

په پورته ډول وينو چې د ترکيبي فعل دواړه برخې (لغوي عنصر) او (کومکي فعل) په منظمه توګه د جملې د مفعول له پاره د جنس او عدد له پلوه تصريف شوي دي لکه چې مخکې وويل شول په استمراري ماضي کې د فعل اصل دناتېرې زماني د اصل په شان ګردانېږي.

استمراري ماضي

ما ورځپانه	خپرو	/له/
تا کتاب	خپرو	/ە/
ده ورځپانې	خپرو	/لې/
دې کتابونه	خپرو	/ال/

په پورته ډول وينو چې د ترکيبي فعل دواړه برخې (لغوي عنصر) او (کومکي فعل) په منظمه توګه د جملې د مفعول له پاره د جنس او عدد له پلوه تصريف شوي دي لکه چې مخکې وويل شول په استمراري ماضي کې دفعل اصل دناتېرې زماني د اصل په شان ګردانېږي.

استمراري ماضي

ما ورځپانه	خپرو	/له/
تا کتاب	خپرو	/ە/
ده ورځپانې	خپرو	/لې/
دې کتابونه	خپرو	/ال/

په پورته ډول وينو چې د فعل اصل د /خپرو/ په بڼه لکه د ناتېرې زمانې په شان دی.

د ب ډلګې: هغه ډله ترکيبي فعلونه چې د فعل لغوي عنصر په خپلواک غږ پای شوي وي. په ناتېره زمانه کې دفعلي مادې (کومکي فعل) لومړی غږ د فعل له اصل څخه هيڅکله نه لوېږي. دغه فعلونه په لاندې ډول دي.

پخلاکول	هوساکول
لاهو کول	بومیاکول
ښایسته کول	خپه کول
شاته کول	

دادی د مطلب دښه څرګند تیاله پاره ددغې ډلې فعلونو د یو فعل ګردان ته پاملرنه وکړئ.

	دفعل اصل	فعلي خاتمه
زه احمد	پخلاکو	ام /əm/
ته احمد	پخلاکو	ې /e/
دی احمد	پخلاکو	ي /i/
موږ احمد	پخلاکو	و /u/
تاسې احمد	پخلاکو	ئ /əy/
دوی احمد	پخلاکو	ي /i/

په پورته ډول وینو چې فعل شخص او عددله پلوه دفاعل له پاره تصریف شوی دی.

اوس راځو په تېره زمانه کې ددغې ډلې فعلونو ګردان ته.

په تېره زمانه کې دفعل لغوي عنصر دمفعول له پاره په یو شان ګردانېږي خو د فعل دویم عنصر (کومکي فعل) پرته له استمراري ماضي څخه د /کړ/ په شکل ګردانېږي.

	تېره زمانه	
ما احمد	پخلا کړ	θ
تا ملالۍ	پخلا کړ	/له/
ده احمد او محمود	پخلا کړ	/ل/
دې احمداو محمود	پخلا کړ	/ل/
موږ ملالۍ اوتورپېکۍ	پخلا کړ	/لې/
تاسې احمد او محمود	پخلا کړ	/ل/

دوی ملالۍ	پخلا کړ	/له/
دوی احمد	پخلا کړ	θ

استمراري ماضي

ما احمد	پخلا کو	/ه/
تا ملالۍ	پخلا کو	/له/
موږ احمد او محمد	پخلا کو	/ال/
تاسي ملالۍ او تورپېکۍ	پخلا کو	/لې/
دوی احمد او محمود	پخلا کو	/ال/

په پورتـه ډول وینـو چـې پـه اسـتمراري مـاضي کـې دفعـل دويـم عنصر (کومکي فعل) د /کو/ په بڼه او د تېر مهال په نورو زمانوکې د /کړ/ په بڼه څرګند شوی دی . او په منظمه توګه د جنس او عدد له پلوه د جملې د مفعول له پاره تصریف شوی دی.

۳- هغه ډله ترکیبي فعلونه چې د فعل لومړی عنصر یو اصلي فعـل او دویم یې یو کومکي فعل /کېدل/ څخه رغېدنه موندلې وي . د کار داسانتیا له پاره ددغو فعلونو لست وړاندې کېږي او پاتې دې نه وي چې دغـه فعلونـه دمجهولو فعلونو په ډلو کې راځي.

تړل کېدل	څېړل کېدل	روزل کېدل
پلټل کېدل	رټل کېدل	تورل کېدل
لیکل کېدل	زبېښل کېدل	شیندل کېدل
وژل کېدل	پرانیستل کېدل	غندل کېدل
پلورل کېدل	ژغورل کېدل	لوستل کېدل
پالل کېدل	سپارل کېدل	اغوستل کېدل
لېږل کېدل	شړل کېدل	غوښتل کېدل
ښښل کېدل	کرل کېدل	ټومبل کېدل

مینځل کېدل	تاکل کېدل	وهل کېدل
څنبل کېدل	وړل کېدل	موندل کېدل
څټل کې‌دل	لوشل کېدل	اېیل کېدل

دا دې د مطلب د ښه څرګندتیا له پاره د دغې ډلې فعلونو ګردان تــه په ناتېره او تېره زمانه کې پاملرنه وکړئ.

نا تېره زمانه

زه (مفرد مونث)	تړله کېږ/ام /	əm
زه (مفرد مذکر)	تړل کېږ ـ/ام	əm
موږ (جمع مذکر)	تړل کېږ/و /	/ u/
موږ (جمع مونث)	تړلې کېږ ـ/و /	/ u/
ته (مفرد مونث)	تړله کېږ/ې /	/e/
ته (مفرد مذکر)	تړل کېږ/ې / .	/e /
تاسې (جمع مونث)	تړل کېږ /ئ/	əy
تاسې (جمع مذکر)	تړل کېږ/ئ /	əy
دی (مذکر مفرد)	تړل کېږ ـ/ي	/i/
دا (مفرد مونث)	تړل کېږ/ي /	/i/
دوی (جمع مونث)	تړله کېږ/ي /	i./
دوي (جمع مذکر)	تړل کېږي	/ i//

په پورته ډول وینو چې په ناتېره زمانه کې د فعل لومړی برخې /تړل/ د جنس او عدد له پلوه د فاعل له پاره تصریف شوې دي په دې ډول هلته چې مسندالیه مفرد مونث دی د /تړله/ په بڼه د جمع مونث له پاره د /تړلې/ خو د مفرد مذکر او جمع مذکر له پاره په یوه بڼه /تړل/ ګردان شوی دی ، همدا رنګه کومکي فعل د /کېږ/ په شکل او د ټولو لپاره په یو شان ګردان شوی دی او فعلي خاتمې د مسندالیه سره سمون لري.

اوس راځو په تېره زمانه کې د دغې ډلې فعلونو ګردان ته.

په تېره زمانه کې پرته له استمراري ماضي څخه د /شول/ کومکي فعل په

ملتیا گردانېږي. او د ناتېرې زماني پر خلاف د فعل دواړه برخې د جنس او عدد له پلوه د جملې د مسند الیه سره مطابقت ښیي خو د ترکیبي فعل لومړی عنصر د مفرد مذکر او جمع مذکر لپاره یو شان گردانېږي.

تېره زمانه

زه (مفرد مونث)	وتړله شو	-ام
زه (مفرد مذکر)	وتړل شو	-ام
موږ (جمع مذکر)	وتړل شو	و
تاسې (جمع مونث)	وتړلې شو	-ئ
دوی (جمع مذکر)	وتړل شو	-ل
دوی (جمع مونث)	وتړلې شو	-ې
دی (مفرد مذکر)	وتړل شو∅ (فعلي خاتمه صفر)	
دا (مفرد مونث)	وتړله شوه	/a/

په پورته ډول وینو چې د فعل لومړی عنصر / تړل/ دمفرد مونث او جمع مونث له پاره د تړ/له/ او /تړلې/ په بڼه او د مفرد او جمع مذکر لپاره په یو شان گردان شوی دی.

پاتې دې نه وي چې په استمراري ماضي کې /کومکي فعل / د / کېد/ په بڼه گردانېږي لکه:

استمراري:

زه (مفرد مونث)	تړله کېد+ام	/ƌm/
زه (مفرد مذکر)	تړل کېد+ام	/ƌm/
ته (مفرد مونث)	تړله کېد+ې	/e/
ته (مفرد مذکر)	تړل کېد+ې	/e/
موږ (جمع مذکر)	تړل کېد+ و	/u/
موږ (جمع مونث)	تړلې کېد+ و	/u/
تاسې (جمع مذکر)	تړل کېد+ئ	/ƌy/
تاسې (جمع مونث)	تړلې کېد+ ئ	/ƌy/

دی (مفرد مذکر) ترل کېد /ә/ /ә/ /ә/
دا (مفرد مونث) تړله کېد /a/ /a/ /a/
دوی (جمع مونث) تړلې کېدې اې/ /e/
دوی (جمع مذکر) تړل + ال /әl/

په پورته ډول وینو چې په استمراري ماضي کې د ترکیبي فعل لومړی عنصر د جنس او عدد له پلوه د منداليه له پاره تصریف شوي دي . د مفرد مونث او جمع مونث لپاره / له - لې/ په بڼه د مفرد مذکر او جمع مذکر لپاره د /ل/ په بڼه یعني په یو شان گردان شوي دی او د فعل دویم عنصر د ټولو له پاره په یو شان راغلی دی.

۷-۷- دفعل زمانه:

یو فعل د مهال (زمان) له پلوه په درې ډوله دی یا په بل عبارت د یوې پېښې پېښېدل او یا د یو حالت واقع کېدل په درو زمانو پورې اړه لري.

تېر مهال : د ونیا یا د یو فعل د پېښېدو څخه پخوا زمانه.

ناتېرمهال : (حال) دوینا یا د یو فعل د پېښېدو زمانه.

مستقبل مهال: دوینا او د پېښې د پېښېدو وروسته مهال.[1]

۷-۸- ماضي فعل: او د هغه ډولونه : ماضي فعل هغه فعل ته وایي چې د یو کار د کېدو او یا د یوې پېښې د پېښېدو څخه په تېر مهال کې بیان کوي . او په لاندې ډولو وېشل کېږي.

۱-۸-۷- مطلقه ماضي: په پښتو ژبه کې د مطلقې ماضي رغېدنه د فعل د دویمې ریښې څخه په دوو ډولو تر سره کېږي.

الف د / و - wә / دمختاړي په زیاتولو سره لکه :

ما و+ اغوست /ә/ ماو- خوړ /ә/ ما ولوست /ә/

---

[1] محمد حسین یمین ، دستور زبان دري کابل : پوهنتون کابل. انتشلرات پوهنتون کابل ۱۳۶۵ ص ۱۲۰ .

ماو- لوست /ə/ | ماوخوړ /ə/
تا و ـ اغوست /ə/ | تاوخوړ /ə/ | ماو-لیك /ə/
ده و-اغوست /ə/ | ده و - خوړ /ə/ | تاو لوست /ə/
دي و- اغوست /ə/ | دی وخوړ /ə/ | ده ولیك /ə/

ب : د ځپې د ځج په بدلون:

زه ځملاستم cəmlástəm

زه پرېوتم préwatəm

زه کښېناستم kṣénāsəm

په پورته مثالونو کې که څېرې فشار دفعل په لومړۍ ځپه باندې cəm pré kṣé راشي نو مطلقه ماضي ترې جوړېږي.

۲-۸-۷- استمراري ماضي:

چې د یو کار د کېدو او یا د یوې پېښې د پېښېدو استمرار او دوام په تېر مهال کې بیانوي . په پښتو ژبه کې د استمراري ماضي جوړښت د تېر مهال فعل له ریښې ځخه په لاندې ډول تر سره کېږي.

الف : ځپې د ځج په بدلون : څرنګه چې د مطلقې ماضي په رغښدنه کې ولیدل شول که څېرې دفعل په لومړۍ ځپه فشار یا ځج راوړل شي مطلقه ماضي ترې جوړېږي او که څېرې ځج دفعل وروستۍ ځپې ته انتقال شي نو استمراري ماضي فعل ترې جوړېږي

زه ځملاستم cəmlāstə́m

زه پرېوتم prewatə́m

زه کښېوتم kṣewatə́m

زه کښېناستم kṣenāstə́m

څرنګه چې د مطلقې ماضي په رغښدنه کې مو ولیدل چې مطلقه ماضي په متعدي فعلونو کې د / و- wə/ د مختاړي په زیاتولو سره رغښدنه مومي خو په استمراري ماضي کې د / و- wə/ مختاړي په لرې کولو سره جوړېږي یعنې د مطلقې ماضي / wə / مختاړی چې فعل د سر ځخه وغورځول شي استمراري ماضي جوړېږي. لکه :

ما کمیس اغوسته /ə/

تا ډوډۍ خوړه /ə/

ده لیك لیك /ə/

یادونه: په ځینو لازمي فعلونو کې هم د /wə/ د مختاري په زیاتولو سره مطلقه ماضي جوړېږي لکه زه ولاړم ، زه و + وتم ، ته و +وتې .

خو په ځینو فعلونو کې لکه تلل د فعل داصل په بدلون سره استمراري ماضي جوړېږي. لکه : زه تلم - ته تلې - دی ته - داتله.

۷-۸-۳- نږدې ماضي:

نږدې ماضي د چار او پېښنګ له مخې کله داسې وي چې په تېر مهال کې یو مخېز بشپړ شوې وي او یا دا چې تر اوسمهال یې څه اوږدوالی موندلی وي[۱]

دهغه د جوړولو طریقه په لاندې ډول ده.

مفعولي صفت + (یم ،یو ، دی ، یئ) مرستیال فعل .

زه تللی یم ، ته تللی یې، موږ تللي یو ، تاسې تللي یئ ، دی تللی دی ، داتللې ده ، دوی تللي دي ، مالیکلي دي ، ما لیکلې ده .

۷-۸-۴- لرې ماضي

بعید ماضي ته هغه وخت ضرورت پرېوځي چې وروسته ترې بشپړ تېر مهال (مطلقه ماضي) یاد قریبې ماضي فعل واقع شوی وي.

یا په بل عبارت بعید ه ماضي یو له دغو نورو ډولو تر استعمال وړُسته کارول کېږي. څه پر لسو بجو راغلې او زه پر نهو بجو راغلی وم ، یا هغه وخت چې ته راغلې زه راغلی وم . کله چې زه راغلم ملګري تللي وو.

د بعیدې ماضي فعل ګردان او رغښدنه په لاندې ډول ده (مفعولي صفت + د / ول/ مرستیال فعل) لکه :

---

(۱) مجاور احمد زیار : پښتو پښویه : کابل د لوړو زده کړو چاپخونه ، ۱۳۶۲ ، ۱۳۸ مخ

ما خوړلې وه
تا خوړلې وه
تا لیکلې و
موږ لیکلي وو
دوی تللي وو
تاسې تللي وئ

دبعید ې ماضي مجهول شکل په لاندې ډول درغږېدنه مومي.
(اصلي فعل+ شول+ ول)

ز ه خوړلی شوی وم
ته وهل شوی وې
تاسې رټل شوي وئ
خط لیکل شوی و، خطونه لیکل شوي وو.

۷-۸-۵- احتمالي یا التزامي ماضي:

هغه فعل ته وایي چې د هغه پېښېدل ګوماني اومشکوک وي یا په بل عبارت په تېره زمانه کې د یو کار پېښېدل په شك یا احتمال بیانوي.
په لاندې ډول جوړښت مومي (معفولي صفت+ به + ول) او هم د ګوندی او ښائي غوندې ګوماني ادات هم ورسره ملتیا مومي لکه: ما به خوړلی وی – تا به لیکلی وی – دی به تللي وی. ښایي ما به خوړلی وی، ښایي ما به لیکلي وی ښایي ده به لیدلی وی.

۷-۹- حال فعل: د معنی له پلوه د یو عمل واقع کېدل دی په اوسمهال کې حال فعل داوسمهال له اصل څخه جوړېږي اوفاعلي روستاړي دفعل په ریښه پورې نښلي.

زه	لول	ام	/əm/
زه	خور	ام	/əm/
زه	کښېن	ام	/əm/
زه	وه	ام	/əm/

ته	کښېنن	ې	/e/
ته	وهـ	ې	/e/
ته	لول	ې	/e/
ته	خور	ې	/e/
موږ	لول	و	/u/
موږ	خور	و	/u/
موږ	کښېن	و	/u/
موږ	وهـ	و	/u/
تاسې	لول	ئ	/ǝy/
تاسې	خور	ئ	/ǝy/
تاسې	کښېن	ئ	/ǝy/
تاسې	وهـ	ئ	/ǝy/
دوی	لول	ي	/i/
دوی	خور	ي	/i/
دی	کښېن	ي	/i/

۱۰-۷- مستقبل فعل : چې د یو کار کېدل په راتلونکي زمانه کې ۱ څرګندوي. فعل د اصل له پلوه د اوسمهال سره کوم توپیر نلري . او په پښتو ګرامرونوکې دغه دواړه (حال او مستقبل) د ناتېرې زمانې په نامه هم نومول شوي دي خود /ب/ ادات په زیاتولو سره له اوسمهال سره توپیر کېدای شي.

زه	به	وخور	ام
ته	به	وخور	ې
دی	به	ولیك	ي
دوی	به	ولول	ي
تاسې	به	واغوند	ئ

یادونه : مستقبل فعل د اوسمهال له ریښې څخه د /ب/ په زیاتولو رغېدنه مومي . خو یوازې د / تلل/ په ګړان ګې د/لاړ/مطلقې ماضي دریښې

په راوړو سره د/شول/مرستيال فعل په ملتيا گردانيږي. لکه :
زه به ولاړ شم ،ته به لاړ شې.
مستقبل فعل بشپړ اونابشپړ شکلونه لري.
بشپړ: وبه خورم ، وبه خورې ، مجهول : وبه خوړل شي، وبه وهل شي.
نابشپړ: خورم به ، خورو به ، مجهول شکل: خوړل کېږم به ، دريږم به.

۷-۱۱ امر فعل :

هغه فعل ته وايي چې د يو کار د سر ته رسولو خواهش وکړي اويا د يو عمل اود کار دسر ته رسولو امر وکړي يا په بل عبارت ديو کار سرته رسول د استد عا او خواهش په صورت وکړي او دوه صيغې لري، مفرد اوجمع:
امر فعل د حال له ريښې څخه رغېدنه مومي، د مطلق اواستمرار شکلونه لري دمفرد له پاره دفعل په ريښه پورې /a/ زياتيږي. لکه:
وخوره /a/ ، ليکه /a/، وخښه /a/، وتړه /a/،
خوره /a/، وليکه /a/،ځښه /a/،تړه /a/ .
د جمع له پاره د فعل په ريښه پورې د /ðy/ روستاړی زياتيږي . لکه :
وخورئ /ðy/ - وخورئ /ðy/ - وليکئ /ðy/ - ودريږئ /ðy/ -
خورئ /ðy/ - خورئ /ðy/ - ليکئ /ðy/ - دريږئ /ðy/
الف مطلق شکل: دفعل په سر کې د /و - wə/ مختاړی زياتيږي لکه :
وليکه /a/ وليکئ /ðy/ وخوره /ðy/ وخورئ /ðy/ ولوله a ولولئ ðy
ب استمراري شکل: دفعل په سر کې د /و - wə/ مختاړی په غورځولو سره رغېدنه مومي. لکه : خوره /a/ خورئ /ðy/ ليکه /a/ ليکئ /ðy/
په استمراري شکل کې وروستی څپه اوږ ده تلفظ کېږي.
يادونه: د/ تلل/ فعل دا مرصيغه د فعل ددويمې ريښې (مطلقې ماضي) څخه رغېدنه مومي . لاړ شه /a/ لاړ شئ ðy يا د کندهار په لهجه کې ولاړ شه /a/ ولاړ شئ /ðy/

۱۲-۷- د مضوعاتو لنډیز او پوښتنې :

۱ فعل په یوه زمانه کې د کار په کولو او یا د یوې پېښې په پېښېدو او یا د یو حالت په بیانولو دلالت کوي لکه : خورم ، خورو ، خورئ ،خوري، وخوړ ،خوړلي دی ، په پښتو ژبه کې یوفعل د شخص عدد او جنس له پلوه ګردانېږي.

۲ فعل د استعمال اومعنوي افادې له پلوه بېلابېلې بڼې اوشکلونه لري لکه اخباري صورت شرطي ،مکاني ، احتمالي ، مصدري او تمنايي صورت.

۳ په پښتو ژبه کې فعل دوه صيغې لري مجهول او معلوم ،معلوم په دې معنی چې فاعل يې معلوم وي، مجهول چې فاعل يې معلوم اوڅرګند نه وي اومفعول دمسندالیه په توګه راغلی وي.

۴ فعل د معنی له پلوه په دوه ډوله دی . لازمي او متعدي. لازمي فعل چې فعل یوازې په فاعل تمام شي او متعدي چې سربېره پر فاعل مفعول هم وغواړي ، د صرف له پلوه لازمي فعل په دواړو زمانوکې (په تېره اوناتېره) دفاعل سره سمون ښيي .متعدي فعل په تېر مهال کې د جملې دمفعول له پاره تصریف کېږي.

۵ په پښتو ژبه کې لکه دري غوندې په عمومي توګه فعلونه دوه ريښې (اصل) لري یوه دتېرې اوبله دناتېرې زمانې.

۶ په پښتو ژبه کې فعلونه دمور فولوژیکي جوړښت له پلوه په درې ډلو وېشل کېږي.

لومړې: هغه ډله فعلونه چې په تېره او ناتېره زمانه کې فعل خپل اصل نه بدلوي لکه تړل.

ګنډل ، ساتل، شمېرل، لیکل ، وهل .

دويمه ډله : دا ډله فعلونه په تېره اوناتېره زمانه کې خپل اصل بدلوي د لازمي اومتعدي دواړه شکلونه لري لکه الوتل (الوځ- الوت) ختل ، خېژ، خت/ اوښتل (اوړ- اوښت) .

متعدي ـ نیول (نیسـ نیو) خوړل (خور- خوړ) وېشل (ول- ویشت)

دريمه ډله: چې يو توك يې نوم يا ستا ينوم اوبل توك يې مرستيال فعل (كېدل- كول – شول) څخه رغېدنه موندلې وي لكه سپينېدل (سپين كېدل) تورېدل (توركېدل) جوړېدل (جوړكېدل) .

٧ يو فعل درې مهاله لري ، تېر مهال ، اوسمهال ، اوستر مهال(مستقبل) .

٨ تېر مهال فعل : چې په تېرمهال د يو كار د كېدو اويا د يوې پېښې د پېښېدو څخه بيان كوي لكه ما ډوډۍ وخوړه ، احمد كتاب ولوست. په لاندې بڼو مشل كېږي

مطلق، استمرار ،نږدې، لرې، احتمالي، ياالتزامي ،

٩ چې په اوسمهال كې د يو كار د كېدو او يا د يوې پېښې د پېښېدو څخه بيان كوي لكه: زه خورم، ته خورې، موږ خورو ، تاسې خورئ .

١٠ مستقبل فعل : چې په راتلونكي مهال كې د يو كار د كېدو يا ديوې پېښې د پېښېدو څخه بيان كوي . داوسمهال له ريښې څخه د / به/ په زياتولو رغېدنه مومي .زه به خورم . ته به خورې ، زه به كښېنم ، موږ به كښېنو.

١١ امر فعل : هغه فعل ته وايي چې د يو كار په سر ته رسولو امر وكړي . اويا د يو كار سر ته رسول داستدعا اوخواهش په صورت وكړي. او دوه صيغې لري. مفرد اوجمع . لكه وخوره ، وخورئ ، وځښه، وڅښئ ، وليكه وليكئ ، ووهه ، ووهئ ،ودرېږه ، ودرېږئ،

د مطلق او استمرار شكلونه لري .

مطلق شكل يې دفعل په سر كې د /wə/ مختاړى زياتېږي.لكه وليكه ،وليكئ ، ولوله ، ولولئ .

استمراري شكل يې: د /wə/ مختاړي په لرې كولو سره تر سره كېږي. خوره ، خورئ ، څښه ، څښئ ، ځه، ځئ ،ليكه ، ليكئ ، وهه ، وهئ ، تړه، تړئ، ګنډه ، ګنډئ .

پوښتنې :

١ فعل څه ته وايي؟

٢ دفعل ګرداني اړخونه کوم دي ؟ دمثاله سره يې واضح کړئ.

٣ فعل د بيان دطرز اوشکل له پلوه په څو ډوله دی ؟ د مثاله سره يې واضح کړئ.

۴ معلومه صيغه کومې ضيغې ته وايي ؟ د مثاله سره يې واضح کړئ.

۵ لازمي فعل څنګه تعريفولی شئ؟

۶ مجهوله صيغه د مثاله سره واضح کړئ؟

٧ مُتعدي فعل څه ډول فعل ته وايي ؟

٨ په پښتو ژبه کې دفعل د ريښې په باب څه پوهېږئ؟

٩ ترکيبي فعلونه په څو ډلو وېشل کېږي يو يو مثال ووایاست.

١٠ ماضي فعل اود هغه ډولونه ووایاست.

١١ حال فعل اود هغه ډولونه ووایاست؟

١٢ مستقبل فعل او حال فعل په ريښه کې توپير لري او که نه؟

١٣ امر فعل اود هغه ډولونه په لنډه توګه ووایاست.

نتیجه او پیشنهادونه

د پښتو فونولوژي- مورفولوژي تر سرلیك لاندې کتاب په اوو څپرکو کې لیکل شوی دی.

په لومړي څپرکي کې د ژبې په پیدایښت اودا چې ژبه څه راز پدیده ګڼل کېږي. خبرې شوې دي. همدارنګه د پښتو ژبې کې اصل اومنشاء په باره کې لنډ معلومات وړاندې شوي دي. همداراز په دې څپرکي کې دګرامرونوپه ډولونو او په تاریخي لحاظ دبېلا بېلو ګرامرونوپه میتودونو باندې رڼا اچول شوې ده.

په دویم څپرکي کې د پښتو فونولوژۍ ، فونیم اوګرافیم او د فونیمونو په ډولونو باندې په تفصیل سره خبرې شوې دي او د کلیمو په پای کې ددغو فونیمونو دمورفالوژیکي ارزښت په باره کې بحث شوېدی.

په دریم څپرکي کې په لنډه توګه دصرف په برخه ، د مورفیم جوړښت مورفیم او څپه ، مورفیم اوکلیمه توضیح اود نومړو نومونو (اصطلاح) تر منځ توپیرونه په ډاګه شوي دي.

په څلورم څپرکي کې دمورفیم په ډولونو او د هغې له جملې څخه په مقیدو یا تړلو مورفیمونو باندې بحث شوی دی . په جمله کې د دغو مورفیمونو موقعیتونه اوډنډې ښودل شوي دي چې دنوې ژبپوهنې د اصولو او معیارونو په اساس ډلبندي شوي دي چې دغه کار دپښتو ژبې په نورو لیکلو شوو ګرامرونو کې صرف تیوریکي بڼه لري نه تطبیقي.

په پنځم څپرکي کې په خپلواکو (غیر مقیدو) مورفیمونو باندې بحث شوی دی او دا د ... برخې احتواکوي.

لومړی: نومیزې (اسمي) ډلې (نوم، صفت، ضمیر، عدد) او ددغو خپلواکو مورفیمونو ګرواني اړخونه او حالتونه په تفصیل سره څېړل شوي دي او په دې برخه کې په څو محدودو مثالونو کې اکتفا نه ده شوې بلکې د ډېرو مثالونو په ورکولوسره د هغوی ځانګړتیاوې ،اوړوني حالتونه په ګوته شوي دي . چې د ژبې زده کوونکو ته بې ګټې نه دي . په لومړي سر کې او-ښتونکي نومونه دهغو د ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره ډلبندي شوي دي او په دویمه برخه کې ددغو اوښتونکو نومونوتصریفي بڼې چې په کوم وخت ،حالت اوموقعیت کې اوړي کره مثالونو په ورکولو سره روښانه شوي دي. همدارنګه له فاعل اومفعول سره دفعل مطابقت اودهغه تصریفي شکلونه ،ضمیر اوهغه ډولونه اود ضمایرو تصریفي بڼې چې په کوم حالت ، موقیعت اوزمان کې اوړون مومي . واضح شوي دي . د عدد اومعدو د مطابقت ددې څپرکي یوه بله موضوع ده چې د پښتو ژبې د ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره په دې برخه کې په تفصیل بحث شوی دی. د صفت اوموصوف مطابقت اودهغوی ګرداني حالتونه د کره مثالونو په ورکولو سره روښانه شوي دي.

په شپږم څپرکي کې یوه بله اهمه موضوع چې قید دی څېړل شوې ده.

څو کوم ټکی چې په دې برخه کې د پاملرنې وړ دی هغه دا ده چې قیدونه په دوو برخو وېشل شوي دي . یو برخه یې اصلي قیدونه چې نه تصریف کېدونکي دي لکه د زمان قید - د مکان قید او د حالت قید . او دویمه برخه یې تصریف کېدونکي قیدونه دي یا په بل عبارت هغه نومونه او صفتونه چې په څېرمه ډول په جمله کې د قید دنده پر ځای کوي ډلبندي شوي دي او دا هم په ډاګه شوې ده چې دغه قیدونه که څېرې په جمله کې د لازمي فعل سره

راشي د جملې د فاعل له پاره تصريفېږي. لکه :

زه (مذکر) تود تود ګرځم

زه (مونث) توده توده ګرځم

موږ (جمع مذکر) تاوده تاوده ګرځو

موږ (جمع مونث) تودې تودې ګرځو

همدارنګه ځينې نومونه او صفتونه چې په جمله کې په ځېرمه ډول د قيد وظيفه په غاړه لري که چېرې د متعدي فعل سره راشي د جملې د مفعول لپاره تصريف کېږي. لکه:

احمد ما (مفرد مذکر) پوخ پېژني

احمد ما (مفرد مونث) پخه پېژني

احمد موږ (جمع مذکر) پاخه پېژني

احمد موږ (جمع مونث) پخې پېژني

دلته پېژندل متعدي فعل دی.

په اووم ځپرکي کې د پښتو ژبې په فعلونو او د هغو په ګرداني اړخونو دفعل په اصل (ريښه) او دفعل په زمانو باندې په تفصيل سره بحث شوی دی.

په دغه برخه کې فعلونه د هغوی د اصل پر اساس ډلبندي شوي او په درو برخو وېشل شوي دي.

١ هغه ډله فعلونه چې په تېره او ناتېره زمانه کې خپل اصل نه بدلوي لکه: تړل، ګنډل، ليکل، وهل، او داسې نور.

٢ هغه ډله فعلونه چې په تېره او ناتېره زمانه کې خپل اصل (ريښه) بدلوي يعنې ريښه يې په نا تېره زمانه کې او په تېره زمانه کې خپله بڼه اړوي. لکه: اغوستل (اغوند- اغوست) لوستل (لول- لوست) اوبتل (اوړ. اوبت) نيول (نيس- نيو) او داسې نور.

۳-دریېمه ډله فعلونه : ترکیبي فعلونه دي چې یو توك یې (لغوي عنصر) نوم یا ستاینوم او بل توك یې د کېدل مرستیا ل فعل دی. چې دا ډله مجهول فعلونه دي . لکه : خپرېدل- خښېدل- ورانېدل(خپور کېدل – وران کېدل – ددغې دریېمې ډلې نور فعلونه چې لغوي عنصر یې نوم یا ستاینوم او فعلي عنصر یې د کول مرستیال فعل دی . لکه کړول – تودول- ړندول- (کوږ کول) (تود کول) (ړوند کول) . دا ډله فعلونه متعدي دي.

په نتیجه کې ویلی شم چې دفعلونو دغه تصنیف د هغوی دمورفالوژیکي جوړښتونو په اساس شوی دی او زده کوونکو ته د ژبې د زده کړې په وخت کې ډېرې اسانتیاوې برابروي . پاتې دې نه وي چې دغه کار هو ببخي نوی کار دی او دپښتو ژبې په نورو لیکلو شوو ګرامرونو کې نه لیدل کېږي . په دغه برخه کې د هرې ډلې فعلونو مورفالوژیکي ځانګړتیاوې په مثالونو کې ښودل شوې دي.

پېشنهادونه (وړاندیزونه)

د ژبپوهنې د نوو معیارونو په اساس د یو ې علمي با صلاحیته ډلې له خوا د پښتو ژبې د یو جامع ګرامر تدوین اولیکنه .

د پښتو ژبې د کلاسیکو میتودونو پر اساس د پښتو تاریخي ګرامر لیکنه. د سبك پېژندنې او تاریخي میتونو په تدریس کې له هغه څخه ګټه اخیستل.

د یوې علمي او باصلاحیته ډلې له خوا د پښتو ژبپوهنې د اصطلا حاتو د قاموس برابرول.

ددرسي موادو د چاپولو له پاره د پښتو تايپ برابرول او تهيه کول همدا مشکل اوس ددغه اثر په ليکنه کې چې پښتو تايپ نه و په لاس ولېکل شو.
ګله چې ليدل کيږي په اوسني کمپيوټري سيستم کې دپښتو خاصو ږغونو له پاره ګرافيمونه (توري) په نظر کې نه دي نيول شوي نو په دې برخه کې بايد د پښتو مروجه ګرافيمونه په کمپيوټري سيستم کې ځاى کړى شي.

مأخذ او مراجع

۱- الهام محمد رحيم : روش جديد در تحقيق زبان درى کابل : پوهنځي زبان و ادبيات ، مطبعه دولتي، ۱۳۴۹.

۲- تړي ، حبيب الله : له فاعل او مفعول سره د فعل او قيد مطابقت : کابل مجله ، ش ۱۱ ، پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۷

۳- خويشکي ، محمد صابر : مطابقونه کابل مجله ، ش ۴ کابل دعلومو اکاډمي دولتي مطبعه ، ۱۳۶۰

۴- دوست شينوارى : د افغانستان ژبې اوتوکمونه : کابل پښتو ټولنې دولتي مطبعه. ۱۳۵۴

۵- رښتين ،صديق الله : پښتو ګرامر کابل وزارت تعليم و تربيه . مطبعه معارف ۱۳۷۰

۶- زيار ـ مجاور احمد : پښتو پښويه : کابل : کابل پوهنتون ، دلوړو زده کړو چاپخونه. ۱۳۶۲

۷- زیور ، زرغونه : پښتو گرامر کابل پوهنتون ،مطبعه پوهنتون . ۱۳۶۰
۸- منصور ، اختیار ، معنی شناسي ، تهران : منوچهر ۱۳۴۸
۹- یمین محمد حسین : دستور زبان دری (بخش صرف) کابل : مطبعه پوهنتون ۱۳۶۵
۱۰- یمین ، محمد حسین . دستور زبان دری (بخش نحو) کابل مطبعه پوهنتون ، ۱۳۶۵

PROPERTY OF ACKU 9780

پښتو غږ پوهنه او ويپوهنه

استاد پوهنوال محمدصابر خويشکی دکابل پوهنتون دژبواو ادبياتو پوهنځي دپښتو څانگې يو پخوانی او تجربه کار استاد او له ۲۵ کلونو راهيسې په پښتو څانگه کې پر تدريس بوخت دی. استاد خويشکي دخپل تدريس په بهير کې زيات وخت پښتو فونولوژي ـ مورفولوژي (صرف) او پښتو (نحو) تدريس کړي دي. ده نه يوازې په پښتو څانگه بلکې د کابل پوهنتون د نورو پوهنځيو په ځينو څانگو کې چې پښتو په کې د يو مضمون په توگه تدريسېږي، اوږده موده تدريس کړی او د پښتو تدريس ښه پخه تجربه ورسره مل ده. داکتاب يې هم دپوهنوالۍ علمي رتبې تيسس او هم د همدغه ۲۵ کلن تدريس او گنو تجربو نچوړ دی چې پښتانه او ناپښتانه محصلين ترې ښه گټه اخيستلای شي.

په کتاب دې کې پښتو غږونه، دهغو شکلونه، ويپونه، ويپکي، تاړي، د نوم گردان اړخونه ، دنومونو ډېش، ضميرونه، قيدونه، فعلونه، دجنس او زمانې له مخې دفعل حالتونه، لنډه دا چې د(غږ)او (کلمې)، ټولې خواوې په ښه مفصله توگه څېړل شوې دي. داثر د پښتو (صرف) په برخه کې يو ښه منظم ، سيستماتيك او گټور کتاب دی، چې په ډېره روانه اوپسته ژبه ليکل شوی او هرچا ته ترې گټه اخيستنه شونې ده. هيله ده استاد پوهنوال محمدصابر خويشکی دپښتو گرامر دالړۍ دجملة پوهنې (نحو) تر برخې پورې ورسوې اودپښتو گرامرونو په لړۍ کې يوه بله غوره زياته وکړي.

په فرهنگي مينه

پوهنيار محمد اسمعيل يون

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني

VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۳۲)